





www.ketabton.com
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





دليکوال لنډه پيژندنه :

په کال ۱۳۲۸هـ ش کي د کندهار ولايت د پنجواني ولسوالی په مرکز کي زوکړی.لومړنی اومنځنی زده کړي ئي د شمس الدين کاکړ په منځنی ښوونځی کي تر سره کړي او په کال ۱۳۴۹هـ ش د دوولسم ټولګی څخه فارغ ، په ۱۳۵۰ هـ ش کي زنداني سوی اوپه ۱۳۵۲هـ ش کي د کندهار د عالي د ارالمعلمين څخه فارغ او وروسته د ښوونکي په حيث اوبيا په بيلا بيلو د نده ګمارل سوی چي د همدې دندو د اجراء په لړکي د وخت د واکداروسره د سياسي مخالفت په وجه څوځله اوزيات کلونه په زندان کي پاته سوی د ی .

د ليکوال نور چاپ سوي اثار:

۱ - " استبداد" په ۳۹۳ صفحو کي.
۲- " محبس او قفس" په ۴۵۰ صفحو کي.
۳- " د کندهار غبنتلي" په ۱۴۱ صفحو کي

New Stories
Lawung and Bung

Volume Tow
Writer: “Malım” Abdul Qayum

2015



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کتاب په اړه**

**دکتاب نوم:--------- نوي کيسې(لونګ او بنګ).**

**ليکوال:---------------------- معلم عبدالقوم**

**د کمپيوټرچاري:-------------------- ليکوال**

**دچاپ شميره:-------------------- زر ټوګه**

**چاپ ځاي: --رسالت چاپخونه(کندهار—کابل)**

**E:mail**

**Aqauym7@gmail.com**

**Nasirdec91@gmail.com**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوي کيسې

# د

# لونګ اوبنګ

## په دوه ټوکه کې

**ليکوال: معلم عبدالقيوم**

**۱۳۹۴هـ ل**



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهرست: صفحه


**۱ – مننه-------------------------------------- ۵---- ۶**
**۲ – د مقدمې پر ځای------------------------ ۱۰---۷**
**۳ – تقریظ--------------------------------۱۱------- ۱۵**
**۴ – لمړی توک، اوله کیسه" لونګ--------------۱۷--۳۰**
**۵ – د لونګ سُنتي---------------------------- ۳۱--- ۳۷**
**۶ – د وندې غوښنه--------------------------- ۳۹--- ۵۳**
**۷ – لونګ او ښوونځی------------------------- ۵۵--۷۳**
**۸ – د ښوونځی، ښوونکي او کتاب سوځنه---------۷۵- ۹۵**
**۹ – پلرنۍ مينه خوشي کول. ------------------- ۹۷ – ۱۱۷**
**۱۰ – د قوماندان ښځه ورکه سوه. ------------ ۱۱۹ - ۱۳۳**
**۱۱ –د تېښتېدلي ښځي برخلیک -------------- ۱۳۵ - ۱۳۸**
**۱۲ – کوتره. ------------------------------- ۱۳۹ - ۱۴۸**
**۱۳ – د کوترې او لونګ لیونی مینه------------۱۴۹—۱۶۷**
**۱۴ – د کوز دې په شپه د کوترې تېښته--------۱۶۹ - ۱۷۸**
**۱۵ – سهار د قوماندان په کورکي------------۱۷۹---—۱۸۶**
**۱۶ – لونګ سر تیر سو-----------------------۱۸۷---—۲۰۵**
**۱۷ – سمندر، سر تیر سوو-----------------۲۰۷---—۲۳۰**
**۱۸ – زخمي پيره دار و تېښتاوه-------------۲۳۱--—۲۵۵**
**دوهم ټول-------------------------------------------۱۵۷**
**۱۹ – د یوه کلیوال ژوند---------------------۲۵۹----۳۹۴**
**۲۰ – یوه ضمني خبرتیا----------------۳۹۵-------—۴۰۵**


**پای**



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

## مننه:

په سرکي غواړم له هغو ښاغلو او قدرمنو دوستانو څخه مننه وکړم چي زما دغه څو ليکلي جملې ئې تر چاپ کولو مخکي په خورا مينه سره و لوستې، دوی هر يوه جلا جلا زه دې ته هڅولی يم چي ليکلني ته دوام ورکړم. هم ئې د دې ليکنې د ښه والي او تکميلولو د پاره لار ښووني راته کړېدي. هغوی هر يوه:ښاغلي ډاکترصاحب "وطندار"، ښاغلي عبدالرحمن " بسام " صاحب ،ښاغلي پوهنمل حاجي محمد "نوزادي" صاحب، ښاغلی استاد عبدالرحمان "رحماني " صاحب ، دکابل پوهنتون مخکني استاد ښاغلي محمد شريف "هيواد دوست" صاحب، تکړه ليکوال او شاعر محمد عاريف "خزان " صاحب. پدې توګه ښاغلي عبدالقيوم "نورزي" صاحب څخه مننه چي هر وخت به ئې د تليفون دلاري زما د ليکنې په باب معلومات او وضاحت غوښتی، تر هغه وروسته به ئې په تفصيل سره خپل نظر راسره شريکوی. بلې ښاغلي "خزان " صاحب د دې ليکنې د ليک دود د درست والي په برخه کي ډېره خواري کړېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی ټولوڅخه د مننـي عـلاوه هریـوه تـه د ښـه ژونـد غوښتونکی یم.

چي را څخه پاته نسي دلته د خپلي میرمني دهمکاریو یاد کوم چي د ګډ ژوند له هغه لمړۍ ورځي څخه په هوښیارۍ اومړانه زما د څو څو ځله تبدیلیو ،بې کاریو ،څو ځلي زخمي کیدو، څوځله او په کلونو بندي ګیریوچي هرځل به مي دخلاصون اوژوندی پاته کیدو تمه نه وه، اوبیاڅوځلي فرار کیدو په داټولو سختو شپوکي ئې هیڅ وخت راته ونه ویل چي نوره ستړې یم.

بلکي خپله دمعلمی وظیفه ئې پر مخ وړل،زه ئې په محبسونو کي هم چا ته محتاج نه یم پرې ایښئ، او لویه خبره ئي لا دا چي اولادونه ئي ساتل،او مکتبونه ئې په لوستل.د خپلو څلوروو واړو اولادونو څخه ترحد زیات خوښ یم چي اوس ئې د ژوند کولو مناسب شرایط راته برابر کړي او هم مي د کتابونو د چاپ لګښت هر ځل ورکوي.خدای دي زما هر دوست ته همداسي اولادونه ورکړي.

په زیات درنښت!

عبدالقیوم



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مقدمې پرځای

دا به ډېر سخت كار وي ما او هر بل كس ته چي په يوه نا برابره ټولنه كي، هلته چي بيوزله ولسونه يي د خپل ژوند په هره برخه كي لكه: فكر،مذهب،سياست، حكومت، اقتصاد، كلتور او نور ... هر څه ئې، د پردو پرستو ټوپكوالو، مافيائي او جاسوسو كړيو تر سخت ظلم، وحشت او وحشيانه بيرېدونكي او زيا تيدونكي فشار لاندي په سختۍ نفس كاږي. په داسي پيچلو او مغلقو شرايطو كي راګير يو ليكوال به څنګه وكولاي سي، د ظالمانو له خوا د هغوی د غير انساني،غيري اسلامي او غير اخلاقي كړنود سرته رسولو څخه بشپړه پرده پورته او دهغوي څيرې ولسونو ته لڅي او بر بندي كړي؟

يا دي دهغوی"ناروا وي"د كاغذ پر مخ د ليكني په ښه تر خلګو پوري ورسولای سي.

په ټولنه كي لرو ډېر شمير ليكوال، چي هيله ئې ده كه وكولای سي د خپلو خلګو ذهنيتونه په واقعيت ويلو او ليكلو سره څه روښانه كړي، پدې هيله، كه دوی و كولای سي،خپل هيوادوال وپوهوي، چي څنګه هغوی په بې خبري كي د دښمنانو د دسيسو هميشه ښكار وې.

موږ افغانان په يوه غريبه او د علمه ليري پا ته ساتل سوې ټولنه كي ژوند لرو تر څو چي د پردو په مټ ولاړ



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خائين ،جاسوس او د خدايه نه بيرېدونکي ظالمان پر واک وي نو ليکوالو ته د حقيقتونو را لڅول ستونزمن کار دئ.

د زماني د ټګانو، جاسوسانو، ظالمانو، خاېنانو او وژونکو د مخه پرده پورته کول او د هغوي اصلي څيرې خلګو ته ښودل، هغه وخت ښه کيداى سي چي ولسونه وېښ وي. لا تر اوسه زموږ ليکوال مجبور دي په خپلو ليکنو کي د زماني د ټګانو نومونه مستعار وليکي، مخامخ ګوته چا ته نه سي نيولاى، د کيسې سيمه او ځاي نه سي ښوولاى. دا ټولي ستونزې د ليکوال مخې ته پرتې دي.

که څه چي زموږ په ټولنه کي له پخوا څخه هم زورواکو خپل ظلمونه د هيچا د سترګو څخه پټ نه تر سره کول. ځکه هغوى هيڅ بيره ئي د چا نه لرل، زورور او جابر د خپلو ظالمانه کړنو د توجيه کولو، عملي کولو او ځانو ته د برأت د پاره هغه وسله په لاس کي لرل اولري، چي هر وخت به ئې د هغي په مرسته د ټولني د پرمختګ لاره په اسانی سره بندوله.

د دوى د دې وسلې په وړاندي هيڅ بله "وسله " مقابله او سيالي نسي کولاى. يوازنۍ "وسله "چي د دوى د وسلې په وړاندي بايد و کارول سي هغه علم او پوهه ده چي ولسونه باندي سمبال سي، چي په خواشنی سره موږ داسي" وسله " لا تر اوسه هم په ولس کي نه ده وېشل سوې.لا مو ولسونه بې وسلې(بې زده کړو) دي.

په هغو بشري ټولنو کي چي اقتصادي او توليدي زېر بناوي ئې په څو اشخاصو او يا د ټولني په ځانګړو کړيو پوري تړلي وي؛ هلته په ژوند پوري تړلي ټولي مسلي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ټولنيزی، سياسی، مذهبي او کلتوری) د اقتصاد پر لور خپله ور لغړي او جوت د اقتصاد تر اغيزي لاندي وي.

پس د مظالمو او ظلمونو مخالف احساس لرونکي ليکوال هم د دغسي ټولني غړی دی. هغوی له دې کبله چي دوی هم ځانته ژوند او ټولنيزي اړيکي لري او دهغو تر اغيزي لاندي وي. دا چي ليکوال د ټولني د عادي انسانانو په نسبت د خپلي هغه لېږ او يا ډېري پوهي په برکت د ظالم په پټو او لوڅو موخونو چي د بيوزلو ولسونو سره ئې خائنين کوي پوهيږي. دوی د خپلي پوهي په اندازه تر عادي خلکو په ټولنه کي د بي عدالتيو څخه زيات ځوريږي. هغه پدې چي دا ئې درک کړې وي چي ظلمونه ظلمان کوي نه د خدای تعالی لخوا را باندي نازل ، پس د خپلي ځورېدني او د ظالم څخه د کرکي د څرګندوني وسيله ئې خپل قلم وي. په يوه شکل د شکلونو خپل زړونه خالي کوي.

څوک خپل نظريات د شعر په قالب کي د قلم تر څوکه راباسي او څوک ئې د نثر په شکل. ماهر اشخاص په ښکلو بيتو او پخو جملو کي خپله موخه را نغاړي او د خلګو تر غوږو ئې رسوي. ما په خپله دې ليکنه کي کوښښ کړې دئ د خپلي ټولني او ټوليز ژوند څخه يو عکس واخلم او تاسي ته ئې در وښيم چي زموږ پر ولس څه په څه چل تير سول اوڅه تيريږي دکمه دغه بدبختئ راځي او څوک ئې چاغوي. چي ورور دورور،زوی د پلار په وړاندي جنګيږي؟ په کيسوکي خيالي څه نسته واقعي پېښي دي. ماغوندي خلګ چي خپل مطلب ترتا سو پوري رسول غواړی، هرڅوک د خپل



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



توان په پيمانه يو څه ليکي، د ليکلو د پند او هنر کمزوري
به ئې لوستونکي ورته بخښي.
دنيک بخته راتلونکي ژوند خاوندان سئ!


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقریظ:

## د دوو کیسو په با ب:

هر انسان د خپل فکري وس په اندازه د یو نه یوه کمال او هنر خاوند وي. کولاي سي د ځان، ټولني او ان دا چي د نړۍ په اړه یو څه فکر وکړي.
د ښو او بدو څخه ئې په خپلو فکرونو کي د ښو او بدو پدیدو خاطرې واړوي او راواړوي او کله نا کله د ټولني او خپل ژوندانه ناخوالي یا په ویلو او یا هم په لیکلو کي په ډېر هنري شکل څرګند کړي.
نو ځکه کله همدا راز انسانان د خپلو خیالونو په بهیر کي په نوښتو ډکو لیکنو او څېړنو لاس پوري کوي. دا هغه انسانان دي چي نه یوائې د کمال او هنر خاوندان به وي. بلکي د کسبي کمالاتو تر څنګ ښښتن تعالي فطرتي او قدرتي وړتیا هم ور په برخه کړې وي. نو ځکه بیا همدا لیکوالان، ادیبان او پوهان دي چي د ټولني ناخوالو ته ځیر کیږي په انسان مین وي او د مظلومو انسانانو د ملاتړ په ترڅ کي په مبارزو، لیکنو او ویناوو پیل کوي، چي په ټولنه کي د نوښت او د یون سبب ګرځي.
یو له داسي انسانانو څخه پرته له مبالغي څخه ویلي شم چي پوخ علمي او ادبي لیکوال ښاغلي عبدالقیوم دی.
کله چي مي د لومړي ځل لپاره د ده له درو چاپ شوو اثارو څخه دوه چاپ شوي اثرونه "استبداد" او"د کندهارغښتلي نامیان" په نامه ولوستل، بیخي راته جوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه چي دی یو پوخ لیکوال دی او په خپله ټولنه کي یو پوخ سیاستوال هم.

لیکوال د خپلو لیکنو په بهیر کي د ټولني ټول رنځونه، کړاوونه او هر راز ناخوالي په خورا دقت او مهارت سره څرګندي کړي دي. خپله لیکوال هم په خپل ژوندانه کي له خورا سختو کړاوونو، ربړونو او ناخوالو سره مخامخ شوئ،خو خپلي مبارزې او حوصله مندی ته ئي دوام ور کړی دئ. وګورئ سراسر "استبداد" د لیکونو اثر ته؛ تاسي ته به هر څه په خپله څرګند شي.

کله چي ما ته د نوموړي دوست د یو بل اثر پاڼي " دوې کیسې" چي د دوو داستانونو پخه لیکنه ده، لاس ته راغلی، هغه راته وویل، چي دا به ولولې او یو څه به پرې ولیکې. د محترم لیکوال په دې خبره خوشاله شوم چي دا پاڼي ولولم، خو وارخطا په دې شوم چي د داسي پیاوړي لیکوال په لیکنه به زه کمزوری څه ولیکم. خو خیر، په لوستلو مې پیل وکړ. لوستلو ئې سخت له ځان سره یوړم، ځکه ډیر خوندور لیکل شوي و، او که رښتیا ووایم، هره پاڼه مې چي لوستله، ورسره جوخت مې اوښکي له سترګو بې اختیاره توییدې.

دومره ئې لیوال شوم چي درې ځله مې په مینه او وینه په شوق سره ولوست او که لنډه ئې کړم نو د لوستلو په ترڅ کي دغه لاندي څو ټکي چي زما په اند سره د داستان د پیاوړتیا او ادبي خوځښت په کي له ورایه ځلیږي، ولیکم:

۱. که چیرې وغواړو د داستانونو د لوستلو په ترڅ کي د دغه اثر د لیکوال، ادبي او د لیکنو هنري پیاوړتیا



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګنده او ثابته کړو نو ګورو چې خپله ليکوال د خپلو هنري ليکنو په هره کلمه او په هر توري خورا ټينګ تسلط او لاس برى لري او د داستان په کانفلکس"confelex" او غوټه خلاصولو کې دومره پياوړى تللى چي هر لوستونکى داسي له ځانه سره اخلي چي خامخا به ئي تر پايه په مينه سره لولي.

بله خبره دا چي ليکوال دومره په خپلو ليکنو پوخ او حاکم دى چي د ټولني او کليوالي ژوندانه لوړي او ژوري ئې او هر راز ناخوالي ئې د بيلو بيلو سياسي رژيمونو په لړ کي په خورا ادبي او هنري قوت سره څيړلي او هر څه ئې روښانه کړي دي.

۲. دغه ادبي اثر په خورا سليس او روانه توګه د خلګو په ژبه ليکل شوى چي لږ څيز پوهه کسان ئې هم ولولي، د داستان په موخه او مفهوم اوچته پوهيږي او سرئې پرې خلاصيږي چي ټولنه کي په تيره بيا زموږ په ټولنه کي څه بيلا بيلو ناخوالو او کړاونو تر چتر لاندي زموږ بيوزله ولس کړيږي او له منځه ځي.

۳. هر لوستونکى د داستان په لوستلو داسي فکر کوي چي دى پخپله د داستان غړى دى، چي دا د ليکني ادبي ځانګړتيا او قوت ښئي.

۴. داستان کي مبالغه بيخي نشته، هر څه رياليستکي بڼه لري او داسي ښکاري چي ليکوال په خپلو سترګو هر څه ليدلي او کټ مټ ئې په خپلو ليکنو کي په هنري چوکاټ کي ځاي ورکړى دى.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. ځنګه چې پورته ورته اشاره وشوه، داستان په غوځه توګه ریالستیکي اړخ لري او د ادبي ریالیزم له ښوونځی ځخه په علمي توګه برخمن دی.
۶. ځینې لوستونکي ښائي داسې فکر وکړي چې لیکوال یو کلیوالي لیکوال دی او هسې په کلیوالي کیسو بوخت شوی مګر زه په ډاګه وایم چې هنري او ادبي ځانګړتیا او پیاوړتیا په همدغي ټکي کې نغښتې، چې لیکوال په خپلو لیکنو کي دومره ماهر دی چې د یوه کلي استبداد او کړاونه او ناخوالي ئې داسې انځور کړي چې په ټول هیواد او ان دا چې په نړۍ کې ئې استبداد او استبدادي رژیمونو ته خوله ماتوونکی جواب ورکړی دی.
نو ځکه د لیکني ځانګړتیا په دې کې هم پرته ده چې داستان د ټولني په ژبه او خوږه لهجه په امانت دارۍ سره لیکل شوی.
۷. تر کومه وسه چې ما د محترم معلم صاحب عبدالقیوم خان دغه اثر چې دوو داستانونو کې نغښتی " دوې کیسې" "لونګ وبنګ" ولوستې، نه یوازې یو ادبي او هنري لیکنه ده بلکي که چیري د سینمایي هنرمندانو او فلم جوړونکو شخصیتونو لاس ته ولویږي او د فلم او سینما په هنر کې ځای ورکړي، خورا قوي سینمایي داستان به پرې جوړ شي، چې حتا هنرمندان به ئې د سینما او فلم په اسمان کې لکه ستوري وځلیږي.
په همدې ځاي خپلې خبرې لنډوم، ګران لوستونکي به ئې په خپله ولولِي چي دغه دوه داستانونه څومره انقلابي


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځښت او څومره په تولنه کي د بدلون يون په جوشيدو راولي.

نو زه په پاي کي د ښاغلي معلم صاحب عبدالقيوم د ليکنو ادبي نړۍ، نه يوازي ستايم او په دې لار کي د ده زيات برياليتوب او پياوړتيا غواړم، بلکي ترې هيله لرم چي تل خپل قلم همدا راز څغلنده او پياوړي وساتي او په خپلو ليکنو خپل لوستونکي په لوستولو بوخت کړي. دا احسان به ئې ابده تر ابده زموږ په غاړه وي.

په خورا درنښت

د کابل پوهنتون مخکني استاد،

محمد شريف" هيواد دوست"

6،12،2015 م



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوې کیسې

## لمړی ټوک

## اوله کیسه

### لونګ



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـوازې پنځـوس کالـه پخـوا وښـار تـه نـژدې د ډېـرو بيوزلو کورنيو پـه شان د لونـګ پلار اکبـر هم پـه يـوې غريبې کورنـۍ کـې د ژمـي پـه يـوه سړه او تيـاره شپه کـې چـې نـه څـراغ و، نـه دوا، نـه ډاکټـر و، نـه روغتـون؛ پـر سپيره ډاګ، لڅه مځکه، خړو خاورو له موره وزېږېدی.

اکبر د خپلي زوکړي لـه هغه لومړنـۍ ورځـې څخـه پـه لوږه او خواريو کې راګيرغټيدئ. د هيـواد د نـورو غريبـو انســانانو پــه ډول د ژونــد ســختيو، ســتونزو، خواريــو او نيستيو داسي وټکاوه، چي په وروسته کي د جوشي خښتي غوندي پوخ او کلک سو.

لا پوره غټ سوی هم نه و، چي پلار ئې ورتـه د يـوه بل تر ځان لا هم غريب سړی وړه لـور ورپـه نامـه کړه. اکبر او پلار ئې لا په ګډه، د ولـور يـوه ځنډه ادا کړې نـه وه چي په بلي پيښي واوښتل.

متل دی وائي چي ډبره د يتيم له سره نه چپيږي. دا دئ د اکبـر مـور او پـلار غبرګ د وبـا پـه کـال د وبـا نـاروغۍ


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووهل او مړه سول. اکبر یوازي او یتیم پاته سو. خسر ئې چې د اکبر د پلار رښتونی یار او اشنا و، ویی لیدل چې زوم ئې یتیم پاته سوی، هغه ئې خپل کور ته راووست، او خپله لور ئې بې له ولور اخیستلوڅخه ور واده کړه.

اکبر او ښځې ئې تر واده وروسته ډېر اولادونه وزېږول، مګر اولادونه ئې نه پاییدل.

په کلیوالو کې عام او مسلط ذهنیت داسې را جوړ و، د هغو بیوزله خلګو چې اولادونه به ئې نه پاېیدل، پر هغوی به یو بل زیاتي تور او تومت تړل کیدئ.

ویل کیده به چې پر دوی د رب قهر نازل سوی دئ؛ پر دوی د پټو بلاوو، پیریانو او خبیثه ارواوو اثر پروت دئ. دا ښځه او سړی پر درانه ځای ختلي دي... او داسې نور نور تورونه.

په کلیوالو کې د دغه ډول پاخه منفي ذهنیتونو اغیزې موجودي وي، چې اکبر او ښځه ئې مجبوره سول، د خپل اولاد د پایښت په هیله هره ورځ پر فرضو لمونځونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربیره نفلې لمونځونه هم وکړي. بیا به دواړه جوړه پر زیارتونو، تعویذګرو، سیدانو او پیرانو باندي هم ګرځیدل. هر چیري او د هر چا څخه به ئي دا یو خواست او یوه غوښتنه لرله:

- د اولاد د پایښت لـه پاره دعا، دم، چوف، تعویذونـه، څاښتونه، پلیتي او توبندونه.

د ټولو هغو مړو د قبرونو لـه سرو څخـه د خوردې اخیستل، د ډېرو هغو پیرانو دربارونو تـه پـه هیلـه ورتګ چي نومونه به ئي د خلګو په خولو کي وو، او خلکو به د هغو په باب داسي ویل:

- هغـه پلانـی پیر نـه دی! اه، د ده قربـان سم، د رب نازولئ دی، ټول پیریان ده مسخر او تابع کړي دي!

یا هغو پیرانو ته چي لوی لوی لنګرونه ئي چلیدل، لـه مځکي او اسمانه به خلګو ورتـه پیسـې، غوائې، پسونه، چرګان، اسان، اوښان او حتـا لـوړنـي د دروړو پـه نـوم ور وړلـې.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر او ښځي ته به ئې چي څه لاس ته ورتلل، ودغسي لویو پیرانو ته ور وړل.

د هغو په دربار کي به ئې شپې او ورځي تیرولې. په دربار کي به ئې د دربار کارونه سر ته رسول، څو د پیر ښه پاملرنه ځان ته را واړوي او خدای هم ځیني راضي سي.

بالاخره، په ډېرو بې ګټو ګرځیدو، راګرځیدو، دروړو او شکرانو ورکولو باندي ستړي، مفلس او ناهیلي سول. وروسته له ډېرو ستړیاوو، سرګردانیو او خواشینیو ګاللو په ولس کي د منل سوي متل سره سم ئې تن وتقدیر ته وسپاره. پر دې خبره په ظاهره دواړه سره سلا سول: "چي نه کوي حبیب، نو څه به وکي خوار طبیب." نور نو اکبر او ښځي ئې د فکر د خرابوالي، لوږو او کم خواکو خوړو او خواریو په سبب مایوسه او د میني، محبت، د میړه او ماینې تر منځ د اړیکو چلونه یو مخ هیره کړل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکبر بـه هلتـه نـورهم خولـک تنـګ سـو، چـي د خپل کور د باندي په کوڅه کي به ئې د خپلو تربرونو، خان، ملک، او پیر اولادونه لیدل چي هر یوه به سور او سپین مخ ناست و، او یا به ګرځیدل. او هر کال به ئې یو بل کوچنی هم زیږاوه.

د غریبـۍ او ډېرو نـورو خواریـو سـربیره، د اولاد نـه لرلو ئې له ژوند څخه زړه ور تور کړی و. په مغزو کـي چي ئې هر څه و، هغه به و، خو کله نا کله به ئې تر خوله یوه د خواشینۍ خبره هم را ووتله:

ـ خدایه! دا موږ بیوزله بنده ګان دي یوازي خواریو او غمو ته پیدا کړي یو؟

په دغه ډول ښځي چي ئې وخپل یو وزری ناروغ میړه ته کتل، ډېره زوکلیدله. سربیره پر هغه چي اولاد ئې نه لاره، د خپل راتلونکی ژوند څخه ئې وهم او بیره هم درلودل او د ځانه سره به ئې ګروم کاوه. هر وخت به د ځانه سره ګډه وه:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که خدای مه کړه، سبا مي د ا میړه نه وي، د میړه تربرونه او میراث خواره به زما سره څه وکي؟ ایا زما سره به هم داسي وکي لکه د "ببوګلي خاله" سره چي میراث خورو وکړل؟ یا، یا، زما خدایه! مه مي سر توره وه، که به سر توره کیږم، ما ته نو مرګ راکړه.

وخت ناوختـه خو بـه ئـي خپل سر، سر توركړ، او غبرګ لاسونه به ئي پورته كړل، اسمان ته به ئـي خوله ونیوله. هیڅوک نه پوهیدل چي هغې به لا څه ویل؟ خو یوه خبره ښکاره وه چي ښځه د اولاد په نه لرلو زوريده او ورځ تر بلي ئي خپل وزن بایلی او د بدن غوښه به ئـي توی او اوبه کیده.

د میړه او ماینې دواړو څخه خوب له سترګو الوتی و، شپه او ورځ په فکر او سودا کي وو. دوه دري کاله اکبر او ښځه ئي یو له بل څخه جلا بیدیدل.

یـوه ورځ سـهار وختـي چـي ښـځه لـه خوبـه را پورتـه سوه، ډیره خوشحاله ښکاریده .اکبر ولیدل چي ښځه ئـي نـن خوشـحاله ده، غوښـتل ئـي د خوشـحالی پـه سبب ئـي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه سي. هغه لا ښځه نه وه پوښتلې، چې ښځي خپل میړه ته داسي وویل:

- اه سړیه! واوره؛ یوه خبره درته کوم، ته به نو وائې چي څه خبره به وي؟ او یا بل ډول فکر و نه کې. که څه هم ما او تا خو ژبه کړې وه، چې نور به اولادونه نه زیږوو. مګر یو اولاد به پیدا کوو، هغه په دې چي برائې شپه، په خوب کي یوه نورانی سپین ږیري سړي داسي را ته وویل:

- د الله (ج) له درباره نا امیده نه سي، تا ته به لونګ درکړي او هغه به د خیره سره لوی سي.

د اکبر ښځي زیاته کړه:

- زه باور لرم چي دې نورانی سړي به رښتیا را ته ویلي وي. وګوره! که دا ځل په رښتیا الله (ج ) ما او تا ته زوی را کړئ، فکر دي وي چي هیر ئې نه کړي، هغه وخت چي ملا صاحب ئې په غوږ کي اذان ورکوي، نو سمدستي ورته ووایه چي د لونګ نوم پرې کښیږدي. هیر دي نه سي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې بیا پر اکبر تاکید وکړ:

ـ ګوره، هیر ئې نه کړې!

اکبر هم د سپیڅلی او کلکي عقیدې خاوند ؤ، د خپلي ښځي خبره ئې زړه ته تیره سوه او ټینګ باوري سو، چي خدای به زوی ورکړي.

کال داسي تیر سو، لکه یو ګړی. د ښځي زوی وسو. دا دئ وروسته له ډېرو کلونو له تیرېدو پس یو ځل بیا د اکبر د خوني پر بام سهار وختي درې نارې وسوې:

ـ د خدای له داده، د مړو له یاده، د اکبر زوی وسو!

دا درې نارې ټول کلي واورېدې. دا هیله خو د دوی پوره سوه. خدای (ج) دوی ته زوی ورکړی. سهار چي د نوي پیدا سوي هلک پلار اکبر خپل زوی په خپلو ډنګرو لاسونو په غیږه کي نیولی مسجد ته په دې نیت وروړئ، چي ملا صاحب به ئې په غوږ کي اذان ور وکي. خو ملا صاحب چي سهار تر اذان مخکي د اکبر د زوی د زیږېدو ناره اورېدلي وه، نو د اکبر په لیدو پوه سو، چي د مسجد پر لور ئې نوی پیدا سوی زوی را اخیستی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر بل څه ورسره نسته، مانا دا چي اکبر په خالي لاس ور روان دئ.

ملا خپل یوه چړي ته وربړغ کړه، ورته وئې ویل:

ـ هلکه ورسه، د "اکبرګي" د زوی په غوږ کي اذان ور وکړه.

اکبر چي د ملا صاحب سپکه لفظ "اکبرګي" واورېدی، خو څه ئې ونه ویل. چړي د هلک په غوږ کي آذان وکئ. که څه هم چي اکبر د ملا په کړو خپه سوی و، بیا هم د ملا پر خوا ورغلي، هغه ته ئې په عاجزانه او کمینی سره وویل:

ـ ملا صاحب، زما او د مور ئې د هلک دپاره د لونګ نوم خوښ دی، دغه نوم پر کښېږده.

خو ملا صاحب له دې کبله چي اکبر تش لاس ورغلی و، خپه و. هغه پر هلک باندي د نوم له ایښولو څخه انکار وکړ.

اکبر د ملا څخه پوښتنه وکړه چي ولي نوم نه باندي ږدې؟ ملا ورته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-اکبره! د هلک په غوږ کې خو مو اذان مفت درته وکړئ، بس دي نه دي؟ د نوم اینسولو میوه او شیرېني دي هم نه ده راوړې او بل د لونګ د نوم سره خو د "عبدال" او "محمد" توري نسته.

اکبر ته هغه د پښتو متلونه چي تربرو به ئي هر وخت په قصدي توګه د ده مخ ته تکرارول: "هستي کوي مستي"، "چې نه لري سړي، نه دي کورت خوري نه غوړي" وریاد سول. اکبر په پټه خوله او خپه زړه هلک کور ته راوړئ او د خپلي ښځي څخه ئي خبره پټه وساتله.

اکبر خپلي ښځي ته وویل:

- الحمدالله چي خدای پاک ما و تا ته زوی را کئ، نور نو زموږ پر مینه میراث خور پیدا سو، که زه مړ هم سم، په تا به مي فکر خراب نه وي او ستا پر لور به مي سترګي کږې نه وي.

اکبر خو هر څه په غوږو اورېدل او د سر په سترګو لیدل. کوم وخت چي به د کلي د یوه ماړه په کور کي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک وزېږېدئ، سهار وختي پر بام تر درو نارو سربیره، ځاښت به د ټوپکو ډزونه کیدل، خوشحالی به وي، ملا صاحب او چړیان به تر لمانځه وروسته د یو شمیر مړو سره یو ځا ی د خان سراچې ته ورتلل، د هلک په غوږ کي به ئې هلته اذان ور کاوه، ماښام به نشره ویل کیده، نوم به اېښول کیدی، مبارکی به وې، او شیرېنی به وېشل کیدې.

اکبر به وویل:

-ای زموږ خدایه! موږ دي په کومه ګناه او د چاه په ګناه نیولي یو؟

خیر، اکبر خپل زوی د لونګ په نوم ونوماوه. اکبر چي په دوو لاسونو یو څه ګټل، هغه ئې په خپل زوی لګول. لونګ د "لونګ" په شان د مور په مهربانه او پاکه غیږه کي او د خپل پلار تر سیوری لاندي راوغوړیدئ. له مور او پلار څخه ئې د ژوند کولو لومړي حرکات او ډولونه لکه خوړل، خبري کول، شفقت او مهربانی زده کړل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ په خاورو کې تر خاړپوڅو کولو وروسته، ولاړ سو او قدم ئې واخیست؛ یوه نیمه خبره ئې زده کړه. ژر د کوره کوڅې ته راووت. په خاورو او ختو کې د نورو کوچنیانو سره په ټولنه ورګډ سو؛ د همزولو سره په خبرو او لوبو بوخت سو. هغه په کوڅه کې داسې څه زده کړل چې په کور کې د هغو زده کړه ممکن نه و.

لونګ به لا شپږ کلن سوی نه و، چې د ژوندی پاته کیدو او نفقې پیدا کولو لپاره د کلیو د نورو بیوزلو کورنیو د ماشومانو په شان د خپل کمکي بشرۍ وس او ځواک سره برابر د خپل مور او پلار سره په خواریو کې بوخت سو.

لونګ تر پلار د خپلې موره سره ډېره مرسته کوله.

پدې ډول د مور ئې لاس په خلاص و. د لونګ پلار ناروغ او یو وزری سړی و. د اقتصادی کمزورتیا په وجه ئې ښځې ورسره ملا وتړله. هغې له هیڅ کاره مخ نه ګرځاوه. د لو او لور پر وخت، د کودو، د درمندونو پر وخت ئې په فصلونو او وډنوکې وږې ټولول.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرکس او ناکس د کورونو کارونه به ئې کول. اکبر به بیا هم په دې شکرونه کښل او ویل به ئې:

ـ د خدای تعالی مهرباني ده، د ښځې مې اوس د خپل زوی سره خوله پرې سول، هغه نوره له یوازیتوب او بې کسی راووته.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لونګ سُنتي

د لونګ پلار یوه ورځ د خپل زوی خوا ته تر کتلو وروسته، خپلې ښځې ته مخ ور وا ړاوه، او ورته وې وویل:

-ښځې! سږکال خو باید له خیره سره لونګ هم "سنت" کړو.

د ښځې هم د خپل خاوند خبره خوښه سوه. مګر د لونګ پلار ته ئې  داسي وویل:

-سړیه! ګوره، دغه یو زوی لرو، نه مو د هغه د نوم اېښولو ښادي جوړه کړه، نه مو پر زوی چا نشره وویل، نه مو د اووم شپه پر رونه کړل، نه مو غاښ کوچه وکړل او نه مې د سر کلی (سرخریلو)  ورځ په دریېو او خوشحالی ولمانځله.

اکبر وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وسه مونه لرل، که نه د چا نه خوښيږي چي په خپل زوی هوس او خوشحالي و نه کړي.

د اکبر ښځي وويل:

- پر سنتي به ئي نو د خيره سره يوه ښادي نيسو؛ زه خپل هوس په کوم. پرېږده چي د تربرو ئي زړونه وچوي. ته ئي وينی سږکال مي چرګه پوره ۱۲چرګوړي لري؛ ما خوويل چي ټول به خرڅ کم، ګوندي څو روپۍ په جوړي کړم، کله چي د بلوڅو کډي په دوبي د رېګه کلي ته راشيوه سي، د چرګي د چيچانو په پيسو به د هغو څخه يوه سيرلۍ رانيسم، زما او لونګ جان به سات په تير وي، که خدای کول بل کال به هغه لو بزه او لنګه سي، حلق به مو په لوند وي. خير، سنتي ئي تر هر څه ضرور ده، نو ټول د چرګي چيچيان به تر خپل لونګ جار کړم، ټول په يوه شپه حلالوم، د کلي ښځي خبروم، ټوله شپه ښي د ريبي پر وهم او خوشحالي په کوم.

په داسي وخت کي چي د اکبر ماينه (ښځه) ښه پر جوش راغلي وه، اکبر د ټوکي په ډول پر ور درسته کړه:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو، هو! ښه اواز خو دي هم دی!

ښځي ئې ورته وويل:

- تر خوله دي تيره يم، خود مي ښه اواز دی.

پر اکبر نه يوازي لونګ ګران و، د هغه مور هم پر ګرانه وه. هغه خپلي ښځي ته وويل:

- ښه خبره دي وکړه، خو ته لږ صبر وکړه چي منی را ورسيږي، دا کارونه د مني دي.

اکبر د دې خبري کولو سره په فکر کي ډوب سو.

اکبر پدې په فکر کي ډوب سو، چي د خپلي ښځي دغه هيله به څنګه پوره کوي؟ له لږ ځنډ وروسته ئې سر راپورته کړ او بيا ئې خپلي ښځي ته وويل:

-ښځي! ټول خلګ خپل زامن په مني ځکه سنت کوي چي له يوی خوا هوا سړه وي، له بلی خوا مچان هم کم وي. په سړه هوا کي زخم ژر وچيږي. بل، زه به پوښتنه کوم، کله چي په کلي کي ونډۍ کيدله، او باور مي راځي، ان شاءالله د مني په لومړيو شپو او ورځو کي به کليوال يوه ونډۍ وکړي. ولي چي کليوال ټول زړه خوږي سوي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. زه به د ونډۍ په ورځ پوره دوه چاريکه (چارکه) غوښه د ښادۍ جوړولو له پاره درته راوړم.

اکبر له لږ ځنډ وروسته زياته کړه:

- ته تلوار مه کوه، ستا د چرګي چيچيان لا اوس کوچني دي. هغه پرېږده چي څه نور غټ سي، بيا به هغه خرڅ کړو. يوازي مو په مخکي د هلک سنتی نه ده، اختر هم را روان دی. اختر ته به ستا د چرګي چيچيان ښه غټ سوي وي، هغه به په ښو پيسو خرڅ کړو. د چرګانو په پيسو به د اختر له پاره زوی ته يو کميس او پرتوګ وکړو. پخوا مو زوی ته يو کميس بسنه کوله، خو سږکال د خيره سره تر پخوا څه زيات ټوکر په کار دئ، ولي چي وهلک ته تر سنتی وروسته پرتوګ هم ضرور دئ.

اکبر بيا په خندا د يوې ټوکي په ډول خپلي ښځي ته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستا خو به ښه یاد وي، څه ښې وختي وې، کله چې زه هلک وم، مور همزولو تر ۱۵ او ۱۶کالو پوري پرتوګان نه لرل، کمیسونه مو اغوستل او بس.

ښځې ئې وویل:

- خاوري څه شي ښه وختونه و، لوی لوی سړی به واست لڅه... به ګر ځیده لاست.

اکبر وویل:

- څنګه ئې کوې ښځې، د زمانی سره به ځو.

اکبر بیا زیاته کړه:

- ښځې، بل سبب همدغه و، چې ما به تل درته ویل، لږ صبر وکړه، ځکه زما په دغه لږو پیسو خو د کمیس او پرتوګ دواړو د پاره ټوکر نه کیږی.

د لونګ مور د میره خبره ومنله، میره ته ئې وویل:

- سړیه، ته رښتیا وائې، زما دې خبري ته والله که هیڅ پام و، چې پرتوګ هم غوښت غواړي. ولچی (والله چې) لونګ جان به کله کله را ته ویل چې موري، په جومات کې مو یو شمیر هلکان اوس پرتوګونه لري.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وګوره ښځې! رښتیا یوه بله خبره رایاده سوه. دا استاد فیضو خو هم یو څه خشمږي غواړي، مفت خو هغه هم دا ستا د زوی "بلاګی" نه پرې کوي.

د لونګ مور پرته له ځنډه په خندا ځواب ورکړ:

- څه ورک سه، د شي د پرې کیدو پر وخت بیا زما زوی سو، ستا نه؟

تر ټوکي وروسته ښځي خپل میړه ته داسي اطمینان ورکړ:

- غم مه کوه، هر څه به سم سي. دا ځل چي هګۍ والا کلي ته را شوه کیږي، ما به ان شاء الله د خیره سره ۲۰ هګۍ دخپلو چرګو څخه ټولي کړي وي، هغه به خرڅي کړم، پوره لس روپۍ کیږي. د هغه تیر ځل هګیو لس روپۍ مي هم ټینګي ساتلي دي، یو څه پلمیټ او پټاسي چي مي د خلګو له کورونو راوړي دي، هغه به په ټوکر کي ورسره غوټه کړم، د استاد فیضو اکا مخ ته ئي کښیږده، تر یوه تومن (پخوا یو تومن شلو افغانیو ته ویل کیدل. لیکوال) خو به دا زوی مړی هم زیاتي نه غواړي؟



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لونګ پلار د خپلې ښځې د خبرو په اورېدو ډېر خوشحال سو.

*** *** ***

یوه ورځ مسجد ته چا داسې خبر راوړ:

- د جمعې په نیکه شپه د غرګي د کلي عبدالله لالا خپله وچه غوا وندۍ کوي.

د خبر په اورېدو سره د کلي مشر وویل:

- هر څوک چې په وندۍ کي ونډه غواړي، یوه ورځ د مخ دي ملا صاحب ته ووائي.

د لونګ پلار چې د همدغسې خبراورېدو ته ئې غوږ اړولی و، ژر ئې ملا صاحب ته وویل:

- زه هم غواړم په وندۍ کي ځان شریک کړم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ونډې غوبنه

دا دی د ونـډې ورځ را ورسـیدله؛ سـهار چـي اکبـر د مسجد څخه کور ته راغی، خپلي ښځي ته ئې وویلـي:
هله، ژر سه؛ هغه دوه شلي (څلویښت) افغانۍ چي مي پـه تا سـاتلي وې، نـن ئـې د لګښـت ورځ ده، هغه را کـه چي ځم، ونډې درته راوړم.

د دې خبري په اورېدو د لونګ مور په ډېره خوشـحالۍ سـره چسـته لـه خپلـه ځایـه ولاړه سـوه؛ د تـاخچي غـوټي اوغوړاشي ئې د خوني په منځ کي سره راچپه کړي، پـه ډېر مشکل ئې په غوټو کي هغه څو کاله مخکي ساتلي او د خپلي خولې سپمولي دوه شلګون نوټونه پیدا کړل.

اکبر نو د کلونو ذخیره او سپمولي پیسـي د ځانـه سره واخیستي، د غرګي د کلي پر لور ور روان سو. پـه هغـه کلي کي د اوبو د ژرندي مخ ته د غټ پنبیي توت سره پر ختینـه سوپه (تنګاچـه) ونـدې وال عبدالله لالا د څـو نـورو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړو سره پيتاوي ته ناست و. چړې او ساتول ئې مخ ته ايښي وه، غوا ئې هم را وستلې او هلته تړلې وه.

عبدالله لالا انتظار و، چي په ونډۍ شريک ټول کليوال راسي. دا دئ يو په ونډۍ شريک اکبر هم ځان ور ورساوه. اکبر وناستو کليوالو ته سلام وا چوه. تر سلام او روغبړ وروسته، اکبر وعبدالله لالا ته ورنژدې سو، په کراره اوعاجزانه توګه ئې هغه ته خواست وکئ. داسي چي که ده ته د دوه نيم شلو ونډه ورکړي. دوه شلي لرم او پاته۱۰ افغانۍ به ان شاء الله ځو ورځي وروسته درکړم.

عبدالله لالا چي د ځوانۍ څخه يو خرابات او مناجات سړی و، او اکبر هم په ځوانۍ کي وخت ناوخته د هغه سره کښينستی، کله کله چي به پره کي راغلی، نو خپل روڼ ئې تيراوه، يو دم مم ئې ورسره واهه. په هغه ياری ئې يو ځل بيا د اکبر وچ، ژړ مخ او ډنګرو لاسو ته وکتل، زړه ئې پر وسو. د اکبرخبره ئې ومنله، ورته وئې ويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اکبر جانه! پروا نه کوي، لس ګون دي ستا بلا واخلي ته خو مي پخوانی یار یې.

بیا نو اکبر په داډه زړه هلته خپل پټو تر ځان لاندي کړ او پر کښینستی. په وندې شریک سړي څوک راغلي او څوک را روان وو. ټول په وندې شریک ونډه وال او د مسجد ملا صاحب سره راجمع سول.

عبدالله لالا پر ملا صاحب ږغ وکئ:

- ملا صاحب، ان شاء الله څوک به نورپاته نه وي، ته لاس پورته کوه، دعا کوه.

ملا صاحب تر اعوذ بالله او بسم الله وروسته یو لنډ سورت ولوست، او دعا ئي وکړه. تر دعا وروسته، عبدالله لالا پر خپلو اولادو ږغ وکئ:

- هلکو! غوا را ولې.

زامنو ئي غوا راوستله.

نا ستو خلګو یو د بله سره ویل:

- د پلاني د لاس غوښه به ښه خوږه وي.

بل پر بل سړي لاس کښیښود.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو عبدالله وملا صاحب ته وويل:

-په چا غوا حلاله کړو؟

ملا صاحب خلګو ته مخ ور واړاوه، وئې ويل:

- زما په باور خپله دي عبدالله لالا غوا حلاله کړي، دی خپله ښه تقوا داره مسلمان دی.

خلګو د ملاصاحب په خبره کي څه ونه ويل. د غوا پښې ئې وتړلې، بيا ئې را چپه کړه، ځو تنو ټينګه ورته ونيوله. ملا صاحب، عبدالله لالا او ناستو ټولو الله اکبر، الله اکبر ووايه. عبدالله دغوا پر غاړه چاړه راکش کړه. ژر ژر ئې په ګډه سره پوست کړه. کوټې، پښې او ديلبند ئې هغو ته ورکړل، چي وختي ئې پيسې پرېکړي وې. د غوښو د سرجمع څخه ئې ملا صاحب ته دوې کټوي غوښه ورکړه. تر هغه وروسته د حلالې غوا پر څرمن، غوښې لس کوټې کښيښول سوې. له کليو راغلی خلک زړه خوړي (هغه سړی چي زيات وخت ئې غوښه نه وي خوړلې) وو. هر چا د اوموغوښو له ليدو خوند اخيست.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غوښو هره کوټه د لسو تومنو وه. اوس نو د هغو ونډه چې پنځه تومنه ده، هغو په دوو نفرو یوه کوټه د غوښو واخیستله. نوري برخي په څلورو، پنځو، شپږو او حتا اتو نفرو سره شریکي وې. خو د محمد اکبر ونډه د دوه نیم شلو افغانیو وه، چي په غریبو کي نو اکبر لوی برخه وال و.

ټول خلګ ورته حیران وه، چي اکبر څونه ډېره غوښه کور ته وړي؟ اکبر د یوې کوټې څلورمه برخه کور ته وړي. دا وخت لمر پرسر اوغرمه نژدې وه.

اکبرغوښه را واخیسته، ډېرخوشحاله و، لڅی پښې په مېنو کوڅو کي د کور پر خوا داسي په مینه را روان و، لکه یوه لویه فتحه چي ئې کړې وي. په فکرونو کي غرق دی، دځانه سره وائي: چي کور ته ورسم ښځه او لونګ جان به غوښه و ویني څونه به خوشحاله سي. د جمعي شپه خو لا لیري ده، ښځه به مي د غوښو څخه لغړ را وباسي او یوه خوندوره ښوروا به ځیني راپخه کړي. په دغه فکر او خوشحالی کي په یوه چارناله (د ځغاستي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ډول ته وائي چې تر تيز تللو تيز او د سياليو تر ځغستلو کراره وي) کور ته راورسيدی.

په لوی اواز ئي ښځي ته ناره کړه غوښي مي راوړې. دا د اکبر او د هغه د ښځي په ژوند کي لومړی ځل و، چې دونه زياتي غوښي د هغو کور ته راځي. ښځي ئي په ډېر هوس د غوښو څخه هډوکي را وايستل او پر نوره غوښه ئي مالګه وشندله. غوښي ئي په يوه وچه او کلکه لښته وپيېلي. بيا ئي د لرګی دوه سرونه په پړي وتړل، د خپلو خونو مخ ته د ولاړي وني په يو ښاخ را وځړولي.

د لغړو څخه ئي ماښام ته خوندوره ښوروا پخه کړه، دا نو د اکبر، ښځي او لونګ هغه د خوښی څخه ډکه شپه وه چې شاهانو به دغسي شپه نه وي ليدلی. تر ښورا خوړلو وروسته چي شپه پخه سوه، لونګ بيده سو، ښځي او ميړه په تياره کي دغه خبره سره اړوله او را اړوله، څو د خبرو په پای کي د لونګ مور خپل ميړه ته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– د جمعې مباره کې شپې ته استاد فیضو کاکا (هغه کلیوال ماهر سړی، چې هلکان ئې سُنت کول) را وغواړه، زه به سبا سهار لا ښځې خبري کړم.

تر دی خبري کولو او تصمیم وروسته دواړو سرونه کښیښول او بیده سول. د لونګ مور سبا اومه غرمه کي خپل لوی پرنی پر سر کي، له کوره ووته، چې کلیوالي ښځې خبري کړي، او هغوی ته ووایي، څو د جمعې شپې ته د دې کور ته ورسي او د لونګ د سُنتی په ښادئ کي ګډون ورسره وکړي. او له هغو کورو څخه چې دریې ئې لرلي، هغه هم راټولي کړې. ښځه تر ګونګو ماښام پوري په کورونو وګرځیده. هغه په ستړیا ځکه نه پوهیدله چې زیاته خوشحاله وه.

کله چې کورته راغله، خاوند ئې اکبرهم پر کور و. بیا سره کښینستل، مجلس ئې ډیر خوږ و، یو بل ته ئې وویل، چې دیګ، کاسې او هغه څه چې په کارېږي، د فلاني او یا فلاني له کوره به ئې را وړو. د شپې تر ناوخته ئې پر دغه خبرو خوند اخیستی او پام ئې په بله



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. هر سهار به ئې غوښي د خوني څخه دباندي د ونې په ښاخ ځړولې او د شپې به ئې په خونه کي ساتلې.

اکبر او ښځي ئې په کور کي لږ غلمين اوړه ساتلي و. خپله ئې اوربشينه پخوله او خوړله. څه وړي چي ئې ميده کړي او پاک کړي ئې لا نه و، لازمه ئې وګڼل چي د لونګ د سُنتي په ښادئ کي د هغو څخه کار واخلي. نو د لونګ پلار هغه څه وړي چي دوی د کودو د ټولولو پر وخت په پرديو وډونو کي ټول کړي و، هغه ئې وټکول، پاک ئې کړل، ټول ټال يو مشتک (يومټ)غنم سول.

د لونګ پلار تر ژرندي پوري د مشتک د وړلو له پاره کوم مردارهډئ (خر) نه لاره. مجبور سو، مشتک ئې په شا کړ او تر ژرندي ئې يووړ. ستړئ ستومانه په ژرنده کي د روڼ (نوبت) رسيدو تر وخته هلته د ژرندي په يو کونج کي په خاورو کي پرېووت. ناوخته د مشتک د اوړه کولو وار ور ورسيدئ. د مشتک تر اوړه کولو وروسته، اسيوان (اسيابوان) مزد اوشکردانه( يوئې" مزد" مزدوری غوښتئ او بل "شکرانه" شاګردانه)



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيرينى او په غربى رواج "تيپ". د اکبر د مشتک څخه چي څه اوړه د مزد په نوم او څه د شکرداني په نوم واخيستل سول، بار ئي نور هم سپک سو. هغه ئي را په شا کړل، مابنام ناوخته ستړى کور ته را ورسيدى.

د شپي ئي د ښځي سره مجلس ډېر خوږ و، دواړه ستړى وو؛ په خبرو، خبرو کي بيده سوى وو. د ښځي ئي غوښي د باندي په ونه ځړولي هيري سوي وي، چي دشپې ئې خوني ته راوړي. خو اکبر تر بيدېدو مخکي غوښي وليدلې او خوني ته ئي را دننه کړې.

ښځه چي سهار له خوبه راويښه سوه، تر لمانځه وروسته ئي د نغرى په کومي کي پر هغه برنى په پړوندو کي پټ کړي اور باندي څه پروړ، خاشي او خځلي واچولې؛ په پو، پو کولو تر زيات دود پورته کيدو وروسته اور بل سو. بيا ئي د اوبو ډکه توره ګډوه پر دېګدان کښېښوله. کله چي د ګډوې اوبه پر ايشيدو سوې، د جوارو اوړه ئي په خاورين کاشنه کي واخښل. پر اور ئي تبخى کښېښود، د جوارېنو اوړو څخه ئي ټکى



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړي کړي، یو مخ او بل مخ ئې پر تاوده تبخي باندي څه وچ وکړل. بیا ئې سوړسکان د اور په پړوندو کي ښخ کړل، چي په مغز پاخه سي.

میړه او مانديني بيا هغه د ښادئ جوړولو او خوشحالئ خبري سره پيل کړي. اکبر خپلي ماينې ته ويل:

- ترناري کولو وروسته به ځي، ديګ او کاسي به د همسایه ګانو له کورونو را ټولوي.

په همدې وخت کي یو دم د لونګ د مور ورپه یاد سول، چي غوښي خو ئې د شپي د باندي د یاده وتلي د ي. یو اه ئې تر خوله ووت، ژرئې وځغستل، تر خوني ووتله، ژرئې وني ته وکتل، وئې ليدل چي غوښه نه سته. د خفګانه ئې سر پر له وګرځيدئ، پر سترګو ئې توره شپه سوه، ډوبه پر مځکه ولوېده.

اکبر په خونه کي د ننه د هغې پر مځکه د لوېدو درز واورېدئ. اکبر چي له خوني راووت، ګوري ښځه ئې د سرای په غولي کي په خاورو کي لیته پیته بې حاله پرته ده. ژر ژر ئې له خاورو څخه خپله ښځه را پورته کړه


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پـه کش کش ئـې تـر خونـي ورسـوله. لونـګ د دوی پـه دربی له خوبـه را ویښ سو، وئـي لیدل چـي مـور ئـې بـې سده پرته ده، په ژړا سو.

اکبر پـه وارخطـائي کلـه لونـګ ارامـوی او کلـه د خپلـي ښـځي لاس، پښـو او تنـدي تـه لاس ور وړي. پـر مـخ ئـې اوبه ور وپاشی، بیا ئـې اوبو تـه دوه پلمیټه واچول، دغه خوږی اوبه ئې د ښځي په خوله کي ور واچولې، د خدای فضل و، ښځه پر سد راغله.

د کلمی تر ویلو د مخه ئې اوله خبره دا وه:

-غوښي، غوښي، غوښي!!!

میړه ئې ورته وویل:

– څه وائې، غوښي، غوښـي، څـه در پيښ سول؟ څـه وسول، څه وائې؟

ښځي بیا په نیولي او خفه اواز خبره درسته کړه:

- غوښي نه سته!

اکبر چي غوښي ئې په خونه کي مخته ځړېدلې، ورتـه وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هغه دې ځړېږي. ته بیده وي، ما د شپې غوښـي خوني ته راوړي.

د دې خبري په اوریدو سره ښځه کرا کرا، عادی حالت ته را وګرځیده. هغي چي غوښـي ولیدی، نو وروسته ئې کلمه و ویله او شکر ئې وکښی.

څه شیبه وروسته، اکبر ورته وویل:

- زه به د حا جي مراد لالا د کوره دیګ او کاسې درته راوړم. ته ولاړه سه، څه غلمين اوړه لانده که.

د لونګ مور ولاړه سوه، مګر لاسونه او پښـي ئې ریږدیدل. اکبر د اوړو کاشین، په ګډوه کي اوبه، د مالګي کنډولی او د مشتک څخه لږ غلمين اوړه ورته را نږدې کړل، او بیا ئې وویل:

- اول به دیګ او د ښوروا د پاره کاسې در ته راوړم. بیا نو ځم استاد فیضو کاکو به را ولم. ته لونګ خوشحاله ساته او خونه هم جارو که.

ښځي په ډېر مشکل سره اوړه لانده او واخښل، او د استاد فیضو اکا د راتګ له پاره ئې په خونه کي د کالو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځلو خاورين تشت سر چپه کښيښود، پر سر ئې نغاړکۍ ورهواره کړه. د دې له پاره چې لونګ د سُنتی پر وخت پر دغه لوړ ځای کښينوي.

اکبر ژر، ژر د همسايګانو څخه پيتلي او خورېني کاسي او کا شينان کور ته راوړل.

بيا اکبر له کوره ووت، او تر لږ وخت تيرولو وروسته، اکبر د استاد فيضو اکا سره جوړه کور ته راننووت. لونګ چي د خپل پلاره سره استاد فيضو اکا او بيا د هغه په بغل کي کوچنۍ د چړو، امبور او پلاس څخه ډکه درنه بغل ځولی وليدله، په ځان وپوهيدی. ځکه استاد فيضو کاکا دکلي ټول ماشومان پدې پيژانده چې هغه ماشومان سُنته وي.

خو پلار او مور ئې لونګ په چل چل سره هغې خوني ته وروړست، چي د ده د سنتی د ناستي ځای پکښې جوړ کړل سوی و. استا د فيضو اکا د کوچنيانو د تيرايستو او بوخت کيدو په لاره کي ډېرمهارت لاره .هغه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیده چې څنګه یو هلک تر خپل تاثیرلاندي را ولي فکر ئې بل لورته واړوي او ژر ئې سنت کړي.

استاد فیضو اکا نور لونګ ته وخت ورنه کی چې ځان دورې دورې کي، د سترګو په رپ کي ئې لونګ سنت کي او د کوره څخه ووتی.

*** *** ***

نور نو لونګ پروت و، یوه اړخ او بل اړخ ته ئې مور بالښتونه ورته کښیښول .سپین ټوکر ئې پر پښوهوار او هغه د بلا ګي پرې کړې ټوټه ئې په زرغون تار کي اچولي تر چپه پښه غوټه وه. پلار ئې اړخ ته ورته کښینوست، مچان ئې ځیني شړل. مور ئې سره له دې چې د سهار غوځاریدو څخه ئې بدن درد کوی، د ډوډۍ او ښوروا په پخولو اخته وه.

د ماښام تر لمانځه وروسته د کلي ښځې، نجوني او د لونګ همزولي هلکان د خپلو میندو سره د لونګ کور ته راغلل. ښځو خپلي دولاغي،برقي او پړوني له سرو ایسته کړل، کشرانو د لونګ د مور سره په ښه مینه او اخلاص



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډوډۍ پـه سـمولو او اچولـو کـي مرسـته وکـړه. تـر ډوډۍ خوړلـو وروسـته، ټولـو کليوالوښـځو، نجونـو او خپلــه د لونګ مور په شريکه سره د شپې تـر نيمـائي پـوري ګډي او جلا جلا بدلي وويلـي، هـم شـلـي وکـړي،هم اتنونـه. ټولـو شپه ئي په ډېره خوښۍ سره سبا کړه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لونګ او ښووني

دا هغه کال و چې د ثور د میاشتې پر اوومه نیټه ئې د افغانستان په حکومت کې یو خورا لوی او اساسي بدلون راغلی و. هغه دا چې د یوې ټنبلې او عیاشې کورنۍ واکدارۍ ته د تل لپاره د پای ټکی ایښول سوی و. ورسره سم وحکومت ته د سرکار د نوم پر ځای د خلقي حکومت نوم ورکړل سوی و. خو بیا هم په حکومت کې وظیفه لرونکو او کار کونکو سړو ته ولسي وګړو د سرکاري سړو خطاب کوئ.

د یوې ورځې تر پایه د هیواد په لیري پرتو سیمو کې هم خلګ خبر سول چې په مملکت کې پاچا ګښتي راغلې ده. د ډېرو خلګو په زړونو کې د پخوانیو کورنیو حکومتونو څخه د کرکې او بیري پر ځای د خلقي حکومت سره د نژدېوالي مینه را پیدا سوې وه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلګو مينــه دښـوونځۍ سـره راپيـدا سـول، ولسـونه باورمند سول، پدې چي پاچا نـه خداى دى او نـه د خداى سيورى. هر څه چي دى، هغـه خپلـه هم دغـه خلګ دي. د هيواد پـه هر ګوټ کـي د ښـوونځيو جوړولـو لـه پـاره علـم دوستو خلګو خپل حکومت ته وړيـا مځکـي پـه اختيـار کـي ورکړې، حکومت د ښوونځيو جوړولو تر څنګ هر ځـاى د ليک او لوست د زده کړي وړيا کورسونه پرانيستل.

خلګو د ليک لوست د زدکړو کورسونو ته مخه کړه؛ د هغو خلګو لـه جملـي څخـه يو تـن اکبرکـاکو هم و، چـي د خپل اخښي ملا نيک محمد په تشويق ئي د ليک او لوست د زده کولو په کورس کـي ځـان شـامل کړى و. او هم ئـي خپل يوازنى لونګ زوى وښوونځى ته ورکړ.

په عامو اوغريبو ولسونو کي وحکومت تـه د ورنـژدې کيدو روحيه را وخوټيدله، خـو پـه هيـواد کـي د دې بـدلون راتلو سره سم د هيواد دننـه د مفتخـورو او پـردو پرسـتو خلګو او لـه هيواده بهر ئي د افغان دښمنو قهر هم را وپارا وه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې وخت کې لونګ نژدې اته کاله عمر لاره.
هغه ته به خپل مور او پلار په ګډه دا خبره کوله:

ـ لونګ زويه، ښوونځی به ووايې، د خير سره به لوی سرکاري سړی در ځخه جوړسي، او که نورهيڅ هم نه سوې، نو معلم خو به سې. بيا به نو د خيره سره پيسې لرې پيسې، عزت به لرې، واده به درته وکړو. زموږ هيله خو همدا ته ئې، مور او پلار دي دواړه ستا بلا واخلي.

لونګ د خپل مور او پلار پدې مهربانه او له محبته ډک نصيحته زيات خوشحاليدئ. ماما ئې هم دغه يو خوره ئې لونګ درلود. پر ماما باندي خوره ئې زيات ګران وي. د اکبر کور ته نژدې يوه کليوالي ښوونځی پرانستل سوه، چې يو ښوونکی ئې درلود. ملا نيک محمد د لونګ ماما د مسجد د ملائې په څنګ کې ئې د ښوونکي وظيفه هم لرل، د دغي ښوونځی ښوونکی سو.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لونګ پلار اکبر د خپل اخښي ملا نیک محمد په مرسته چي په ملا نیکو سره مشهور و، سږکال نوی په ښوونځی کي چپراسي مقرر سو.

په وطن کي د نوي حکومت په منځ ته را تلو سره په خلګو کي د ښوونځی سره د کرکي پرځای مینه زیاته سوه. ډېرو خلګو چي پخوا خپل اولادونه ښوونځیو ته نه ورکول او یا به ئې په رشوتونو ورکولو له ښوونځیو اېستل، اوس ئې په ډېره مینه خپل اولادونه ښوونځیو ته شامل کړل.

دا دی لونګ په خیر وښوونځی ته روان سو. کلیوالي ښوونځی د دوی له کور څخه لږ لیري په یوه زاړه سرای کي چي د وي خوني ئې لرلې، پرانیستل سوی و.

ملا نیکو چي یو قراردادي ښوونکی و. وښوونځی ته نژدې د مسجد امامت هم کاوه، کلیوال دې ته را بلل چي خپل اولادونه په ښوونځی کي شامل کړي؛ ځکه هغه په ښوونځی کي شاګردانو ته سپاره، پښتو کتاب، حساب او


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خط پـه هغـه خپـل ډول چـي د ده زده وه، هلكـانو تـه ورښودل.

كله چي ښوونځی پيل سو، د لونګ پلار اكبر تـه هم تنخـوا چـالان سـوه. د هـري مياشـتي پـه وروسـتيو كـي ئـي ۵۵۰ افغـانۍ پخـه تنخـوا وه، چـي ۵ افغـانۍ تحويلـدار صاحب ګرځولې او۵۴۵ افغانۍ ئي كور ته را وړې.

مهم لا دا وه چي پـه دغـو شـپو او ورځـو كـي نـوی حكومـــت وحكـــومتي ســـړو، معلمينـــو، پـــوځي خلګو،مـاموريڼو، كـارګرو او اجيروتـه كوپـون وركـړی. (واده لرونكو ته د كابل په وزن اته مني كوپون او واده نه لرونكو ته څلور مني كوپون) د دې امرسره سم اكبرهم د اته سيره كوپون خاوند سو.

هغه پـه خپل تير ژونـد كـي هيڅ وخت پر يـو ځـای د غلمينو اوړو اته سيره كور تـه نـه و راوړي. اوس د هـري مياشتي په وروستيوكي اوړه، بوره، چای او غوړي كـور تـه را وړي. پـه كـور كـي ئـي اوړه، بـوره او غوړي پيدا



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سول، حلق ئې لوند سو. کورنی ژوند ئې لږ ښه سو. دی هم اوس یو سرکاري سړی و.

دا لومړی کال ئې په خیر او خوشحالۍ سره تیر کړ.

لونګ د ښوونځی لومړی کال په خوښی پای ته ورسوی، په ښه نمره بریالی سو .هغه خپله دريې میاشتنۍ رخصتي د مور او پلاره سره په کارونو کي مرسته کوله او په ځنګ کي ئې د خپل ماما ځخه د پښتو کتاب، حساب او خط لیکل زده کول او قران مجید ئې لوستۍ. نیکو ډېر ژر په لونګ د دوهم ټولګی پښتو کتاب او حساب ولوستل. لونګ اوس د دوهم ټولګۍ پیل کیدو ته ښه تیاري لرله.

رخصتي مخ په پای ته رسیدلو وه، په ځو ورځو کي چي بیا ښوونځی شروع کیدل، اکبر هم خوشحاله و. یوه ورځ معلم نیکو د لونګ پلار ته وویل:

- اکبره! د ښوونځی تر پرانستلو یوه هفته مخکي به د خیره سره ښوونځی ته ورسي، د ښوونځی د سرای پرغولي انګړ چي سره زوزان، چغک او زومی را شنه سوي دي، هغه به وکاږي، سرای به دخاشو ځخه ښه پاک


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې، د خونو دیوالونه به خړوبی کې، اوبیا به نو د سرای غولي ښه خیشت او او پاشي کړي.

ملا نیکو زیاته کړه:

- سر معلم صاحب تیره ورځ راته وویل، چي پدې شپو او ورځو کي مفتیش صاحب له ښاره راځي، ان شا الله موږ دواړه درځو، د ښوونځی سرای او خوني د نژدې ګورو.

لونګ چي هوښیار هلک و، د خپل پلار، مور او ماما هره خبره ئي تل په غوراوریده، نو ئي د ماما تر هدایت او خبرو وروسته خپل پلار ته وویل:

-بابا جانه، دا د ښوونځی جارو کول خو نو تر هغو پردیو مزدوریو لکه د غنمو لو کولو، د ویالو تر اشرونو، د دیوالونو تر وهلو، د خښتو تر مښلو، انګور کښیو، یوي کولو، غوبل کولو، ګوروانی او چوپانی ټولوڅخه ډېره اسانه نه دي؟ اکبر وخندل او وئي ویل:

-هو، زویه! دونه فرق لري لکه مځکه او اسمان.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لونګ ته چي د خبرو نوره موقع په لاس ورغلې وه، خپلو خبرو ته ئې ادامه ورکړه:

- پلار جانه! زما هغه ورځي چي تا به په سرو او تکنده غرمو کې د کور او کلي څخه لیري فصلونوکي لوونه کول، ما او مور به د غرمې ډوډۍ سوړسک او د خیروګي ماما د کور شلومبې په کونجۍ کي در وړلې، نه هیریږي.

د لونګ مور د خپل زوی خبره ونیوله او میړه ته ئې وویل:

- لونګ جان زوی مې شکر دی هوښیار هلک دی، هر څه ئې په یاد دي. رښتیا په هغه سره اهاړ کي چي لمر به پر سر یو نیزه را کښته ولاړ و، په هغه ګرمی کي به ما او لونګ لڅي پښې د کلي لیري فصلونو ته وتا ته اوبه او خواړه نه درووړل؟

زما غمجني خو پښې څه پخې او سختي وې، مګر د لونګ جان د پښو نازکي ګوتي به تڼاکي او د سرو زوزانو به ډکي سوې. زما هغه ستا په دوړو، ګرزونو او خاورو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړلی سپیره مخ، وچ حلق، تڼاکي او د سرو زوزانو ډک لاسونه او پښې، په لاره ( لور) پرې کړي ګوتي چې اکثر وخت به دي لاسونه په سرو وینو لړلي وو، څيري څيري کالي د ناړيو او لشو څخه ډکه ږیره له یاده نه دي وتلي. هغو کارونو ته ناروغ کړې.

اکبر وویل:

-هو، زموږ ژوند خو په هوکه او یا سوکه تیریدئ، ملا نیکو ته دی خدای خیر ورکړي چې سرکاري خواري ئې را پیدا کړه او زه ئې سرکاري نوکر کړم.

د لونګ مور بیا خبره واخیستله:

- زما زوی به د خیره سره ښوونځی خلاص کړي؛ خط خو شکر اوس لا ویلای سي، دی به هم سرکاري سړی سي، ښه پیسې به وګټي، زما او ستا ټول ارمانونه به را پوره کي.

لونګ چې په خپل زاړه لنډي تلتک کې پیچلی پروت و، د مور د خبرو په پای کي په ټوکه وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پلارجانه! د مور جاني ارمان خو رامعلوم دئ؛ مور مي هر وخت وائې، زوی به خپله مور د خيره سره حج ته بيائې، مور مي نور څه نه غواړي.

ټولـو وخنـدل زيـاتي د دې خبـري سـره لونـک پرېووت او بيده سو.

کله چي دوهم کال ښوونځی پيل سوه، اکبر څلور مياشتي تنخوا واخيستله، کوچنی اختر هم را نژدې سوی و. اکبر خان او لونګ ته د نويو کالو له پاره له بازار څخه د ګلبهار د فابريکی ټوکر او خپلي ښځي ته ئې څه د شولی او څه د چيټ ټوکر راوړی. د لونګ مور په ډېرهوس د خوني مخ ته نغاړکی هواره کړه، ستن، تار، انګشتانه او نوی ټوکران ئې را واخيستل، د اختر له پاره ئې په ډېره خوشحالي کالي ګنډل پيل کړل.

اکبر د خپلي ښځي سره ناست او د زړه خواله کوله:

- ښځي! خدای مو ناره وا وربډله، دغه خواری (چپراسيتوب) را ته پيدا سو، نيکو دي خدای په دواړو جهانو کي سر لوړی لري. که نه سږکال نو زه د بل د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواریو نه وم...نفس مي بند بند کیږی. او تر ټولو ښه ئي لا دا چي ته هم د وړو د ټولیدو او د پردو د کورونو له کارو بیغمه سوې، خدای یوه ګوله ډوډۍ دا دی په عزت را رسوي.

ښځي ئي ورته وویل:

- سړیه، هو، شکر دئ، خو ته مي زړه مه را اچوه هر وخت مه راته وایه چي ناروغه یم، ډېر کارونه په مخکي لرو، دا زوی مو سبا او بیګاه د خیره سره ځوان دی واده غواړي. لونګ پرما اوتا باندي دواده حق لري. مګر د پردی ښځي کور ته را وستل، خو مفتی نه دي.

اکبر وویل:

- ښځي! ته فکر مه کوه، هغه دئ نوي حکومت د دغه ناوړه دود لوړ ولور یا د ښځو خرڅول یو ناروا عمل وګانه او اعلان ئي کړل چي پر ښځه باندي تر شرعي ټاکل سوي مهر زیاتي پیسي اخستل جایز نه دي. خدای مهربان دی، نه دي د ي اوربدلي:

- چي شپه تر میان، خدای مهربان!



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لونګ مور وويل:

- هروخت چې مې د لونګ ناوى کور ته راوستله،هلته به د خيره سره ارامه سم.

- هو، رښتيا سړيه! تا خو قول کړى و،کله چې دغه مياشت تنخوا واخلم د خيره سره د څپلوغم به هم وخورم.

اکبر وويل:

هو، دا کار ان شاالله کوم.

درې سره ميږه، ښځه او زوى ئې لونګ سخت خوشحاله وو. دوى د اختر راتلو ته ورځې او شپې شميرلې. د دوى په ژوند کې به دا لومړى اختر وي، چې ټول نوې کالي او څپلۍ ولري. اکبر وويل:

- ښځې! څه شى به د پخيدو دپاره راوړم، د اختر په شپه به ئې پاخه کړو، سبا کال به موږ له کوره هم د اختر په سهار ماجت (مسجد) ته د خيره سره کاسه ور ووزى. څونه خوند به وکي، ځکه هر اختربه زه ماجت ته خالي لاس ورتلم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا نیک محمد چې د هرې میاشتې په وروستیو کې به د ولسوالۍ مرکز ته تلی او د هغه ځایه به ئې خپل او د اکبر میاشتنۍ تنخاګاني دځانه سره راوړې، مګر دا ځل کور ته خالي لاس راغی. ملا نیک محمد چې د شپې کور ته راورسیدی، ډېر خوا بدی و.ما ښام ئې اکبر او خپلې خور ته کیسه کول:

- یو ډېر بد خبر مې را وړی دی.

کبر او خور ئې ورته وویل:

- خدای دې خپل فضل وکړي.

دوی ورته غوږ سول او وې وویل:

- وایه، خدای دی خیر کړي، څه پیښنه ده؟

ملا نیکو په ډېر خفګان، وېري او وهم سره چې نارې ئې په حلق کې وچې وچې کیدې وویل:

- هیڅ مې باور نه راځي، اوس هم لکه خوب چې وینم، ولسوالۍ ته تللی وم، ښوونځی ته ورغلم، ما ویل که تحویلدار صاحب زما او ستا تنخاوې را وړې وي، اختر را روان دی ځینې را وا به ئې خلم، او را به ئې وړم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاكن هلته په بازار كي لا چوپه چوپتيا وه، د ولسوالی په ښوونځی کي يوازي د جانک زوی مست، مست ګرځيدی.

اکبر د ملا نيکو خبره ونيوله:

-هغه لنډی معلم يادوي؟

ملا نيکو ور زياته کړه:

- هو، هغه لنډی يادوم، يوازي هغه خوشحاله و، داسي پورته او کښته سرې سترګي ګرځيدئ. زه بيا د خدای نا خبره د پخوا په شان چي د هر معلم او مامور په ليدو به خوشحاليدم، له خندا څخه په ډکه خوله مي د ټولو سره روغبړونه کول، مګر ښوونکی را سره د تير په ډول نه وو، څو زه هم د تحويلدار صاحب په څنګ کي دا سي غلی کښينستم.

د تحويلدار صاحب څخه مي په کراره وپوښتل، چي تنخاګاني دي را وړي دي که نه؟ تحويلدارصاحب په هم داسي کراره پوه کړم چي تنخاګانی نسته. ملا صاحب



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره خرابه ده، ته وده چي خدای لا څه کوي. بيا ئې نور هم چي څوک ئې وانه وري په کراره را ته وويل:

- ملا صاب وه ئي واژه!!!

ما وويل:

- څوک؟ ...څوک ئې وواژه؟؟؟

تحويلدار صاحب پر خوله لاس را ونيوئ او زياته ئې کړه:

- فکر دي ونيسه...! د جانک زوی ته ئې اشاره وکړه، چي د ی در پوه نه سي. که دربانـدي اشـتباهي هم سـي ...هغه خو موږ او تاسي له پخوا څخه ښه پيژنو چي ... زوی نه و؟ اوس خو داسي معلوميږی چي دوی مړ کړی وي.

ـ ما هم په کراره ورته وويل: زاره دي را وچوله، څوک چا مړ کی؟

تحوېدارصاحب بيا په کراره ،کښته او خفه اواز را ته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ملا نیکو، ګوره؛ زه تا پیژنم او ته ما پیژنې... چې نه زه حزبی وم او نه ته.

- ما ور درسته کړه:هو، دا خو رښتیا ده. پدې خبرو نه پوهیږم، اوس خبره څه ده؟... ژر را ته وایه څه خبره ده؟ ده بیا را ته وویل:

- ملا نیکو! قسم په خدای که مي پرخوله راځي، داسي خفه یم لکه سکه پلار چي مي چا را وژلی وي.

بیا ئې په سترګو کي اوښکی ورغړېدې. خبره ئې وژول را وژول، خو اخر ئې وویل:

-هغه سپین ږیری نور، نور... ئې وواژه!!!

- زه بیا هم سم پوه نه سوم. ما هغه ته تسلي ورکړه چي خیردئ، د الله امر دی... اخر مي ورته وویل: څوک چا وواژه؟ هغه په ډېر تکلیف خبره پوره کړه او وي وویل:

-تره کی صاب!!!



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د دې خبرې په اورېدو سره زما هم د بدن وېښتان جګ ودرېدل، هکې حیران پاته سوم نور مې نه خولې کار کاوه نه لاسونو په ډېر مشکل مې ویل چا؟

تحویلدار صاحب سرکښته اچولی و د جانک زوی ته اشاره وکړه، او زیاته ئې کړه، په ظاهره داسې معلومیږي لکه دوی چې...!مګر دا چې د چا په ټونګ به دغه سپین ږیری وژل سوی وي، زه هم نه پوهیږم.

- زما تر سترګو هم بې اختیاره اوښکې را توی سوې، او له اداري راووتم، مخ د بازار پر خوا راغلم. حکومتي مامورین، سرتیري او حتا ټول خلګ خفه وو. په بازار کي خندا ورکه وه، یوه له ډاره ډکه فضا وه. زه هم له ډېره غمه پرسیدلی لکه ډک ټوپک په څه نه پوهیدم، بس دغسي سیده کور ته را روان سوم.

د دې خبر په اورېدو ټول غمګین سول. د لونګ چې په خبره سر خلاص سو، دی هم زیات خفه سو.

د لونګ مور سر سرتور کي، ښیرا ئي وکړه، ویی وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هرچا چي د غه سپین ږیری سړی وژلی وي، خدای دي هغه په خپل عذاب ګرفتار کړي!

ټولو وویل:

- امین، یا رب العلمین.

لږ وخت لا تیر نه و، چي د هیواد پر شمالی پولو سرې متجاوزي لښکري د میږیانو په شان زموږ پر خاوره را وبهیدلې او له هوا څخه را واورېدلې. زموږ په هیواد کي ټولي را غوړیدلي هیلي ئې مړي کړې، د وطن حالات پر بل مخ واوښتل. د افغانستان په خاوره کي د پردیو لیري او نژدې هیوادونو پټو او ښکاره لاسوهنو زور واخیست.

*****

اه! دا دئ په کلیو کي چک چکه خپره سوه چي ښوونځی ته تلل کفر دی. د لونګ مور او پلار چي دا ګونګوسي وا ورېدې، زړه نا زړه سول، چي لونګ ښوونځی ته واستوي که نه. بل دا چي اکبر نوی د تنخا



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوند سوی و؛ ملا نیک محمد او د لونګ مور د واړو د ملا نیک محمد څخه وپوښتل:

ـ ملا نیکو، ته خو ملا ئې، یو ځل خو په قران کې ښه پسې وګوره، که رښتیا ښوونځی ته تلل او ښوونځی لوستل کفر وي، چې لونګ ځیني را وباسو.

ملا نیکو دوی ته وویل:

ـ خوري او اخښې! ما خو سبق لږ ویلی دئ، تر اوسه مې نه دي لوستي چې ښوونځی ته تلل او یا سبق ویل دي کفر وي. هلته خو کم څه چې ما لوستي دي او ما ته مې استاذ راښولي دي، وائي چې علم پر نر او ښځه

ـ دواړو -فرض دئ، بیا هم زه به دا ځل ښه قران شریف پر وګورم.

په هر ډول چې وه، بخت د افغانانو سره یاری و نه کړه. تر اختر څو شپې مخکې چې، اکبر، لونګ او دلونګ مورلا اختر ته هوسیدل. د ژوند اول اختر ئې و چې پلار، مور او زوی درو سرو نوي کالي ورته لرل، خو وائي نه غوستل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونځی، ښوونکي او کتاب سوځنه

یوازي درې ورځي اختر ته پاته وې چي د لونګ د ښوونځی د سوځلو او د ښوونکې د وژلو دپاره وښوونځی ته یوه ډله مولونه وهلي څنور ټوپکوال سړي ورغله. شاګردان د خپل ښوونکي ملا نیک محمد سره ټول د ټوپکوالو په ورتلو او لیدو سره وارخطا سول.

شاګردان او ښوونکی صاحب ملا نیک محمد نه پوهیدل، چي خبره څه ده؟ په دې وخت کي اجل نیولی چپراسي اکبر چي د غیرحاضرو شاګردانو لیست ئې وړی و، هغه هم ښوونځی ته راورسیدئ. دوه غیرحاضر شاګردان ئې هم د ځان سره له کورونو او کوڅو څخه راوستي وو.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو د خدایه نـه بیرېدونکو ببـرو، بـد رنګـو څنورو، ږېرورو او ټوپکوالـو پـه تونـده او سپکه لهجـه ومعصـومو شاګردانو ته وویل:

- مکتبیـانو! ژر سـی، ژرسـی خپـل دبغـل ځولـو څخـه کتابونه، کتابچې، د قران سپارې، پنسلونه او د مشـق هغـه د لرګو تختې ټولې دباندې راوباسئ. دلته ئـې د سرای پـه منځ کې کوټه کړئ او په کوټو کې هواری سترنجی ګـانی هم د سرای په غولـې کې د کتابونو پر سر واچوئ.

دې ببـرو د لرګـو جـوړې دوې تـورې تختـې هـم مـاتې ماتې کړې او د کوټه کړو کتابونو دپاسـه ئـې کښیښـوولې. شاګردانو هغسې چې ټوپکوالو ورته ویل، هغسې کول.

وروسته د څنورو ټوپکوالو مشر چـې د خبـرو د لهجـې ئـې معلومیدلـه یـو پاکسـتانی بـې غیرتـه پښـتون افسـربه و، شاګردانو ته په پوچ ویلو پیل وکړ:

- سـکول (ښـوونځی) د کـافرو دپـاره دی، د مسـلمانو د سبق ویلو ځای جومات (مسجد) او مدرسه وې.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر چتیاتو ویلو وروسته ئې د معلم صاحب ملا نیک محمد او چپراسي اکبر لاسونه او پښې ور وتړل. بیا ئې هغوی د دغو کوټه کړو کتابونو او لرګو دپاسه کښینول؛ د قران مجید سپارو، کتابونو، کتابچو او نورو ته ئې اور ور وا چاوه.

دا د هر انسان په خاصه د معصومو زده کوونکو له پاره عجبه د وحشت، وهم او بیري څخه ډکه یوه صحنه وه.

کله چې بیوزلو معلم ملا نیک محمد او اکبر د سوځلو څخه د لیري رغښتلو هڅه کوله، نو د پاکستان نوکرو ټوپکوالو د الله اکبر په ویلو پر هغوی ډزې وکړې او د ټوپکو په مرمیوئې دغه دوه مظلوم، غریب، بې کسه، بیوسه مسلمانان ئې غلبیل، غلبیل کړل.

دوی مړه لانه وو، خو له حرکته ولوېدل. دا مسلمانان او پښتانه د اور په لمبو کې سوځیدل، ناري ئې پورته اسمان ته ختې، څو چې کرار کرار ئې اوازونه چوپ ،چوپ او ساوي ئې ووتې.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي د اور په سرو لمبو کي دا دوه غریب بې کسه او بې وسه افغانان لو لپه سول، ولاړو ټولو شاګردانو ژړل. له بیري ئې اندامونه څه چي زامی هم کړپیدی. په خپل راتلونکې نه پوهیدل، چي د دوی سره به دغه ظالم ولاړ ړېرور، څنور او ټوپکوال څه وکړي؟

نورو ټولو ولاړو شاګردانویوازي دځان ژغورلو په فکر کي وه او ژړل ئې ، مګر د لونګ خپل ځان هیرو، په زړه نو بیا بې له یوه الله څخه بل څوک څه پوهیدل، چي پر ده به لا څه تیرېدل. ولي چي د دې واړه معصوم افغان ماشوم مخ ته د هغه یوازنی مهربانه پلار او ګران ماما د ټوپکو د مرمیو تر ضربې لاندي او د سره اور په منځ کي په ژوندونی سوځیدل، ډېره دردونکې صحنه وه.

لونګ د خپل پلار او ماما له بدن څخه د وینو فوارې، د هغوی ترخولو را وتلی نارې، غلبلې، خیزونه، د هغوی پر بدنونو د اور بلي لمبي او د هغوی لپه تکی په وینو د سر په سترګو ټولي ولیدلې. ټوپکوالو د ملا نیک محمد او


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر پر نارو او بغارو خندل او چا به لا د الله اکبر، الله اکبر ناره هم کوله.

د دې صحنې ليدل د لونګ له پاره يو محشر و، محشر!!!

په دې ډول د پردو په لمسون او د پردو په خدمت کې ولاړو ټوپکيانو دلته خپله وظيفه سر ته ورسوله او له ښوونځی څخه ووتل.

ټوپکوالو د تلو پر وخت د سرای پر دروازه يو ليک وځړاوه او ولاړل. کله چې ټوپکوال د ښوونځی څخه ولاړل، بيرېدلي کوچني شاګردان چې هر يو به د ښوونځی له سرايه دباندې را وتل، شا و خوا به ئې وکتل، چې څوک نسته، نو په کوڅو، مځکو او باغونو کې د خپلو کورونو پر لور ځغستل. هيچا تر خپلو پښو لاندې مځکه نه ليدله.

مګر لونګ د خپل وړوکتوب او ماشومتوب سره سره د دې پر ځای چې د کور پر خوا وځغلي، هغه مخ پر اور ور وځغستل: د بابا، بابا، ماما، ماما ناری ئې وهلې. د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور په پرندو ورګډ سو، په خپلو نازکو خپرو ئې د سره اور له منځه د خپل پلار او ماما سوځلي اندامونه چې د اور لمبې لا په پوري وي، را ایستل.

پر درست جهان څوک نه وو، چي د لونګ مرستي ته ورغلي وای. د لونګ لاسونه، پښې او مخ په سرو پرندو، ایرو او دود تور د پلار او ماما سوځلي غوښي او سوځلو هډونو ئې لاسونه تناکي او په پروندو ئې پښې هم کباب سوې.

لونګ یوازي هغه هډونه له اوره را اېستل چي غوښې به ئې سوځل سوي وې. تر هغو ئې په تنهائي د خپل پلار او ماما سوځلي اندامونه له اوره را اېستل، څو چي مور ئې له کلي څخه کومک ته راورسیدل.

د لونګ مور په کلي کي د ورغلو او بیرېدلو شاګردانو له خولي دغه غم لړلي خبر واورېدی. د لونګ مور هغه چي په کورونو او کلي کي به د دې د ښایست، ستر او حیا نقلونه کیدل، د دې غمجن خبر په اورېدو سره ئې یو دم بې ارادې د پټ ساتلو او ستر پرده څیرې کړله.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه چي خلګو به افغانیت او د حیا د خوندیتوب وسیلي بللي، د لونګ مور دوی داسي مجبوره کړل چي هر څه ئي لیري وغورځول؛ د لیونی په شان ئي پوړنی په تخرګ کي ونیوه، لڅ مخ، سر توره، ببر سر او لڅي پښي په کوڅو کي مخ د ښوونځی پر خوا ئي داسي راځغستله، لکه یو وحشي زمری چي په ښکار پسي ځغلي.

د لونګ مور د سترګو په رپ کي د ښوونځی دروازې ته ځان ور ورساوه. د ښوونځی دروازه خلاصه ولاړه وه. هغه په دروازه همداسي ښوی وردننوتله. ګوري چي د سرای پرغولي د مور نازولی ښایسته لونګ د اور د تورو پړندو په دا منځ کي په دود او ایرو لړلی د پلار او ماما په سوځلو هډو پوري لکه سورکی میږی مښتی او د اور له منځه سوځلي هډونه را کښوي.

د لونګ مور هم سمه په پړوندو ورګډه سوه او په خپلو سرو لاسونو او سپینو مړوندونو ئي سوځلي هډونه له اوره را ایستل.پر زوی او مور باندي غم او درد دونه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلبه کړې وه، چې نه لونګ او نه يې مور د خپلو ځانونو د سوځلو پروا لرل.

د دواړو، مور او زوی اوښکې په سترګو کې وچې سوي وې، نور ئې اصلن په بدن کي اوبه نه وې. د زړه له سخت درد او خفګان له امله ئې د خپلو سوځلو لاسونو او پښو سوزش، او د تناکو درد هير وو. د لونګ غمجنې مور هم د خپل ميړه او ورور سوځلي هډونه په خپل پوړني کي را واخيستل. لونګ ئې تر لاس ونيوئ، د خپل کور پر خوا چې اوس نو کور ورته کورګی و، را رهي سوه.

د کلي سړي، ښځې او ماشومان له خپلو کورونو نه را وتل. داسي يو ماتم او چوپتيا خپره وه، تا به فکر کاوه، چې ټول کليوال مړه يا ئې له کلي کډه کړې ده او کلی د سړو او مړو خالي او تور دی. د لونګ مور په ساندو ساندو کي ويل:

- را وه ئې وژل ورور او پلار د لونګ جان
زه ئې کړم کونډه او يتيم سو زما جانان



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر تاسي د ي له غيبو او له اسمانه ټکه پرېوزي
چی اخته ټوله په وير سئ د خپلوانو او د ځان
را وه ئې وژل ورور او پلار د لونګ جان....

تردا وخته لا درست کليوال پر ځای وو. په کوڅه کي يوازي دوه سوځلي او دردېدلي يوه مظلومه ښځه او بل کوچنی بې ګناه ماشوم، هغو دواړه هم فقط يوازي يو ګړی مخکي مړوښی ښځه وه، اوس کونډه ده او زوی ئې لونګ دپلار د مهربانی څخه بې برخي يو يتيم سو، را روان وو.

په درست کلي هيڅ انسان او مسلمان نسته،مرسته څه چي يو د رحم ږغ پر وکړي. ميړه ئې د ښوونځی د چپراسي او ورور ئې يو ملا امام او د ښوونکي په ګناه وژل سوي وو.

دوی په دې نه پوهيدل چي څنګه، چيري او چا د دوی د وژلو فتوا ورکړی وه. او ولي د دوی د مرګ پچه را وختله، دا فتواګران څوک او تطبيق ګران څوک وه؟



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خبره چې څوک مسلمان او څوک کافر دی، هر څوک ښه پوهيږی؛ مگر جبر داسې ظالم دی چې هيڅوک نه پوهيږي؟

*** *** ***

اوس خو ټوپکوالو د ښوونځی په دروازه يو ليک ځړولی دیئ. هغوی په ليک کې ليکلی د ي:

- دا دوه خلک چې د کفری حکومت سړي وو، دشرعي محکمې په امر موږ ووژل. د شريعت په حکم او د الله پاک حد پر جاري کړ، د دوی جنازه او هديره څوک نسې کولای.

لونگ او مور ئې د خپلو دوستانو سوځلي هډونه خپل کورگي ته ورسول. د لونگ مور په خپلو ښځينه سوځلو، تڼاکو او زخمي لاسونو او لونگ په خپلو کوچنيو سوځلو او تناکو لاسونو په داسې حال کې چې تر کوچنيو او نازکو گوتو ئې وينی بهيدلې، په مځکه خيږي ولگولې، د سرای د غولي په منځ کې ئې مځکه وکيندله، د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو - نیک محمد او اکبر- هډونه ئې یو ځای په کښې پټ کړل.

په دې ژړ مازېګر پر ټول کلي یوه چوپتیا خپره وه؛ ټول وګړي لکه چې دمرګ په خوب بیده وي. سته داسې څوک چې غم نه پیژني، له غمو څخه بې خبره وي. ځیني واقیعتونه د با احساسه انسانانو په زړونو کې توفانونه را زیږوي.

لونګ او مور ئې له غمه ډک زړونه د قبر شا و خوا تاوېدل را تاوېدل. اما هغه وخت چې پر سوځلو هډونو ئې خاوري وا ړولې او د قبر خوله ئې پټه کړله، ور سره سم لونګ هم نور خپله خوله ونړل اوچوپ سو، هیڅ خبري ئې نه کولې. د لونګ مور په لوړ اواز وویل:

- وروره، په تا او اکبر څه وسول؟ تاسې څه کړي وو؟ ولې خبري نه کوي؟ ای بې وفا دنیا،.. ای د خدای ظالمانودا په موږ مو څه وکړل؟

مور او زوی دواړو شپه د پټو کړو هډو سره په ژړا تیره کړه. لونګ دخپل پلار پر قبر پر هغه لنده خاوره پړ



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخـې پـروت و، د ډېـرې ژړا څخـه سترې او خـوب وړی و. مګر مور ئې هلته په ژړا شپه رونه کړل. سهار ګورې چې لمر د پخوا په شان لکه نورې ورځې چې به پر وخت راخوت، په هغه ډول ئې بې پروا خپله رڼا خپره او کرار کرار مخ پر لوړه خوت. د لونګ مور حیرانه وه، چې لمر ولې زموږ په غم غمجن نه دی. ولې ئې زموږ په شان مخ تور نه دی. هغې لمر ته ډېر وخت کتل وکتل؛ بیا ئې لمرته په اشاره وویل:

ـ ستا دې د ا سورمخ داسې تک تور سي لکه زما د میړه او ورور چې اور ور تورکړله هډونه.

د لونګ مور بیا خپل زوی لونګ په غیږ کې ټینګ ونیوئ، پر مخ ئې مچ کی، په خپله لمن ئې د لونګ د باړخوګانو څخه خاورې او ختې لیرې کړې. د لونګ د لاسونو او پښو تناکو ته به ئې و کتل چې وینې ځینې را بهیدې نو په کړیږو، کړیږو به ئې وژړل.

بیا ئې لونګ ته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ای زما د زړه سره! ای زما د سترګو توره! اوس نو یو ته ئې چي زما د سر تاج به یې! زه پردې په غم لړلي لوی او ارت جهان کي پرته له تا بل څوک نه لرم. او ته بې له ما بل څوک نه لرې. ته خو را سره خبري کوه.

-ته ولي چوپ سوې؟

-زما ښخه مرور سوی ئې؟

مور ئې زیاته کړه:

- زویکه! زه ستا مور وم، سر له دغه ګړیه ستا پلارهم سوم. زه به ستا ټولي هیلي پوره کوم.

لونګ لکه چي د مور خبري نه اورېدي. داسي ډوب تللی و. هغه یوازي دا یوه خبره وروسته تر اوږده نفس اخیستلوتکرارولـه:

- بابا، ماما!

مور او زوی کری ورځ او دغه شپه ټوله د سوځلو او ښخ کړو هډونو سره په ژړا سهار کړه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکبر او کورنۍ څخه ئې هغه د اختر دپاره راوړی نکریزي، د اختر میوه او نوی کالي، هر څه هلته پر ځای پاته سول.

سترګي خو به بې لـه شـکه چي نعمت وي، هغه چي زړه سواندي وي او هرو هغو سترګو چي د غه صحنه ليدلې وي، هغو ته نو سترګي نعمت نه، بلکي قيامت وي.

*****

نن اختردئ. لونګ تـه چي مور کـالي ګنډلي و، بې اغوستلو پاته سول. د لونګ چي سترګي پټې سي، هغه صحنه ئې په مغزو کي راسي، یو دم يو ناره وکړي:

- بابا، ماما!

د لونګ مور هڅه کوله د لونګ لـه فکره دغه صحنه وباسي. نور لونګ يوازي د خواري مور د سترګو تور دی. مور به ئې د هر ځل ور ږغ کولو سره ورته ويل:

- لونګه زويه، ستا بلا خو دي پر ما سي.

خو هغه خوشحاله او شوخ هلک داسي زهير و، چي شوخي ئې نوره نه پيژندله. مور خو ئې لـه پخوا څخه د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ د هري شوخۍ په مقابل کي تریو تندی، بده خبره او ښیرا هغه ته تر خولـه نـه را وتل؛ اوس ئـي مور "نذر" واخیستی چي د خپل ژوند تر پایه به د خدای ج د رضـا او لونـګ تـه د اوږده ژونـد پـه هیلـه هـره د جمعـې شـپه او د جمعي ورځ ثوابي روژې نیولې.

خو د لونګ له ذهنه هغه صحنه چي د بد رنګو، ملونـو وهلو ټوپک سالارانو د دوی په ښوونځِی کي د ده پـلار او مامـا بـې ګنـاه او پـه ظالمانـه ډول وویشـتل او د اور پـه لمبو کي ئې وسوځل، هغه صحنه چي د پلار بدن بـه ئـي د هري مرمـی د لګیدو پـر وخـت ټوپونـه وهـل او مولونـو وهلو به الله اکبرونـه ویـل او خنـدل بـه ئـي، نـه هیرېږي. د هري مرمی وېشتلو سره به د وینو فواره را وبهیده.

د هغـه کتـاب چـي لونـګ ئـي د زده کولـو سـره مینـه لرله، هغه کتاب سور اور سو؛ د ده مهربانـه پـلار او مامـا ئې وسوځل. د لونګ په ذهن کي دا صحنه واخښل سوه. تر هغي ورځي وروسته په کلیو کـي نـور د کتـاب ویـل، د لیک زده کول او قلم پـه کـور کـي لـرل، د کفرعلامـه او د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واجب القتل دليل سو. له دغي غمجني پيښي وروسته، په كور كي د مكتب د كتابونو لرلو د ډېرو افغانانو سرونه له تنه جلا كړل.

د لونگ مور چي لا خپله عده پوره كړې نه وه،لونگ كرار كرار پر خبرو راغی؛ د ليكلو او حساب سره ئي مينه بيرته را ژوندۍ سوه. بې له قلم او كاغذ لرلو څخه ئې پر مځكه د لاس په گوتو، د لرگو او خاشو په واسطه څه ليكل او مخ ته به تلی.

لونگ د خپلي مور د كوټواله هگۍ وه. لونگ لكه نوم چي ئې لونگ و، په هغه شكل مور ته د لونگو بوټی سو. په خپلو همزولو كي به له ليري ځليده. هغه هر چيري او په هر څه چي به بوخت و؛ پلار، ماما او د هغو بيگناه وژنه او سوځنه ئې له فكره نه وتل. په تيره بيا پلار.

ځكه پلار به ئې هر وخت چي سهار وختي له كوره وتی، كه به لونگ بيده هم و، ده به ئې پر سره لاس



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیراوه او پر تندي به ئې مچاوه. لونګ اته کاله د پلار د لاس تیرولو او میني سره عادت نیولی و.

د لونګ مور ته د خپل میړه هغه خبره ور په یاد سوه، چي یوه ورځ د لمانځه تر ادا کولو وروسته کور ته راغی او وئې ویل:

- ښځی! دغه زموږ د ملا نصیحت نن داسي بل ډول و، د لمانځه تر ادا کولو وروسته ئې وویل:

- د قیامت علایم معلوم سول، د مسجد سره د خلګو مینه کمه سوه، د مکتب سره مینه زیاته سوه.

یوه ورځ د لمانځه تر دعا وروسته، ملا صاحب اکبر ته کرار پسته مګر درنه ژبه په مانا داره شکل ویلي و:

- اکبره! ته غریب سړی ئې، ستا سره نه ښائي چي زوی دي مکتب ته ورکې. مسجد ته ئې را استوه چي سپاره ووائي، کلمه او لمونځ زده کړي، ښوونځی ته ئې مه استوه.

د لونګ پلار په کلي کي غریب سړی و، هستي، نیستي او ټوله شتمني ئې د انګورو څلور جویې باغ او



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی بې له چار دیوالۍ زړې خوني له پلاره څخه په میراث ورپاتــه وې. د باغ اوسول (حاصل) ئې د ومره نه و. هغه ملا صاحب ته یوازې یو من وچ کشمش ذکات ورکولای سوای.

د همدغه غریبی له وجهي تربرونه، کلیوالو د نوی ملا په درولو او د زاړه ملا په لیري کولو کې هم نه پوښتئ. ملا صاحب هم په داسي موقف کي ولاړو کلیوالو ته په زیات ارزښت قایل نه وي. اوس خو ملا صاحب ټوپک لا هم لري.

د لونګ مور او پلار هغه وخت پدې خبره پوهیدل، چي د دوی په اولاد پیدا کولو په تیره بیا د لونګ غوندي زوی په لرلو ئې تربرونه خوښ نه وو.

د لونګ پلار د شپي د ملا صاحب دا خبره چي د ه ته ئې په مسجد کي کړی وه، د لونګ مورته وکړه:

- دا زوی دی مسجد ته را استوه چي سپاره ووائـي، لمونځ او اودس زده کړي!!!



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لونګ مور چې د میړه لـه تربرو څخـه ښـه زړه نـه لاره، د لونـګ تـر زوکـړې مخکـې څـو ځلـه مخـامخ دا خبـرې لـه هغـوی څخـه اورېـدلې وې چـې بـې زویـه او دوچې ښځې په نوم ئې یادول. د لونګ مور د خپل میړه د تربرو مخـامخ او پسـی شـا خبرې اورېدلې وې، چـې ویل به یې:

ـ اکبر زوی نه لري، میراث دی.

د اکبر تربرونو بـه د اکبـر د بـاغ، ښـځې او کـالو ویش تر خپلو منځو کاوه. اوس چې دلونګ مورته هر څوک د لونګ په هکله ښه خبره هم کوي، دا شک کوي چې پدې خبره کې نه چې د تربرو لاس وي، د خبرې منفي اړخ بـه ئې ښه سنجوی.

د لونګ مور چې هیڅ وخت ئې وخپل میړه تـه خبـره نه ورغبرګوله او د هغه خبـره ئـې پـر مځکـه نـه اچولـه، مګر دا ځل ئې میړه ته ویلي و:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه خپل زوی ښوونځی ته نه اچوم، لمونځ زه خپله ورزده کوم، شکر قران شریف مي زده دی، د ملا خبره پرېږده.

د لونګ مور ته هر ګړی هغه د میړه خبري ورپه یادېدې او ارمان به ورته درېدئ، او باورمنده کیدله چي هغه وخت لا دغه د ملا خبره چي زوی دی مسجد ته را استوه، بې مقصده نه وه.

دا دی تر خپلي عدې پوره کیدو مخکي چي خبره تربرو ته ورسیږی، یا تربرونه د لونګ مور ته څه ووائې، او یا ئې کوم یو ځانته په نکاح کړي دې د خپل زوی سره تصمیم ونیوئ، چي نور باغ، کور،هدېره هیره او پرېږدي، پر یوه نامعلومه خوا وتښتي.

ښځه د خپل زوی لونګ سره د شپې په تیاره کي له خپلي خوني راووتله، د ورور او میړه قبر ته د لونګ سره ودرېدله، د دوی څخه ئې رخصت واخستی پر هغه خاورو ئې سجده وکړه، خاوره ئې مچ کړه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ هم د پلار او ماما د قبر خاوري په خپل مخ پوري وموښلې، بيا ئې د خداى په اماني ځيني واخيستله او خپل پلرنى كور، كلى او د خوارى ګودړان ئې پرېښول. د لونګ مور په زيات ارمان سره داسي وويل:

د كتابونو په اور

را ومو سوځل ميړه او ورور

قسمته دا څه دي وكړل؟

چى پرېږدم خپل كلى، كور

دكتابو نو په او....

لونګ هم چي د خپل پلرنى ميني څخه تلى، څو ځله به ئې تر شا شا خپل كور ته وركتل، خپل كلى، كور، هدېره او باغچه ئې ارمانيدل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پلرنۍ مينه خوشي کول

مور د خپل زوی لونګ سره د شپې په تياره کې د خپل کور او کلي ځخه ليري بل پردي کلي ته ولاړه. اوس نو دوی په دغه نوې کلي کې د هيچا هيڅ هم نه دي او څوک ئې په پلار او نيکه هم نه پوهيږي. پدې پردی کلي کي يوه خدای پرسته ښځه اوسيدله، چې دهغې ميړه څو کاله مخکې مړ او دا کونده سوې وه. سر او نيم سر واړه اولادونه او د ميړه ځخه باغ او پټی ورته پاته و.

دغی کونډې ښځې د خپلو خونو په ځنګ کې ولونګ او مور ته د اوسيدو د پاره يوه خونه ورکړه. د لونګ مور



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د خواريو سره د وړکتوب څخه بلده ښځه وه، اوس چې کونډه او د بل همسايه سول، نو د نر ميړه په شان ئې کار ته ملا وتړله. ساده خړ پرتوګ ئې واغوستی، پوړنۍ ئې هم تور پر سر کی، وېښتان ئې د ايلـه پر ځای ټنګي کوَڅی کړلې، ځان جوړول ئې لا وختي پرې اېښي وه.

لونګ هم شکر دی تکړه او په ژبه پوه هلک دی. هغه ته خو سمدستي خواري پيدا سوه؛ د کليوالي کونډې پنځه وري پيائې. هغه خپل نس وا ړاوه .مور ئې هم ارامه کښېنه نستل، ژر ئې په کليوالو ښځوځان پيژانده. دې هم د پخوا په ډول کار شروع کی. کليوالو ښځو به وخت نا وخته د خپلو کالو منځلو په ورځ مرستې ته ورغوښتل، تر کالو منځلو وروسته به ئې څه لاس ور ته نيوئ.

نور نو د لونګ مور د هر ډول ورپيدا سوو خواريو څخه مخ نه چپاوه. د هر کور کالي به ئې پرېولل،غړکی به ئې ور شربلې، تلتکان به ئې ورګنډل، وړۍ به ئې ور شنلې، ډوډۍ به ئې ورپخولې او يا کله چې به ښځو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کورونه پاکول، نو د مرستي له پاره بـه ئـې د لونـګ مور وربلل.

د کار تر تماميدو وروسته به ښځود لونګ مور تـه پـر لـړ لاس نيولـو سـربيره، پاتـه سـوی خـواړه، څـه چـای او بوره هم ورکول. د لونـګ مـور ژر د دې کلـي د ښـځو پـه منځ کې پدې مشهوره سوه، چې يوه مسلمانه، د بـاور وړ او نه لاس و هونکې ښځه ده.

د لونګ مور هم خپل يوازنـی زوی لونګ ښه نـازاوه او د هغه روزني ته ئې پام کاوه. ځکه دا پوهيدله چې زيات شميرپه نس ماړه بې علمه خانان او په تيره بيا دغه نوی د پاکستان پلاس روزلی افغان ټوپک سـالاران او پيسـه وال پـاک نفس خلـګ نـه دي. هميشـه د لونـګ د مـور دا خبـره وريادېده، چې د لونګ پلار به تل هغې ته ويل، شـکر بـه کاږو چې زوی لرو، زما تر مـرګ وروسـته بـه زمـا مينـه توره نه پاته کيږي او زموږ د کاله څراغ به لګيدلئ وي.

د لونـګ مـور تـه دوه شـيان لکـه: پـر ځـان بـاور او د لونـګ ملګرتيـا هـر څـه وو. لونـګ هـره ورځ د ورځـې


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسونه پیول او ماښام سترې چې به کور ته راغی، څه سبق ئې هم وایه او بیا به د خپلې مور په څنګ کې پر هغه نازکه نغا ړه کې پرېوتی. مور او زوی په دواړو یو زوړ تلتک لاره.

لونګ به په هغه ورځ خوښ و، چې مور به ئې د کالو، مینځلو او یا تلتک ګنډلو پر ځای، و یوې لوی میلمستیا او یا کلیوالي ښادیو ته د کار او پخلې له پاره وربلل سوی وه. د شپې به لا لونګ تیاري نیوله، ځکه په هغه ورځ به ئې مور د نورو ورځو خلاف ډېره وختي له خوبه پورته کیدله، د لمانځه تر ادا کولو وروسته به ئې سمدستي خپل زوړ غټ پینه، پینه تور پوړنی پر سر او خپلې زړې کلوښې به ئې په پښو کړې، لونګ به ئې هم سهار وختي له خوبه را وېښ کړ.

لونګ به د لمانځه تر ادا کولو وروسته سهار وختي د بډائي ښځي پسونه ځړ ته بوتلل او اومه کی غرمه به ئې ماړه کور ته راوستل. هغه به د پسونو د شپې خوړلو دپاره څه واښه هم ورسره راوړل. بیا به ئې نو په بیغمه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه سره خپله سپاره په څنګ کې ونیول او خپل زوړ کړوپ، روئي بې سر پوښه دیګ د ځان سره واخیستل او هغه کور ته به تلی چې مور به ئي چیري کار کاوه.

که څه هم چي لونګ نو اوس نامي خدا د بدو سترګو دي په امان وي، نژدې د دولس دیارلسو کلونو ښه غښتلی هلک دی، خو د مور یو زوی دئ. کلیوالي ښځي هم د لونګ څخه پلو مخ ته نه نیسي.

د لونګ مور مجبوره وه، تر هغه کوره ځان وختي ورسوي چیري چي د ا به کار ته وربلل سوی وه. ځکه د وړو اخښل او د کور جارو کول، هغه کارونه دی چي د سهار تر ناري مخ ته باید وسي. د لونګ هغه ورځ د خپلي مور سره ښه تیرېدله، کوم چي په هغه کور کي به د ده همزولــي هلکــان او نجــوني زیــاتي وي. د ډول ډول نجونــو او هلکــانو ســره بــه ئــي لــوبي کــولې. د ټولــو همزولو هلکانو او نجونو لونګ خوښ و. د لونګ مور د کلیو هکانو او نجونو خاله بلله او لونګ ئي د خاله زوی


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ چي ښه هلک و، حتا د ټولو کليوالو ښځو هم خوښ و.

د ډېرو ښځو د لونګ رنګ څه چي د هغه بشپړي، سمي، پوره او هوښياری خبري خوښي وې. هر يوې غوښتل د ده سره خبري وکړي. په هره ښادي کي د لونګ مور ته کليوالو ښځو نصيحتونه کول، چي خواره مه سي، دغه زوی ته دي سپلني دود وه، له بدو سترګو دي په امان وي، بدي سترګي سته چي له نظره ئې نه کړي.

د شاه اغا له زيارته څخه ور ته د نظر تور بندونه راوړه او ور په غاړه کوه ئې.

لونګ هم د خپلوهمزولو نجونو او هلکانو په منځ کي د هري لوبي په سر کي ميراو وي. د کليو ښځو به خپل تر منځ د لونګ د مور د خوا پاکۍ او چابکۍ صفتونه کول. کله نا کله به کليوالو ښځو د هغې په غياب کي يوې بلې ته سره وويل:

- فلانۍ خواره مه سي،خوري! ته خو يو ځل پر خالـه ښه پام وکه، کار ئې څه کوي ځوانه جانه(جهانه) هم ده،



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رنګ کي هم جوړه نه لري. داسي معلوميږي چي د ا له ذاته اُپره نه ده، کوم مصيبت وهلې را معلوميږي.

د لونګ مورد خپل مجبوريت له مخي د خپل ژوند په غم لړلئ داستان هيڅ ته نه سواى ويلاى. په هر صورت، د ښځو ځانګړتيا خو دا ده چي د خپل ميړه په مخکي د پردۍ ښځي د کمال خبري نه کوې رنګ خو لا پرېږده. مګر د هغو ښځو چي ميړه ئې درې،څلور ماينې لري، هغوى بيا دا خيال نه ساتي. دا چي څنګه د بد مرغه قوماندان ترغوږه د لونګ د مور د ښايست خبره ورسيدله، معلومه نه ده.

د لونګ مور د کليوالي ښاديو په هر شپه، سره له دې چي د کار تر ختم وروسته به که هر څونه زيات نا وخته هم سو،دې ترخپلي خوني ځان رساوه.

له هغې ورځي څخه چي د قوماندان تر غوږه د لونګ د مور د ښايست خبره رسيدلې وه، نور ئې خپلي ښځي هيري وې د لونګ د مور په فکر کي ډوب و، چي څنګه به وي؟ کله به ئې لاس پر برسي. د لونګ مور د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان په کړو کړو پوهیدله.یوه شپه چې د لونګ مور د ټوپکوال قوماندان کور ته د کار له پاره ور وبلل سوه، د لونګ مورد ځانه سره ویل:

- یا الله! پر تا ځان سپارم؛ له هري بلا ما او بچی مي را ساته.

بیا ئي په ډېر افسوس سره وویل:

-یا زما ربه! موږ دي هم بنده ګان یو؟ که نه؟ غریبي د ې ځان وخوري، د یوې ګولې ډوډۍ له پاره مي د پردو د کورونو وخواریو ته ځان اچولی دئ.بې غیرته والله که یم، خو بې کسه او بې وسه یم. پردی کلی دئ، سر توره خو دي کړم، بې کوره خو دي کړم، یوازي د عزت په ساتلو کي را سره مرسته کوه!

بیرته ئي وویل، دا هم د شکر ځای دئ چي لونګ زوی خودي را کړی دئ.په لونګ مي زړه تکیه دئ، پدې توګه ئي خپل ځان ته تسلا ورکړه چي ځه شکرلونک خو را سره دئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان د څلورو معلومو اورتو (عورتو) خاوند و، زياته حرامه شتمني ئې را ټوله کړې وه. سربيره پر دا ټولو چي لرل ئې، بد ارواح او په هډ و نا پاک سړی هم و.

دغه قوماندان به تل د سترګو تر کونجو هري ښځي ته کتل. د لونګ مور چي د ده د ښځو له خوا هر ځل وکار ته وربلل کيده، قوماندان به د لونګ مور ته پرته له اړتيا يوه خبره کوله او پدې ډول به ئې په هغې باندي ځان ليدئ.

د لونګ مور د خپلي حيا ساتلو په منظور د قوماندان څخه مخته پلو نيوی. د هغه خبره به ئې داسي تيره کړه، لکه هيڅ چي ئې نه وي اورېدلې.

قوماندان ته خو خپلو ښځو د ميړه په سترګه نه کتل؛ لکه هرو ډېرو ماينو لرونکو ميړو ته چي ئې ښځي د ميړه په سترګه نه ګوري. نو ئې د ميړه په کرو تلو او کړو کړو خوا نه بدېده په داسي حالت کي را ګيری ښځي له خدايه غواړی چي خاوندان ئې پر يوه بلا وا وړي.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه دې شپه چـي د قومانـدان د کشـري او ګرانـي ښـځي پلرګنی او خورلڼي میلمنې وي. اول خو دا چي میلمنې ښه ناوخته راغلې. ډوډۍ ناوخته وکښل سوه. د چای څښلو، د لوښو منځلو او د دالانچې پاکولو ښه زیات وخت ونیوي، په اسمان کي سپوږمۍ تر سر اوښتې وه. ایله چي د لونـګ مور لوښي او لرګي سره ټول او له کاره فارغه سوه.

لونګ هم کلـه چـي نـور کوچنیان او همزولـي ئـې بیده سول، راغلی و، د اور په دالانچه کي چیري چي مور ئـې پـه کـار بوختـه وه، بیـده سـوی و. د لونـګ مـور یـو څـه د وریجو کوینی موینی، سوځلي د نـه سـاتلو وړ پاتـه سـوي خواړه په خپل روئې د یګي کي واچول، غوښتل ئـې چي د قوماندان له ښځي څخه رخصت واخلي. بیا نولونـګ لـه خوبه راویښ کړي او خپل کور ته ولاړه سي.

نور نـو نـژدې دی د سـهار پیرونـې را پورتـه کیږي؛ د قومانــدان ګرانــي او نــازولي مــاینې چــي د ټـول کـور واکداره وه، د لونګ مور ته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خاله! ته يو ځل ماتله (معطله) سه، لونګ د خوبه مه را وپښوه.

د دې خبري کولو وروسته، ښځه د خپل ميړه د خوب خوني ته ورغله، ميړه ته ئې وويل:

ـ که ستا خوښه وي، ښه هوا ده، ټول کوچنيان بيده دي، دا ميلمني به يوساعت په باغچه کي وګرځي، لوی ښځي دي، ګلان او بوټي دي نه ماتوي. د لونګ مور به دلې زموږ تر بيرته راتلو پر کوچنيانو پام کوي.

قوماندان چي په زړه پاک سړی نه و، هغه چي د لونګ د مور د يوازي پاته کيدو ئې واورېدل، نو هغه څه ئې ور په ياد سول، چي له ښځو ئې اورېدلي و:

ـ د لونګ مورځوانه او په رنګ ښايسته ده.

د قوماندان نور خپل باغ او باغچه هيرسولٍ، شرمښ له خدايه څه غواړي؟ باد او باران.

قوماندان له خدايه دا ساعت غوښتئ. په زړه کي خوشحاله سو، ژر ژر ئې خپلي صدرۍ ته لاس کئ، له



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیبه ئي د باغچې د قلف کلی را وایستلې او خپلې کشري ماینې ته ئي ورکړې.

د قوماندان ښځه راغله، د لونګ مور ته ئي وویل:

- یوازې د یوه ساعت د پاره لا پاته سه، ښه هوا ده، کوچنیان ټول بیده سوي دي، ایله چې میندی ئي اوس لږ بې غمه سوې، موږ یو ځل دا باغچې ته ورځو او ته په کور کي پر دغه کوچنیانو پام کوه، موږ ژر راځو.

د لونګ مور ناچاره وه، و ئې منله او خپل کور ته له تلو پاته سوه. کله چې ټولي ښځي باغچی ته تللې، د قوماندان هغه مشره ښځه لنده له نورو ښځو څخه را وګرځیده او راغله د لونګ د مور سره د اور په دالانچه کي کښینستله. ځکه د هغې د خپلې بنې د میلمنو سره وړ نه وتی، د لونګ مور هم د دې ښځي په پاته کیدو خوشحاله سوه؛ ځکه هغه یوازې بیرېده.

تر لږ خبرو او مجلس کولو وروسته، د اور دالانچه ګرمه وه، د قوماندان مشري ښځي ته خوب ورغی دالته د لونګ څنګ ته پرېوته او بیده سوه. د دې ښځي او میړه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـر مـنځ د میږه تـوب او ښـځیتوب خونـد لا ډېـر وختونـه مخکي نه و.

د لونګ مور لـه یوې خوا نـا ارامـه وه او لـه بلـي خـوا ښـځو ورتـه پـرې اېښــي کوچنیـان، تـول د لـوی سـرای د غولي پـه منځ کـي پرختینـه تنګاچـه بیده وو. نوکلـه چـي د قومانـدان مشـره ښـځه (د کـوتري مـور) دلتـه د اور پــه دالانچه کي د لونګ د اړخه سره بیده سوه، د لونګ مور دا او لونګ دواړه بیده پرې ښوول او خپلـه د تـاوده دالانـه را ووتــه، د بانـدي پـر تنګاچـه د ماشـومانو پــه مـنځ کــي پرېوته.

له بیري او تشویشه خوب نـه ورتـی، او پرځـای وېښـه پرته وه. په همدې وخت کي ئـې ولیدل چي پـه غم لړلـی قوماندان پـه تلوار لکـه د منـي د وروستیو شـپو وږئ لیوه چي په ښکار پیدا کیدو پسي سر ګردان ځغلي په هغه شـان سر تور سر، ببره ږېره او توپنګچه په لاس د خپلي خوني د باندي راووت او سیده د اور د دالانچي پر خوا ورغلی .



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سد دسره تللی او سترګو ئې سم نه لیدل ؛ فکر ئې کاوه، چې د کور ټولي ښځي باغچې ته تللي دي، یوازې د لونګ مور پاته ده او د اور په دالانچه کي پرته ده. د اور دالانچه څه توده او لږ تیاره وه. ده په دالانچه کي دومره ولیدل چې ښځه د لونګ په خوا کي پرته ده. فکرئې کاوه چې دغه د لونګ مور ده.

بس پر ښځه ئې ځان واچوی، او ورسره پرېووت... ښځي هیڅ مخالفت و رسره ونه کئ، خپل ځان ئې چوپ نیولی و. قوماندان پدې فکرکي سو، چې ښځي له بیری ئې ځان چوپ نیولی دئ.ده خپل کار وکئ. تر پایه پوه نه سو، چې دا ئې خپله ښځه وه. د غلا، بیري او وهم خبره وه. وروسته ژر خپلي خوني ته ولاړ.

ډېرخوښ پدې سو، چې د ده په فکر د لونګ مور مخالفت ور سره و نه کی. لږ وروسته چې ټولي ښځي د باغچی څخه بیرته کورته راغلی.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوترې مورد قوماندان مشره ښځه هم د اور دالانچې څخه ور ولاړه سوه، خو ښه خوشحاله په ښځو ګډه سوه. بیا خپلې خونې ته ولاړل.

د لونګ مور چې د سرای په منځ کې پر تنګاچه وېښه پرته وه، هر څه ئې د سر په سترګو ولیدل او ښه پوه سوله چې بلا وه، برکت ئې نه. هغې له ځانه سره وویل، ګوره، چې د کومو ښو اعمالو له برکته خدای (ج) د درنده او وحشې حیوان له برېده ئې روغه اوسالم. وساتلم.

بیا ئې هم له بیرې ټول بدن رېږدېدئ، په سړه هوا کې توده تبه پر راغله، په خولو کې لنده خیشته سوه،خبرې ئې سمې نه سوای کولای، غوښتل ئې چې اجازه واخلي او کور ته ولاړه سي. پدې وخت کې قوماندان له خپلې خونې څخه خپلې ګرانې ښځې ته ور بږغ کړل:

-ښځې! تاسې راغلاست؟

ماینی ئې :هو، راغلو!



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان زياته کړه:

ـ دغه د لونګ جان مور نن د اشپزۍ او لوښو منځلو سربيره، ستاسي ډېر خدمت و نه کئ؟ په خدای چي دا ډېره مسلمانه ښځه را ته معلوميږي،يوه د پټي خولي ميرمنه ده. که کوم اضافي کالي مالي وه لري، يوه جوړه ورکړه، زموږ به خيرات سي او د دې به يوه پرده په وسي. دغه سل روپۍ هم زما له خوا ورکړه؛ داسي د پټي خولې ميرمنه والله که تر دا اوسه پوري ما د مزدورانو په تخم کي ليدلې وي.

خدای سته د قوماندان پردې مهرباني او د لونګ دمور پر وارخطا ګۍ دهغه کشر ښځه لږ اشتباهي سول. څه ئې و نه ويل .د لونګ د مور په زړه نو يو پاک الله خبر و. حلق ئې وچ وچ کيدئ. هغه بې خوبه، بيرېدلى او حيرانه پاته وه چي اوس څه وکړي، څه ووائي، چا ته د زړه غوټه خلاص کړي او څه ئې له وسه کيږي؟ هغه اوس سل په سلو کي باورمنده سوه چي قوماندان لاس نه اخلي ځکه ئې ورته سلګون ورکړئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـر ډول چـې و، هغـې خپـل زوی لونـګ لـه خوبـه راوېښ کـړ، د پاتــه سـوو سـړو خـوړو ډک دیـګ، او د قومانــدان د مــایني ورکــړې د زړو کالوغوټــه ئــې را واخیسـتل او د لونـګ سـره یـو ځـای د قومانـدان د کـلا د دروازی تر ولاړ ټوپکوال را تیره سوه.

د لونـګ مـور د خپـل زوی سره پـه تیـاره کوڅـه کـې د کـور پـر خـوا روانـه وه او چورتونـو پـر سـر اخیسـتي وه، لاری ته ئې پام نه و.

یو ځل به ئې په فکر کې ور وګرځیدل: چې راسـه، د تیري شپې کیسه د هغه ماینو ته وکړه. بیا پـه چـورت کـې ډوبه سوه، او د ځانه سره ئې وویل:

- شـرم، حیـا، غریبـي، کمـزوري، د زوی کوچنیـوالی، مجبوریت، پردی کلي او تر ټولو لویه خبره سر توره یم، کونډه یم نه چې خپله پدې خبره کې بد نامـه سـم؛ ځکـه پـه غریب او کونډه پوري ژر تهمت مبتلي.

هغه بل لوری خو ټوپکوال، زورور جنګ سـالار دئ. یو شمیر حیلـه ګر ملایـان او نـا پوهـه کلیـوال هـم ور سـره



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـولاس دي. نـو راځـه، هـر څـه پـر ځـان تيـره وه او ځـان ساته؛ تر اوسه خو ئې په تاڅه نه دي کړي. توکل پر الله.

بيا ئې په ډېره نا اميدی کرار له ځانه سره وويل:

- کونډه ئې، غريبه ئې او زوی دي لا ما شوم دئ.

لويـانو ويلــي د ي: "چــی نــه لـرې سـړي، مــه کـورت خوره، مه غوړي." لونګ سره له دي چي خـوب ځنګاوه، خو د خپلي مور دغه د نا اميدئ خبـري ئـې اورېدې، پـه دغه ګړی ئې څه و نه ويل، ځکه خوب پر زور و.

د لونګ مور د خپل ځان سره پرېکړه وکړه، چي خپل ځان به خپله وساتي.

اوس نـو سـپيدې وچـاودي، نـژدې سـهار و، چـي خپلــي خـوني تـه را ورسيده، ستړی ستومانه پرېوتـه. ژر سـهار سو، ملا اذان وکئ، دې هم کلمه وويلـه او را پورتـه سوه، خپل لمونځ ئې ادا کئ. بدن ئې ور سره مرسته نـه کولـه. څـو ورځـي ناروغـه سوه او د چـا د کـور کـارو تـه، بـه نـه تلل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ئې ستړی دئ؛ نور د پخوا په شان د هرچا د کور کارو ته ځان رسوي، خو د قوماندان د کور پر خوا ور ګوري هم نه. ډېر ځله د خان ښځو د لونګ مور وغوښتله، چې کار ته ورسي، ښاديو او ميلمستياو ته ئې د کار له پاره خبره کړه، خو د لونګ مور قسم کړی و، کار ته څه چې بيا به د قومندان د کور په دروازه سر ور دننه نه کړي.

*** *** ***

په دغو شپو او ورځو کې له دغه کلي څخه هم د نورو کليو په شان هره ورځ يوې يا دوو کورنيو د پاکستان پر خوا کډه کوله. ځکه د يوه لوري جنګونه وه او بل خوا ته په کليو کې کار ورک سو. لونګ هم څو ځله خپلي مور ته وويل:

- مور جاني! ډېرخلګ پاکستان ته ځي که زه او ته هم پاکستان ته ولاړ سو، بده به نه وی.کليوال حتا ملا صاحب


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا ویل چې هلته مفت اوړه، غوړی، خیمه اونور شیان افغانانو ته مفت ورکول کیږي؛ ډیري کورنۍ کډه سوې.

د لونګ مور په زړه کي د پاکستان او د هغو د مزدورو ښخه سخته کرکه درلوده، ځکه چې له پاکستانه راغلو ټوپکوالو د هغې میړه او ورور ور وژلی وو. خو بیا هم حالاتو هغه مجبوره کړه، د یوې بلې کورنۍ سره په ګډه پا کستان ته مهاجره سوه.

*** *** ***

د لونګ مور چې کله پاکستان ته ورسیده، هلته د مهاجرو کمپ ته د خپل زوی لونګ سره ورغله. د ځای او یوې خیمې د تر لاسه کولو او راشن پاس د په لاس را وړلو له پاره یوه افغان ته چې د کمپ مشر و، ورغله. د کمپونوزیات مشران دوطنه تللي خانان اوملکان وه.

ډیری دهغوی خو لا په وطن کي په زړه ناپاک، غل او حرام خور سړی و، هغوی د مهاجرو سره مرسته مشروط کوله.د کمپ مشر د لونګ له موره اول د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيسو (رشوت) غوښتنه کول، چې هغې نه لرلې. بلـه غوښتنه ئې بد اخلاقي چې دې ځان نه سپاره. بلـه غټه ستونزه ئې لا دا وه، چې د ميړه تذکره ئې چا تـه نـه سواى ښودلاې، نه چې څوک ئې و نه پيژني.

د لونګ مور پدې فکر کې وه، کـه د مهاجرو پـه کمپ کې خلګ خبر سي، چې دا د هغه اکبر ښځه ده، کوم چې نـژدې دوه نيم کـال مخکي ټوپکوالو وژلـې و، نـه دا چې مرسته به ور سره و نه کړي، بلکي تربرونـه بـه ئې هم خبر سي، بيا بـه دا پـه زور د ميړه کولو د ستونزي سره مخ وي.

*** *** ***

نـو ښـه ئـې دا وګڼـل چـې بيرتـه وطـن تـه را وګرځي.لونګ او مور ئې پـه ډېرو ستونزو ليدو سره بيرتـه نـا اميده افغانستان تـه، هغـه کلـي تـه راغلـه، چې لومړى ځل د خپل اصلى ټاټوبى ورتـه ورغلي وه. هغې ښځي چي پخوا ئې ځاى ورکړى و، بيا ځاى ورکړئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قوماندان ښځه ورکه سوه

وروسته لـه څـه دو میاشـتو تیرېـدو د قومانـدان مشـره ښځه په ځان وپوهیدله، چي له هغې شپې څخه چي میړه ئې د خپلي خوني څخه په بد نیت د لونګ د مور پـه تـلاښ راوتلـی و، پـه تیروتنـه او سـر ناخلاصـی کـي د دې سـره پرېوتی و،اوس په نس کي کوچنی لري.

په زړه کي خو زیاته خوشحاله وه، مګر دا چي څنګه او په چا به دا ومني، چي دا کوچنی ئې د خپل میړه څخه دئ،ځکه میړه خوئې ډېر کلونه د دې سره کار نه لاره، له دې سببه ئې تشوېش او بیره لرل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځي خپلي بني، میره او دوستان نـه سوای خبرولای، چي د هغې کوچنی په نس دئ، ځکه د دې پوښتني سره مخامخ کیده، چي د چا څخه دي کوچنی پـه نس سو؟ نـه پوهیدل چي څه وکړي؟یو څه وخت ئې هڅه کوله، غټ کالي واغوندي، مخامخ پر چا ور نـه سي، د هر چا څخـه ئې ځان پیچئ.

په دغه شان د حمل اخیستلو ئې پنځه میاشتی تیري وي، چي یوه ورځ ئې کشره بن پر شکمنه سوه. هغې ته تشویش پیدا سو. ځکه د کشري ښځي سره خو قوماندان قول کړی و، چي دنورښځو سره به نور کار ونه لري.

د قوماندان کشره ښځه، د دې پر ځای چي د میره سره خبره سپینه کړي، اول غواړي خپل ځان پوره باوري کړي، چي مشره بن ئې په رښتیا امیدواره او په نس کي څه لري،که نه. ځکه دې هم په دغه شپو کي په خپل نس کي اولاد لاره. نو یوه ورځ کله چي مشره بن ئې خپلي کوټي ته ولاړه، لږ وروسته، دا هم بې له دې چي له هغې اجازه واخلي، داسي ښوی په خونه وررننوته.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مشري بني ئې خپل کالي بدلول. کشري بنې د مشري بني هر څه لځ او د سر په سترګو وليدل. پر سر ئې لکه د اور لمبه چې وګرځيده،دغسې لنده (ژر) د کوټې راووته، په ځغاسته خپلې خونې ته ولاړه، او دخونې دروازه ئې د شا لخوا ځنځير کړه. تر ماښامه د خونې را ونه وتل. هغې په خپل ځان خولې ولګولې، خپل وېښتان ئې وشکول، او بالښتانو ته ئې سوکان ورکړه. داسې پوچې خبرې ئې له خولې څخه را وتلې، چې د باندې هم اورېدل کيدې.

دوې نورې بنې او د قوماندان لور کوتره يوه هم نه پوهيدل، چې څه پيښ سوېده؟ بنې دواړې راغلې، د مشري بني ئې وپوښتل:

- څه دې په وکړه؟ چې داسې بغارې وهې او ښراوى کوې، رد اوبد وائې.

مشري ښځې ځان بې خبره وښود. تر ماښامه پورې ښځه له خپلې خونې را و نه وته.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشره ښځه خو وپوهېده چې د مېړه نـازولې ښـځې مـې نس ولیدئ. خبره مې تر مېړه رسېږي، دا چې هغه بـه څـه وایي او یا به څه کوي، دا هغه څه دي چې دا ئې تر مخـه فکر نه سي کولای. د شپې نا وخته کله چې مېړه ئې کور ته راغلی، د پخوا په ډول د خپلـي کشـري ښـځې خـونې تـه ننوتی، وئـې لیدل چـې د معمول خـلاف د خـونې د روازه کلکه تړلې ده.

دروازه ئــې وټکولــه، بیــا ئــې پــه زور ســره دروازه پوري وهله او خونې ته ورننووت. ښځه د قوماندان مخـې ته ولاړه نه سوه، سلام ئې وا نه چوی. سر بېره پر هغه ئې ژړل، ښیراوي ئـې کولي. قومـاندان ښـځې تـه نـژدې کښېنستی، په ناز ئې خپله ښځه وپوښتل:

- ګراني !څه پېښه ده؟

ښځې یو دم د خپل مېړه وغاړی تـه د جنګره پیشـي پـه شـان خپلــي ســری منګولي ور واچـولې او کمـیس ئـې تـر لمنـې ور څیري کړ، پر مخ ئـې ور تـو کړل، او بیـا ئـې ورتـه وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درواغجنه! ستا چې هغه خوښه وه، نو زه دي څه کولم؟

په دغه وخت کې چې قوماندان خوني ته دننه سو، مشره ښځه ئې راغله، دباندي ئې غوږ ورته ونيوئ؛ دماپښين څخه ئې لا خپله غوټه موټه تياره ټوله کړې وه.

په خونه کي دننه چې قوماندان د خپلي ګرانې ښځې خبري وا وريدلې، هک پک پاته سو، نه پوهيدئ، چې په کومه ورانه ئې ښځه خبره سوې ده،او چا خبره کړی ده؟ د هغه څخه هم د کلاوې سر ورک و.ځکه ده خو ډېري تيروتني او لاس وهني کړي وې.

قوماندان د ځان سره فکر کاوه چې امکان لري. د لونګ مور به څه ورته ويلي وي، ځکه چي هغه تر هغې شپې وروسته بيا دا ډېر وخت کيږی، چي زموږ کور ته د کالو منځلو او د ښځو سره مرستي ته نه راځي. سخت وارختا سو، په خبرو کي ګنګوړه سو. بيا ئې ژر ژر وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته څه وایې؟ څه وایې؟...څوک؟...څوک مې خوښه ده؟

ښځې ئې خبره ورسره اوږده نه کړل، د میړه د چورتونو او تشویش خلاف ئې د خپلې مشرې بنې نوم پر خوله راوړئ.

قوماندان په زړه کې شکر وکښئ، داسې خوښ سو، لکه هیڅ چې نه وي پېښ سوي د ځانه سره ئې وویل:

- شکر

چې د لونګ د مور او یا د بل ادرس خبره نه وه.

د خپلې ښځې په باب خو مطمئن و؛ نو په خندا زیاتې تر قسمو لاندې سو او خپلې ګرانې ماینې ته ئې وویل:

- ستا سر قران دئ، ما دې ووهې، چې ستا تر واده وروسته مې بیا د هغې د خونې پرده هم نه ده ور پورته کړې. ته څه وایې؟ هر چا چې هرڅه درته ویلې دي، ربښتیا نه دي. ته زما خبره ومنه.!!!

ښځې ئې بیا ور ته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما خبري رښتيا دي، زه درواغ نه وايم، تهمت هم نه تړم، که زما خبره نه مني، ورسه، خپله د هغي نس وګوره، دا له کومه سو؟

قوماندان حيرانی واخيست، چي د ا څه را ته وائي. هيڅ ئي باور نه را تلی. فکرئي خراب سوونه چي دا مشره ښځه مي د کم بل چا سره جوړه سوې وي.

که داسي نه وي، نو څنګه ئي نس ډک سوی دئ؟ ولي په ځان خو ئي باور و، چي لاس ئي نه دئ ور وړئ. وروسته له ډېرو خبرو اورېدو او ځُرتونو څخه درد ورغلی. ولاړ سو، ټوپک ته ئي لاس کړ، او کشري ښځي ته ئي وويل:

-نور دي نو خولک را تنګ کی، ما ډېر وژلي دي، خو په خپلوانو او خپلي کورنی کي به مي دا لومړی وار وي، چي خپله ښځه وژنم. دا دئ اوس ورځمه، که ستا خبره رښتيا وه، هم دا نن شپه ئي په دغه ټوپک، هلته په خپله خونه کي ځای پر ځای وژنم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشره ښځه ئې په زړه کي ډېره خوښه سوه، ځکه دا باوري وه په خپله ئې د بني غټه سوی خيټه ليدلې وه. هغې خپل ميړه ته وويل:

ـ که ما تهمت ترلی و، يا زما خبره درواغ سوه، نو بيا راسه، په دغه ټوپک ما مړه که. ما خپل خون دربخښلی دئ.

مشري ښځي چي د خپل مرګ خبره وا ورېده، باوري سوه، چي بې پوښتني وژل کيږم، ځکه قوماندان به ډېر ځل په کور کي خپلو ښځو ته ځان ښکاره کاوه.

قوماندان به کله ناکله د خپلو ناروااوو اعمالوپه خاصه د قتلونو او وژنو کيسې په کور کي هم کولې. ويل به ئې:

ـ د مقاماتو موخه ئې (د پاکستانISI ) څخه و څه چي به د هغوی هدايت و، هغه مي تل سر ته رسول. د فلاني لور هغه چي مکتب ته به تلل، هغه مي ووژله؛ فلانی مامور، فلانی ښوونکی، فلانی بزګر او په لسګونو د اردو او پوليسو سرتيري ټول ما ترور کړئ دي....



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو چي دی له خوني را وتی مشري ښځي دوې پښې خپلې وي او دوې ئې نوري پور کړې. پخوا تر دې چي ټوپکوال میړه ئې لـه خپلـي خونـي را ووزي، پـه یـوه شیبه کي ښځه ورکه سول که څه هم چي شپه او تیـاره وه، خـو دا له کوره ووته او پر نامعلومه خوا ولاړه.

قوماندان چي ټوپـک پـه لاس لـه خپلـي خونـي راووت، هلتـه د شـا لـه خـوا ئـې کشـري ښـځي دواړه لاسونه چپـه پسي پورته او له خدایه ئې وغوښتل، چي بن ئې ووژل سي او قوماندان په یوه بلا اخته سي.

کوم څه چي د دوی هیله وه، هغسي و نـه سول. د دوی دواړو د هیلـو خـلاف، کلـه چـي قومانـدان د مشـري ښـځي خـوني تـه ورغلـی، ګـوري چـي "ځـای سته او جـولا نـه." یوازي ئي لور (کوتره) په خونه کي بیده ده. ټول سرای او هر څه نور ئې وپلټل، ښـځه ئـې پیدا نـه کړه. د کشـري ښځي ادعا په ظاهره رښتیا سوه.

قوماندان ته اوس دوې خوارۍ ور پیښې سوې. له یوې خوا وخپلې ګراني ښځي تـه بـې اعتبـاره سـو او لـه بلـې


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـوا ئـې مشـره ښـځه وتښـتيدله، دا شـرم هـم ورتـه پاتـه سو....

نـور د قومانـدان لـه سترګو خـوب والـوت. هغـه هڅـه کوله، چي خپلي کشرئ او ګراني ښځي ته دا ثابته کړي چي يوازي دا وربانديي ګرانه ده، او د دې د بني سره نه دی يو ځای سوې.

بل خوا ته پدې فکر کي هم و، چي دا تښتيدلی ښځه به ئې د چا سره يو ځای سوی وي؟ دا شـرم بـه چا ور اړولـی وي؟ هغـه فکر کـاوه حتمـي بـه مـي ښـځه زمـا پـه ټوپکوالو کـي د کوم ټوپکی سره جوړه راغلـی وي. هغه خپل هر ټوپکي ته په مغزو کي د شک په سترګه کتل.

نه پوهيدئ چي چا به دا بد نامي ور اړولې وي؟ او بده ئې لا دا چي ښځه ئې ژونـدۍ ژړانده ورکه سوه؛ د ښځي و پلرګنۍ ته به څه وايي، چي لور ئې چيري ده؟

قوماندان ټوله شپه ګراني ښځي ته پـه زاريو او د بلـي ورکي ښځي په باب په چورتونو کي تيره کړه. پدې شپه ئې لا فکر کاوه، چي ممکن ښځه به مي د خپل پلار



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکوره تللي وي. په دغه چورتونو کي وچي شپه پر سهار سوه. سهار ئې نه غوښتل پردي څوک خبر کړي. په پټه خوله ئې د خپلي ښځي د پيدا کيدو په موخه کوند پی( بيله دې چي څوک پوهه يا خبر سي پلټنه کول ) پيل کي.

تر ټولو مخکي ئې د خسر کور ته ښځي واستولې، چي ځان ته دا معلومه کي، ښځه ئې د پلار کور ته تللي ده او که نه؟ کله چي له هغې خوا،ليږل سوو ښځو احوال ورته راوړی، چي ښځه هلته نه ده تللي، اوس ئې نو نور هم فکر خراب سو.

هغه شا و خوا په پټه خوله معلوماتونه کول، څو ټولي هڅی ئې بې نتيجې سوی پدې منځ کي ورځي تيري سوې. دا دئ د تېښتيدلي او ورکي ښځي پلرګنی خبره سوه، چي لور ئې د ميړه په کور کي نسته. هغوی راغلل، د قوماندان څخه ئې د خپلي لور د مړي يا ژوندۍ معلومات غوښتنه کوله.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان خپلي خسرګنۍ ته سم ځواب نه درلود. د ښځي د تیښتي اصلی سبب چي څه پیښ سوه، نه سي څرګندولای. د ښځي مور او پلار فکر کاوه، چي قوماندان به حتمي د دوی لور وژلې وي. قوماندان چي نه ئې خپله ښځه وژلې او نه بندي کړې وه، او نه ئې کولای سوای، هغه تریخ حقیقت چي دی هم سم نه په پوهیدئ، بیان کړي.

ځکه قوماندان پدې باور و، چي ښځه ئې خرابه نه وه، او که پر هغې تور هم وتړي، خپله لمن په خپل پورته کوي. وروسته له ډېرو بې نتیجو هلو ځلو، د ښځي خپلوان مجبوره سول، هلته د ټوپکمارو په نوم محکمې ته ورغلل؛ د خپل زوم (قوماندان) د لاسه عارض سول. هغوی د خپلي لور دمړي او یا ژوندی معلومات ئې غواړي. دا هغه وختونه وه، چي په هیواد کې دمرکزو نو څخه پرلیرو پرتو کلیو باندي ټوپکسالارانوخال خال خپل سیوری غوړه ولی و.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه محکمه کې زور او زرو خبره سر چپه کړه. د ټوپکوالو محکمې د قوماندان خوا ونیوله. د ښځې پلار ئې بندي کړ او تور ئې پر ولګاوه، چې د قوماندان ښځه ئې پټه کړې ده.

تر ډېرو وهلو او ټکولو وروسته، د توپک سالارانو قاضي حکم وکئ، چې د ورکې ښځې پلار دې خپله لور د میړه کور ته حاضره کړي او پنځه زره افغانۍ نغدي جریمه دې هم تحویل کړي.

کله چې د لور پلار ته د محکمې پرېکړه د ملا قاضي له خوا واورول سوه، سړی وویل:

-د خدای روی دئ، هم مې لور وژل سوېده، هم ما بندي کوئ او هم مې جریمه کوئ؟ دا عدالت او انصاف نه دئ؛ زما سره دې عدالت وسي!

خو قاضي ورته وویل:

- تا پر یوه جهادي قوماندان تهمت تړلی دئ او درواغ دي ویلي دي، هغه زموږ یو مجاهد دئ. زموږ د سنګر



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انـډيوال دئ، د سـرو روسـانو سـره جنګيـږي، محکمـې د شريعت سره سمه فيصله کړې، بايد عملي سي.

په کلي او کورونو کـې خبـري، ورځ تـر بلـې ډېرېدلي او تودېدلي. د خُسر کورنۍ نو اوس د خپلـي لـور د مـرګ او ژوند خبره هيره کړه، د خپلـي کـورنۍ د يـوازنۍ مشـر او سـپين ږيـرې د خلاصـيدو وسـه هـم نـه لـري او د پنځـو زرو افغانيو د جريمې د ورکړي وسه خو بيخي نسته. پـه حقيقت کي ئې زور د جهادي قوماندان سره برابـر نـه و. پــه عجـز، زاريـو او مرکـو ئــې نفـس وخـوت، چــي د قوماندان له شره ځان خلاص کړي.

ډېري هلي ځلي ئې وکړې، خو ګټه ئې و نـه کـړه. پـه پای کي دې ته مجبوره سول، چي د جريمي د ورکړې لـه امله ئې خپله لږ مځکه ګرو کړل. لنګه غوا او مردار هډۍ ئې پـه کمـه بيـه ورتـه خـرڅ کړل. مګر د خپلـي لـور پيدا کيدل ئې تـر وس وتلـي خبره وه؛ ځکه د هغـې د مـرګ او ژوند معلومات نسته.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بلي خوا، د خسر کورنۍ د محکمې له خوا هره ورځ د وراستول سوي ماسل (محصل) څخه په تنګ سول، ځکه ماسل هره ورځ ډوډۍ او پيسي غوښتې. په پاى کي د قوماندان د خسر کورنۍ يوه شپه د هغه د ناروا او نا دودو او د ماسل د ماسلانۍ څخه د ژغورلو په موخه، خپل کور او کلى پرېښود او د شپې په تياره کي ښار ته ور وتښتيدل.

*** *** ***

د قوماندان کشره ښځه چي امېندواره وه، قوماندان او ټوله کورنۍ ورته خوشحاله او پدې هيله وه، چي ګوندې کشره ښځه به ئې زوى ورته وزېږوى؛ خو نه دا هيله ئې پوره نه سول. دې هم لور وزېږوله. پدې ډول قوماندان او کشره ښځه ئې د لور په زيږېدو نور هم غمجن سول.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تښتيدلي ښځې برخليک

د کـوتري مـور چــي د حتمــي مـرګ څخـه د ځــان د خلاصـون او پټيـدو پـه هيلـه د ميړه د کـوره ووتـل، خپلـه يوازنۍ لور کوتره ئـې تـر شـا پرې ايښـی وه. دې يـوازې د خپل سر امـان غوښتۍ. تـر لـوی ښـاره پـوري ئـې ځـان



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورساوه، په ښار کې تر څو میاشتو ژوند کولو وروسته ئې هغه د خپل میره څخه په نس سوئ زوی پیدا سوی و.

که څه چي د ښځي په کلی کې لا د لونګ نوم خوښ و، بیا ئې هم پر خپل زوی د "سمندر" نوم کښیښود. هغې د خپل ژوند د اړتیاوو د پوره کولو له پاره د کلي د لونګ د مور څخه په الهام اخیستلو سره کارکولو ته ملا وتړله.

هغې د خواریو او مزدوریو ځان نه سپموئ. یوه ورځ ئې خپل ماشوم زوی د درملني دپاره روغتون ته وړئ و. هلته په روغتون کې یوې ښځینه ډاکټري تر څه معلوماتو وروسته، مرسته ورسره وکړل. په روغتون کې ئې د پیاده په توګه د کار موقع ورته برابره کړه.

تر کار پیدا کیدو وروسته، ښځه د معاش خاونده سوه. زوی ئې د روغتون په وړوکتون کې بې له پیسو د ورکړي ورساتل کیدئ او روزل کیدئ. وخت ډېر ژر تیرېدئ کوچنی سمندر د سترګو په رپ کي ښوونځی ته د تلو عمر ته رسیدلی و. مور خپل زوی ښوونځی ته شامل کئ.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سمندر د مور چې اوس ئې په خپل معاش او کوپون ګوذاره کیږي. ژوند ئې یو څه رونق ونیوی، نو پلار، مور، ورور او کورنۍ ورياد سول، خپله یوازنۍ پر دې ګرانه لور (کوتره) ئې تر بل هر چا ډېره يادېده او هر وخت ئې دا هیله وه، چې که څوک ورته د خپلي مور، پلار، ورور، خور او لور احوال د کلي را وړي.

د خپلي لور کوتري په باب خو ئې پدې ډېر تشوېش کاوه، چې هغه به اوس پيغله وي او میرې ګانو به چا ته واده کړې وي؟

د دې دا تشوېش پرځای و. واقیعت دئ میره مور هیڅکله د مور په شان مهربانه، نه وي. نو د کوتري مور به روغتون ته د دوی له ولسوالۍ څخه هر ورغلي ناروغه ته ورتلله او په غیر مستقیمه توګه به ئې د کلي په احوال ځان خبروئ.

هغې به له هر ناروغه سره راغلی پایوزان جلا جلا پوښتل، څو خبره سي چې په کلي کي څوک مړه او څوک ژوندي دي؟



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ ئې په روغتون کې د يو بسترسوي ناروغ له خولې واورېدل، چې ويل ئې:

- زموږ د کلي ټوپکوال قوماندان هغه چې ښه ډېر کلونه پخوا ئې يوه ښځه ژوندۍ ژړانده تری تم سوی وه، څه وخت د مخه ئې پيغله لور هم د خپل مزدور (لونګ) سره جوړه راغله او د هغه سره له کوره وتښتيدله.

د دې خبري په اورېدو سره د کوتري مور په زړه کې خوشحاله سوه، چې لور ئې کوتره په خپل بخت پسې تللې ده. د پلار ظالم او د هغې د کشري ښځې له ناروا وو خلاصه سوی ده. هغې ته دا خبره يقيني بريښيدله، چې په کلي کې خو د لونګ په نوم بيله د خاله د زوی لونګ څخه بل هلک دلونګ په نوم نه و. دې خبري د هغې زړه ته بشپړه تسلي ورکوله.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوتره

کوتره چي په ښايست کي وتلی پيغله ځيني جوړه سوی وه، ډېره هوښياره سوی هم وه، او په ټولو رازونو د خپل ژوند ښه پوهيدله. هغې تل له ځانه سره د خپل برخليک په هکله سوچونه کول. په هغه کور کي چي دا لوييده، يو خوا ته بې پروا او ظالم پلار، بل خوا ته د مور ورکه، د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکه بندیتوب، د انا، خاله او ماماګانو څخه را جلاوالی او د هغوی پر نـا معلومـه خوا تلل، د مور د بنو او میرو میندو سره په کور کي ژوند، دا ټولي نـاخوالي وي چي د هغې ژوند ئې په ربښتیا ور سخت او تریخ کړی و.

پـه وروسـتیو وختونـو کـي خـو ئـې پـلار هـم کـور تـه چندانی نه ورتلی؛ پدې چي یوه ښـځه د کوترۍ مور ئـې ورکه سوه،د کشري ښځي سره خفه و، د دوو نـورو ښـځو څخـه خـو لا پخـوا لاس پـر سـر و. هغـه د خپلـو نـورو ټوپکوالـو سـره پـه کوټـه کـي اوسـیدئ، هلتـه ئـې هلکـانو خدمت کاوه، مګر هغه پخوانی دبدبه ئې نه وه پاته.

سره لـه دې چـي ډېر وخـت تیرسوی و، بیـا هـم کلـه نـا کله ئې پـه زړه کـي د لونګ د مورسره خیـالي یادونـه او مینه پـه زړه کـي را ژونـدی کیدلـه. هغـه بـه غیرمسـتقیم لـه هلکـانو څخـه د لونـګ او د هغـه د مـور پوښـتنه کولـه، خـو بیرته به ئې ځان تیر کئ.

*** *** ***



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلتـه د خپـل کلـي څخـه ليـري د لونـګ مـور خپلـي خواری کاږي، غاز پر غاز، يکي پر يکي غِران پرغِران سر پر سر سره ږدي. هغه پدې فکر کي وه چي په خپل ژوند کي د لونګ جان کور ور جوړ کړي او نـاوې ئـې ووينې. دا نو د لونګ د مور وروستۍ او خورا لويه هيله وه.

لونګ د خپلي مور يوازنی زوی و. هغه به نو ۱۷ يا ۱۸کلن ځوان و. ښه روغتيا، ښه قد او بازو خدای ورکړې وو. مور ئې ښه کالي،صدرۍ او څپلۍ په اغوستل، د پاچ لنګوټه ئې په سر تړله، او بهرام جانۍ چوټې (څپلۍ)، يا زرېنه سوچه چوټې ئې په پښو کولې. د کليو ډېرو نجونو په زړونو کي ئې ځای نيولی و. د کلي په ټولو ځوانانو کي د لونګ جوړه نه وه.

دا ئې لا څه چي لونګ د مسجد سبق ويلی و، حتا ليک ئې ليکلای او لوستلای سوای. په هر کور او کلي کي نر او ښځې ټولو لونګ په ښه رنګ، ځواني او ښو


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلاقو يادا وه. د کلي ډېرو نجونو ته هغه يو پيژندل سوى ځوان و. د هري نجلۍ زړه غوښتل چي د لونګ سره واده وکړي. مګر بې کسي او غريبي ټولي د روازې د لونګ پر مخ تړلي وې.

د لونګ اسکيرلي مور چي د ټول کلي په راز، خير او شر پوهه وه، د ټولو کورنيو نجوني ئې ښې پيژندلې، د هر چا سره ئې دوستي زړه نه غوښتۍ او هر چا ته ئې زړه نه سو ورنږدې کيدلاى. په خپلي غريبۍ او خوارۍ ئې څه پيسې سره يو ځاى کړې وې، چي د لږ ولور د ورکړي وسه ئې درلوده او يوه خوشحالي ئې پرې جوړولاى سوه. هغې به هر وخت ويل: چي د غه يو زوى مي دئ، هر څه چي لرم او ګټم، د ده د خوشحالۍ له پاره ئې لګوم.

*** *** ***

يوه ورځ چي لونګ کور ته راغې، د ډوډۍ خوړلو پر وخت ئې خپلي مور ته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ادې! زموږ د کوره سره نږدې قوماندان تيرېدئ، روغبړ مې ورسره وکی، زه ئي اول ونه پيژندم، وروسته ورسره ملګرو هلکانو ور وپيژندم. هغه زما په ليدو ډېر خوشحاله سو. مورجاني تا ته ئي هم ډېر سلامونه ويل. ما ته ئي وويل:

- هلکه، ستا څخه خو ښه ځوان جوړ سوی د ئ. مور خو دي بيخی ښه ښځه وه، دا ډېرکلونه زموږ کره نه ده راغلې، جوړه خو ده؟

بيا ئي زياته کړه: چي ته هم نه را ګرځې، ډېر خو سره ليري نه يو؟ په څه خواري اخته يې که نه؟

ما ورته وويل:

- يوازي د خپلي مور خدمت کوم او په مسجد کي سبق وايم.

لونګ يوه سا واخيسته،بيا ئي مور ته وويل:

- قوماندان را ته وويل، راسه زموږ انډيوال سه، جنګ ته دي نه استوم. تا به د ځان سره ګرځوم، په تا باور لرم.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته زما سره عربان، د مقاماتو سړي او نور ډېر خلک سته، هغه به سبق هم درته وائي.

د دې خبرو په اورېدو ئې د مورد زړه شرک سو، سر ئې پر له وگرځيدئ او په فکر کي ډوبه سوه، بيا را پورته سوه، د ځانه سره گډه سوه:

- يــا خدايـــه! ميــړه او يــوازني ورور دي را څخـــه واخيستل، د تربرو لـه بيري مي کور او کلی پرېښود، اوس دي بيا دلته دا ظالم قوماندان را ته بلا کئ...ولـي، ما څه گناه کړې ده؟

د لونگ د مور زړه ته تيره سوه، چي قوماندان له دې لاس نه اخلي، او پدې چل لاره خلاصوي. هغې خپل زوی ته څه و نه ويل، او چوپه خوله پاته سوه.

لونگ چي اوس چټ ځوان و، پوه سو، چي د مور ئې نه ده خوښه. هغه ته يو ځل بيا د خپل ښوونځی سوځيدل، د پلار اوماما بې رحمانه وژنه، له هغه د کتابونو اخيستنه او سوزونه ور په ياد سول.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فکرونو کي لاهو سو، او د هغو بد مرغو ټوپکيانو بڼې ئي تر سترګو سوې. يو دم لکه لـه خوبـه چـي راوېښ سي؛ د هغه ظالم اواز ئي په غوږ کي ازانګه وکړه. هغه لړه شيبه وروسته، بيرته له فکرونو او سوچونو را ووت.

د هغه په زړه کي چي هر څه تير سوي و، خو د اوس له پاره ئي په ښکاره څه و نه ويل.

لونګ هم يوکليوالی ځوان و، و بيکاره کليوالي ځوانانو تـه پـه کليـو کـي د ناسـتي او ولاړی ځايونـه، د مجلـس او بنډار ځايونه همدغه د ټوپکوالو اتاقونه وو. د هر ځوان د بنډارسره مينه وي. ټول د کلي ځوانان پدې مصيبت لړل سوي و.

لونـګ بـه د خپلـي مـوره پـه پټـه د ورځـي يـو ځـل د قوماندان اتاق ته ورتلی .هغه هلتـه کليـوال او غيـر کليـوال خلـک لکـه: پاکسـتانيان، عربـان او نـور ډول ډول خلـګ ليدل. چاي، ډوډۍ او مجلس هلته وو.

د تـرور، وژلـو، سوځولو او نړولـو کيسـي، چـور او د څه په لاس راوړلو کيسـي بـه هلکانو کولې، پـه ورځ کـي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځل به د نويو ځوانانو د جلب وجذب دپاره د عربي او پاکستاني ISI استازو له خوا پر هغه دنيا او اخرت کې د جنتونو، حورو او غلمانو وعدې او زيړي ورکول کيدل.

قوماندان له نورو ټوپکوالو کسانو څخه په جلا کوټه کې اوسيدئ. هغه به زيات وخت د مخابرې په نوم په يوه کوټه کې د دوو ښايسته هلکانو سره چې په دواړو ئې تورخو ښايسته، ښوی د ميکس يا ټيټرون کالي اغوستل، دهغوی سره ناست او پروت وو.د مخابرې کوټې ته هيڅوک بې له هغه د اجازی ورتلای نه سوای. هر هغه څوک هلته ورتلای سوای، چې زيات به ورته اعتباري و.

د لږ وخت په تيرېدو، لونګ په خپله ناسته، پاسته، کړو، ښايست او جرأت سره د عربو او پاکستانيانو پاملرنه ځان ته وروااړوله. لونګ ته اجازه ور کړل سوه، چې په ټولو کوټو او سرايو حتا د مخابرې اتاق ته هم بې له تلاښئ او پوښتني ور سي. هغه پدې ډول د دوی په کار او خدمت کي ځان مشغول کړ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ ته وخت نا وخت د نورو جنګياليو او افرادو په نيامه (په پټه )کوم عرب او يا پاکستانيوالisi څه لاس هم نيوئ، څه پاکستانی کلداري به ئي لاس ته ورتلي. دا کار د لونګ د نور فعاله کيدو او تشويق سبب ګرځيدئ.

قوماندان هم پر لونګ نسبت نورو جنګياليو ته زيات اعتماد کاوه. هغه لا د لونګ مور له ياده نه وه ايستلې. قوماندان د خپل کور ټولي چاري لونګ ته وسپارلې. اوس نو لکه مرغانو ته چي د انه واچوې او يا هيليو ته مله په اوبو کي کښينوې.

د قوماندان په خام خيال که ئي د لونګ مور يو ځل بيا په نصيب سي. لونګ سربيره پردې چي د جنګياليو، پاکستانيانو،عربو او مخابري کوټو ته بي له اجازې ورتلای سي، د قوماندان کور ته هم په خلاص مټ لاس رسی پيدا کړې و. د لونګ مور دقوماندان،ځای او کورته دلونګ په ورتلو هغه وخت خبره سوه، چي کار تر کار تير و.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې بیوزلی د لونګ د را ګرځیدو هڅې د خپل وس برابر وکړې، خو بې ګټې وې. هلته د قوماندان په کور کې د قوماندان درو سرو وریاتــه ښځو نسبت نورو مزدورانو ته لونګ ته لا هماغسې د کوچنیوالی په سترګه کتل، چې د خپلې مور سره به د دوی کور ته ورتلئ، هغوی به لونګ له نازه لونګین باله.

د قوماندان د هغې مشرې تښتیدلې ښځې لور کوتره چې د لونګ همزولې وه، کله چې به لونګ د خپلې مور سره د دوی کور تـه ورتلئ، هغه وخت به دې د لونګ سره لوبې کولې؛ اوس دواړه برابر ځوانان وو، وروسته له ډېرو کلونو ئې بیا یو بل سره پیدا کړل. په لیدو ئې هغه تیرې خاطرې په زړونو کې را تازه سوې، دلیدو په هغه اولو څو ورځو کې ئې په زړونو کې یو له بلـه مینـه سره را پیدا سوه او یو پر بل سره مین سول.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کوترې او لونګ لیونۍ مینه

د لونګ او کوترې تر منځ د کوچنیوالی دوستې اوس د ځوانۍ په لیونۍ مینه واوښته. د لونګ او د قوماندان د لور تر منځ مینه د دوو نه تجربه لرونکو ځوانانو مینه وه. د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د ډېر احتیاط سره سره د ډېر وخت لـه پـاره دا مینـه پټه پاته نه سوه.

د لونـګ او کـوتري تـر منځ پـه پاکـه مینـه د قومانـدان یـوازنی کشـره ښـځه څـه، بلکـي درې سره پـه کـور کـي ناسـتي ښـځي ښـې پوهیـدلي. څنګـه چـي دوی ټولـو کـوتره خپله لور نه ګڼل. هغوی کوتره د بنـي لـور بللـه. پس درې واړه بنــي خوښــي وې چــي کــوتره بــد نامــه ســي. دوی خوشحاله پدې وې چي کوتره د یوه مزدور سره جوړه ده.

د قوماندان درو سرو ښځو په ګډه کوښښ کـاوه، چـي د کوتري او لونګ تر منځ د میني اړیکی د بد نامي تر پولي ورسوي. خو کوتري او لونګ په ډېر احتیـاط او مهـارت د ټولو نه پټه په شپه کي په سرای، پر بام، کله هم په باغچـه کـي سره لیدل، د خپلـي مینـي د ټینګښـت او بـې خطـره پایښت تارونه ئې نغاړل.

دوی دواړه چي به هر ځل سره مخا مخ کیدل، د مینـي او محبت کولو پر ځای ئې ټول وخت پدې تیرېدئ، چـي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور به څنګه پر مخ ولاړسي. نژدې يو کال دوی په پټه سره ليدل. د کورنۍ نجلۍ کوترې خو په وس او اختيار کې يوازې او يوازې خپله اراده او خپل ځان و. هغې به لونګ ته اطمنان ورکوئ:

- ځان درسره وژنم، ترخپل سر در سره تيره يم او تر مرګ به درسره يم، بې له تا مې ټول ځوانان په دين او دنيا ورونه دي، نورلونګه ته پوه سه او کار دې چې څنګه کوې.

لونګ چې د کوترې رښتونې، د مينې ډکې اوغيرتمندې خبرې اورې، حيران به پاته سو، چې څه وکړې؟ هغه يو غريب، يتيم، بې کسه نوی ځوان دئ. هغه داسې په فکر کې ډوب د خپلې مور ليدو ته ولاړی. اوس په دوه زړه کې دئ، چې د خپلې مور سره خپل مشکل شريک اومشوره وکړې که نه؟ ځکه لونګ پوهيدئ، څه وخت مخکې چې هغه د قوماندان ځای ته تلی، مور ئې دومره ډېره خوښه نه وه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو لونګ حيران و چې څه وکړي. يوې خوا ته هغه کوتره چې مور ئې د کوره وتلې او ورکه سوئ وه، د نيکه کورنۍ ئې ورکه وه، پلار ئې هغه د سړو د سر قاتل، بل خوا ته خپله غريبي، يوازنۍ کونډه مور، بې کسي، پردی کلی دا ټول غمونه او جنجالونه به دی څنګه پر سر واخلي؟ اخر څه وکړي؟ هلته د کوترې سره په هر ځل ليدنه کې کوتره د غيرت او مينې خبرې ورته کوي.

لونګ زړه بايللی دئ، نه په ناسته پوهيږي او نه په ولاړه. هر څه چې فکر کوي، بله لاره اوچاره نه وينې. بې له خپلې مور څخه بل تيرونۍ خواخوږی او دوست نه لري. چې ده ته مشوره ورکړي. د خپلې مور څخه د بيرې سربيره زيات شرميږي هم، نو توکل ئې پر خدای، زړه ئې را غونډ کئ، راغئ؛ خپل يوازنی مرستندوې مور ته کښينستی، ټوله کيسه ئې بې پردې او سپينه ورته وکړه.

مور ئې چې د خپل زوی خبرې واورېدې او د هغه مينې ته ئې وکتل، په فکرونو کې ډوبه سوه، سر ئې پر



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنګنونو کښېښنود؛ ټولې تيرې پېښې ئې يو ځل بيا په فکر کې له سره را وګرځيدلې او تر يوې اوږدې دمې وروسته ئې سر را پورته کړ، او اوږده سا ئې وايستله.

د لونګ د مور نو د لونګ سره د خبرو پر وخت دغه تکيه کلام و:

- لونګه زويه! مورکه دې ستا بلا واخلې. زه چې تپيدم، ستا له پاره تپيدم؛ زما يوازنی هيله ستا خوشحالي او ستا د زړه ساتل دي. که زما د سر په بيه هم دا خبره تمامه سي، ځان به تر تا جار کم.

هغې زياته کړه:

- هو، زويه! زه پوه سوم چې پر کوتره دې زړه بايللی دئ، په هر ډول چې وي، دا کار به ان شا الله کوو. زه ستا د دغې غوښتنې د پوره کيدو په لاره کې درسره يم.

د لونګ مور له ځايه ورو ولاړه سوه، خپل زوی لونګ ئې پر سر او مخ مچ کړ او په زړه پوري ئې ټينګ ونيوئ، بيا ئې ورته وويل :



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ګرانه زویه! ما تاته ویلي وه چي زه نوره ښځه نه یم، اوس نر میړه یم، ستا په خاطر د کوتري د پلار پر ټولو بدیو او دښمنیو ئې سترګې پټوم. زه چي تا لرم، عزت لرم؛ نو مور دي ستا بلا واخلي، فکر دي مه خرابه وه. غر که هر څومره لوړ سي بیا هم پر سر ئې لاره سته. ښه سو، چي خبره دې کړم، "سلا د مړو هنر دئ"ته بې غمه اوسه، په یوه اونۍ کي دننه دننه به زه هر څه درته سم کړم. یو ځل به زه خپله هم کوتره له نژدې ووینم. په رنګ کي خو کوتره ښایسته او په خوی کي هغه وخت چي ما لیدلې وه، یوه حیا ناکه نجلۍ وه، مګر دا څو کاله ما دنژدې نه ده لیدلې، ښه دئ، زه به ئې یو ځل بیا هم ووینم.

لونګ خوشحاله او زړه ئې باغ، باغ سو. د خپلې غیرتي مورجاني لاسونه ئې ورمچ کړل، له هغې ئې رخصت راواخیستې او بیا د قوماندان ځای ته په خوشحالي او هوس ولاړئ. د شپې د ډوډۍ پر وخت ئې په کوتره ځان ولیدئ، خو د خبرو موقع نه وه. د ماخستن



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لمانځه وروسته ئې تلوار و، چې د خوب په پلمه له مجلسه ولاړ سي.

لونګ ته مځکه ځای نه ورکوي، په زړه کي ئې اور بل و، غوښتل ئې چې ژر د کوتري سره وګوري، څو دغه خپله خوشحالي د هغې سره نیمه کړي او ورته ووائي، چې مور ئې ورسره منلي ده او هغه به مرسته را سره کوي.

کله چې دا نور ټوپکوال ځوانان پرېوتل، لونګ د قومندان کور ته تیر سو. په زړه ئې نو یو الله خبر و، خو د کوتري سره میني ئې بیره او وهم له مغزو تښتولی وو.

کوتري هم دننه په کور کي خپلي دوې سترګي د خپل زړه وړونکي لونګ د راتلو په انتظار د سرای د دروازې د غلام ګرد پر لوري پیره دارانې کړي وې. په خپله خونه کي دننه د پردې تر شا په تیاره کي د بت په شان ولاړه وه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شپه نو د دوو یو پر بل ګرانو لـه هر څـه محرومو ځوانانو له پاره د امیدونو او خوبونـو د ربښتیا کیدو یوه د خوښیو ډکه پیلامه وه، خو خورا ګرانه پیلامه.

کله چي لونګ مازي تر دا غلام ګرد د سرای غولي تـه ور تیر سو، کـوتره د سترګو پـه رپ کـي لکه لمبـه پـر را تاو سوه او لونګ ته ئې پر ځیګر، ځیګرپه خپلو نرمـو او پستو لاسـونو سـوکان ورکړل او بیـا ئـې لونـګ پـه خپلـه نرمه او ګرمه غیږه کي داسي ټینګ ونیوئ.

لمړی ځل دئ چي کوتره او لونګ سره غاړه او غړئ سول. لونګ د کوتري د زړه درزا په خپلو غوږو اوریدل. کلـه چـي ئـې د کـوتري ومخ تـه وکتـل، وئـې لیدل، چـي د کـوتري تـر سـترګو اوښـکي پـر نازکو،سـپنو او سـرو باړخوګانو داسي رڼی رڼی را بهیدلي.

لونګ هم د دې پـه نرمـه غیږه کـي خپـل حـواس بـایللي وه.

کوتري لونګ ته وویل :

- څونه وځنډیدې؟ تا خو ویل ژر راځم!



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ ګنګوره سو په ځان نه پوهیدئ.

کوتري بیا پوښتنه ځیني و کړل! تاخو وویل:

ژر راځم څونه وځندې دې؟

بیا نو لونګ وویل:

- یوازې  یوه شپه نه وم.

کوترى وویل:

- ما چي ویل کال تیر سو.

لونګ وویل:

- راسه، چي زېرى دربانديي وکړم!

- ښه، ژر سه را ته وایه!

لونګ وویل:

- ولاړم، خپل زړه مي راغونډ کئ، خپلي مورجانى ته کښېنستم ټوله کیسه سپینه او صفا ورته وکړه. پوهیږې؟...هغې راسره خوښه کړه، چي زه به له تا سره واده وکم.

کوترى وویل:

- ښه، مور دي نور څه ویل؟



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مور مي راځي او ستا سره خبري کوي.

د لونګ او کوتري شپه پدې ډول سوالونو او ځوابونو کي دا لته په ولاړي داسي خوړه او لنډه تیره سوه، چي د وی یو د بل په لیدو او کیسو لا ماړه نه وه، درنګ ملا د سهار اذان وکئ. ډېرو لږو ځوانانو به په خپل ژوند کي د اسي یوه شپه تیره کړې وي.

د بلي ورځي په سهار لونګ بې خوبه و. سم کار ئې نه سو کولای، مګر نسبت نورو ورځو ته زیات خوښ و. پــه اتــاق کـــي راتــول جنګیــالي، قومانــدانان،عربان او پاکستانیان ټول د لونګ رفتار، بې خوبۍ او خوشحالۍ ته د شک په سترګه کتل.

هلته د لونګ مورهم چورتونه وهل. هغې د ځانه سره فکر کاوه، که د قوماندان لور ته په مرکه ورسم، باور ئې نه راتلئ، چي خیر دي ووینې. ځکه پوهیدله په دې چي دا او زوی ئې غریبان دي. دې په خپله هم د هغوی د کور مزدوري کړې ده او لونګ هم د دوی مزدوراو د مزدوري زوی دئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زما ورتګ او مرکه به قوماندان بده وګڼي. هغه به دا د ځان سپکاوی وبولي. له امکانه لیري نه ده چې زوی مې په یوه تور را تومتي کړي. هغه به بندي او حتا د مرګ خطر ئې هم سته. پیسې نه لرو، چې د جګ ولور او لوی واده خبره ور سره وکړم.

د لونګ مور په چرتونو کې د خپل میړه او ورور وژنه او د قوماندان نا پاکه کړه وړه هم په زړه کې ورتیر سوه، او نوره هم په فکر کي ډوبه سوه، چي په راتلونکي کي به د هغه سره څه ډول دوستي پالي؟...هغی چي هر څومره فکر وکړ، نو دا دوستي هیڅ ممکنه نه وه!

د لونګ مور د ځانه سره وویل:

- یوازي دا یوه لاره را ته پاته ده، خیر دئ د لونګ په خاطر به قسم مات کم، د قوماندان کور ته به وروسته له ډېره وخته یو ځلي ورسم، خپله به مخامخ د کوتري سره له نژدې وګورم.

د لونګ مور بله ورځ د قوماندان کور ته ورغله. د قوماندان ښځو د لونګ د مور په ورتګ زیاتي خوشحاله


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هم حيراني سوې. ښځو بيا هم د لونګ د مور عزت وکړ. ځکه د لونګ مور وروسته له زيات وخت تيرېدو ځخه د دوی کور ته بيا ورغلې وه.

کوتره چي د لونګ د مور د ورتلو په مقصد پوهيدله، د هغې په ليدو زياته خوښه وه. د لونګ مور هڅه کوله، چي د خپل ورتګ سبب يوازي وکوترې ته و وائي او د هغې د خولې خبري واوري. د ماپښين د لمانځه پر وخت، کوتري د لونګ مور ته د اودس تازه کولو ګډوه له اوبو ډکه کړه او ور ته وئې ويل:

ـ خاله، د اوداسه اوبه دغه دي، لمونځ به زما په خونه کي وکې.

د لونګ مورخوشحاله سوه، تر اودس تازه کولو وروسته، د کوتري خوني ته ولاړه. کوتري د لمانځه مسله ورپسي ور وړل. د لونګ مور د لمانځه تر ادا کولو مخ کي کوتري ته د خپل ورتګ سبب ووايه، چي ما ته لونګ خبره کړې ده، غواړم ستا له خولې ئې هم وارم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زويه! موږ خو ډېر غريب خلک يو، زه او لونګ خو هيڅ شی کور، ځای او پيسې نه لرو، ته څنګه زما د زوی سره واده کول غواړې؟

کوتری په ډېر جرات سره د لونګ مور ته وويل:

- موري! په هر څه خبره او پوهيږم، ډېري پيسې زما پلار لري. دغسې ډېري مايني هم لري... په خدای باور وکه، چې يوه ورځ مو د خوشحالۍ ګوله نه ده خوړلې؛ ټوله ورځ په کور کې وهل، ډبول، جنګونه او دعوې وي. بې له لونګه نور ټول نارېنه وما ته ورونه دي.

کوتره د دې خبري په کولو سره په ژړا سوه، او د لونګ د مور پر لاسونو ور پرېوتله او په ژړا کې ئې ورته وويل، بې له لونګه ژوند نه غواړم، ته مې مور سه، زه به دي لور سم. هر څه چې را ته وائې، هغسې کوم.

د لونګ مور د کوتري اوښکي ورپاکي کړې او وعده ئې ور سره وکړه. هغې ته ئې وويل:

- زويه! زه لاره جوړوم، ته بيغمه اوسه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــوترې چــې د لونــګ د مورمهربــاني او ډاډګيرنــه واورېدله، نو ئـې د هغـې لاسونه ورمچ کړل، او ورتـه وئـې ويل:

- موری! زه دې بل زوی سوم.

د لونګ مور هم کوتره پر تندی مچ کړه.

د لونګ مور د لمانځه تر ادا کولو وروسته، کوترې تـه وويل:

- زويه! بيا بـه لونګ تـه نوري خبـري وکړم. اوس بـه زه ولاړه سم، چې دا مندي دي اشتباه و نـه کړي چـې ډېر وخت مي ستا په خونه کي تير کي.

د لونـګ مـور د خـوني را ووتلـه، د قومانـدان لـه ښـځو څخه ئې هم دکورته تلو رخصت واخيست او د هغوی لـه کوره راووته.

په لاره کي ئې لونګ وليد او پوهه ئې کړ، چې خبره سمه ده. بيا بله ورځ يو ځلي کور ته راسه.

*** *** ***



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام چې کوترې او لونګ بيا سره وليدل، کوترې ژر لونګ وپوښتی:

- مور دې نورڅه وويل؟

لونګ ور ته وويل :

- مور مې ستا څخه خوشحاله وه، ما ته ئې  وويل، يو ځل بيا کور ته راسه.

کوترې لونګ ته وويل:

- نو څه ته ګورې، ژر ورسه، چې مور دې خا مخا څه درته وائي.

لونګ کوترې ته وويل:

- اوس شپه ده، سبا به ستا له پلاره اجازه واخلم، کور ته به د مور ليدو ته ورسم.

خو کوتره نا ارامه وه، نه پوهيدله چې د لونګ مور به کومه لاره پيدا کړي، چې زما او د لونګ واده وسي. پدې خبرو خبرو کې بيا پر دوی سهار سو.

بلـه ورځ چې لونګ د مور ليدو تـه راغـئ، مور ئـې هغه ته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زویه! د پنجشنبې په شپه به کوتره له کوره را وتښتوي، ما به هم خپل يو څه ضروري شئ مئ سره تړلي وي، درې سره به دا کلي هم لکه خپل د پيدايښت ټاټوبی چي مو پرېښود، پرېږدو.هو دا ځل نو موږ مجبور يو، چي د دې بلاو (مجاهدو) څخه د ځان خوندي کولو په خاطر ليري هغه د کُفري حکومت په لاس کي نژدې ښار ته ننوځو چي پټه مو د دوی څخه ورکه سي.

د لونګ مور له لږ چوپتيا وروسته زياته کړه:

- که څه چي ما خو ښار ليدلي نه دئ، زويه! اما خدای بخښلي پلار به دي کيسه کوله، چي ښار يو غټ ځای دئ، هلته خلګ ډېر دي؛ هلته به ژوند او ګوذاره کوو. خلګ وائي تر کلي په ښار کي کارونه زيات دي. يوازنی د پټيدو ښه ځای هم ښار دئ. هلته په ډېرو خلګو کي موږ خلګ څه پيژني. تر هغو به هلته ژوند کوو تر څو چي دا ټوپکوال خدای ج ورکوي.

د لونګ هم د خپلي مور خبره خوښه سوه. هغه چي شپه په خپل کور کي د مور سره تيره کړه، سهار ئې



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوس و، چې ژر ولاړسي. ځکه غوښتل چې کوتره خبره کړي، څو هغه هم تیاری ونیسي.

په دغو وختونو کې لا ټول کلي یو مخ تور (خالی) سوي نه و، څه کورنی لا پر خپلو کورونوپاتی وي. تر لنډ ځنډ وروسته، لونګ بیرته د قوماندان ځای ته را ورسیدئ.

لونګ ولیدل چې په دا یوه شپه کې وضعه بدله سوی ده. د قوماندان په کور کې د یوې لوی میلمستیا له پاره تیاری نیول کیدئ. د کور په مخ کې څو سړیو لرګي ماتول، څو تنو نورو په سراچه کې د دیګدانو په جوړولو او څو تنه نور د مځکې په اوارولو او سمولو سره بوخت وو.

سره له دې چې نیم کلي تور ولاړ دئ، بیا هم په کلي کې پا ته خلګ را جمع سوی دي. په همدې وخت کې لونګ را ورسیدئ. قوماندان چې لونګ ولید، هغه ته ئې وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ لونګه! تـه چیرې غیب وې؟ د کـار پـر وخـت ورک سي. ځه، دلته څه کوي چي ولاړ ئې، کور ته دننه ورسه، د ښځوسره کومک وکه.

لونګ د وضعي په لیدو په چورتونو کـې غرق سو.دی نه پوهیدی چي اصلي کیسه څه ده؟ کله چي کـور تـه دننـه سو، ګوري چي په کور کي ښـځي پورتـه او کښته کیږي. ښځو چي لونګ ولیدئ اوس نو هر کـار پـه لونګ کوي. هغه هم د ښځو سره په کار لګیا سو .هڅه ئې دا وه چي ځان پوه کړي.

د نورو ورځو او میلمستیا وخلاف نن خپله مینه کوتره نـه سي لیدلای. کـوتره د خپلـې خـوني نـه راوزی؛ ټولـو ښځو ښه کالي اغوستی وو، هري یوې پسولونه پـه ځـانو ځړولي وو، د ټولو لاسونه سره وو، هري ښـځي د نـاوی په شان ځان جوړ کړئ و. د لونګ دا اولـه ورځ وه، چي دا سي ډېري سینګار کړي او جوړي کړي ښځي ویني.

اوس خو لونګ چټ ځوان و؛ پـه هر څـه ښـه پوهیدئ، مګر دا چي خپله کوتره نه سي لیدلای، یا هغه له خوني نه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



را وځي، نو سخت غمګين و. تر ماښام پوري لونګ د ښځو سره کار وکړ، مګر کوتره ئې و نه ليدله.

شپه سوه، لونګ راغی، د نورو جنګياليو په مجلس کي کښيناست، خو فکر ئې ډېر خراب و.لونګ همدلته د نورو توپکيانو د خولي خبر سو، چي سبا سهار د قوماندان سرکښ له کوره سړي او ښځي راځي، د قوماندان د لور کوتري شيرېني او دستمال وړي.

د دې خبر په اورېدو سره نه يوازي د لونګ پر سر بلکي په سينه کي اور بل سو، مځکه سره سوه، د ده پر شپه سوه؛ نه پوهيدئ، څه وکړي.

يوې خوا ته قوماندان ډېر خوښ و، او وېل به ئې چي د يوه لوړ کور سره ئې د دوستۍ خبره سوې ده. لونګ له مجلسه ولاړسو، او ولاړي؛ په خپله چريکي بستره ننووت، له ځانه سره ئې د غم په دنيا کي دخلاصون لاره لټوله.

قوماندان راغئ، شا و خوا ئې وکتل او په مغرورانه ډول ئې وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هلکو، پام مو ونیسئ، چې سهارزما د میلمنو ښه عزت وکړئ، دغه مې مشره لور ده، زوی نه لرم؛ دا زوم به مې زوی هم سي.په خپله کور ناخبره.

لونګ غمجن پروت دئ، هر څه پر خپل زړه تیروي او لار لټوي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکوزدې شپه د کوترې تيښته

دا هغه شپه وه، چې توپکمار د خپلې لور کوترې د ورکړې خوشحالۍ کوله. خپلو سړو ته ئې د سبا ورځې د ميلمنو دعزت کولو او کارونو د وېش امرونه کول. ده خپلې خبرې نوې پوره کړې، چې يو پيره دار راغئ او هغه ته ئې د اسې ويل:

- قوماندان صاحب، نن بندي ته چاهيڅ ډوډۍ را نه وړه!



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان د نورو ټوپکوالو په شان چي د خپلو بادارانو (ISI) څخه ئې زده کړی وه، د هغوی د پلانو او غوښتنو برابر ئې هر مکتب لوستی او هر حکومتي مامور، سرتیرئ او افسر چي نیوئ هغه ئې ژوندی نه پرېښود. دوی به اسیران مسله کول،په دار ځړول،سنګسار کول اوپه فجیع توګه به ئې وژل.هغه څوک چي د پیسو په مقابل کي به ئې د تبادلې او خوشي کیدو امکان و هغه به ئې په پیسو تبادله کول..او که به ئې پیسې ورنه کړې، هغه ئې وژل.

ټوپکیانو د بندي د ساتلو هیڅ عادت نه لاره مناسب ځایونه او تدبیرونه، نه لرل.اول ځل و چي قوماندان خپل خُسر ژوندی بندي ساتلي و، د دې خبر په اورېدو چي کرئ ورځ ئې بندي خسر وږې پروت دئ، خدای سته،له ځانه سره څه خړ سو. ځکه قوماندان او ټول ټوپکوال پو هیدل، چي بندي د ده خُسر او د هغي کوتري نیکه دئ، چي سبا ئې بل ته دی کوزده کوي.

قوماندان پر لونګ ږغ وکئ:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هلکه لونګه! پورته سه، کور ته ولاړسه، وګوره، که د خوړو څه وه، بندي ته ئې راوړه.

لونګ چې په يو عالم غمونو او فکرونوکي ډوب پروت و، تر دغه وخته پدې هم نه پوهيدئ، چې دغه بندي د قوماندان خُسر او پر ده د ميني کوتري نيکه دئ. لونګ ځکه په ډېره مينه له ځايه ولاړ سو، او د قوماندان کور ته ولاړ، چې که وکولای سي، کوتره له نژدې وګوري او ځان پدې پوه کړي، چې دکوتري اراده څه ده او څه کوي؟

لونګ چې د قوماندان کور ته ورغی، د قوماندان د هري ښځي د خوني دروازه ئې جلا جلا ور وټکوله، د څه خوړو د تيارېدوغوښتنه به ئې ځيني وکړه، خو د ده بيوزله په خبره هيڅ يوې هم غوږ و نه ګراو. ځکه د قوماندان ښځي پوهيدې، چې بندي خو د کوتري نيکه او د دوی د بني پلار دئ.

لونګ ته خدای ور کړه، دغه ئې پلمه وګڼله او راغی د کوتري د خوني دروازی ته. د کوتري د خوني د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازی ځنځير ئې وشرنګاوه، او په کښته اواز ئې ور
بږغ کړل، ور ته وې ويل:

- لونګ يم ، لونګ!

کوتري چي تيره شپه لونګ نه و ليدلی، ډېره غمجنه او
د ځان سره ئې زيات ژړلي و. ځکه پلار ئې د هغې له
خوښــی خـلاف، اراده درلـوده، چــي سـبا ئــې بـل چـا تـه
کوزده کړي. هغې د لونګ سره ژبه کړې وه او د لونګ
سره ئې مينه وه. نو له ډېره ګرومه او خواشينی څخـه ئـې
زړه پړسيدلی و؛ نه پوهيدله چي څه وکي.

څــه وخــت چــي ئــې د لونــګ اواز واورېـدئ، لکـه د
اسـمانه چـي يـوه غيبـي نـاره پـر وسـي، ژر ئـې دروازه
خلاصه کړه او لونګ ئې په خپله غيږه کي ټينګ ونيو،
خپـړي ئـې پـه ولګـولې. لونـګ ور تـه د خپـل کـار او
فعاليت خبري لنډي وکړې، او د تيښـتي پـلان ئـې ورسـره
شريک کړ. بيا ئې ور ته وويل:

- پلار دي را استولی يم، د هغـه بنـدي د پـاره ډوډئ را
کړه چي ور ئې وړم .


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتره د دې خبري په اورېدو شکمنه سوه، ځکه دا نـه پوهيدله چي بندي به د دې نيکه وي. باور ئې نـه راتلـئ، چـي د هغـې نيکـه دي د دې پـلار تـر دا اوسـه ژونـدی ساتلی وي. بيا هم هغې ژر، ژر خپل له خوني را ووتـه، څـه د خوړو شيان ئـې سـره جوړکړل او لونـګ تـه ئـې ورکړل.

کوتري لونګ ته وويل:

- دا معلومه که، چي بندي څوک دئ؟ نه چي زما نيکه وي.

کوتري لونګ ته وويل:

- زه پر خپل نيکه زياته ګرانه وم، که هغه و او کولای د ي سوای، زما او ستا د ميني او تښتي بيان ورتـه وکړه، کـه مـو پـه وسـه وه، نيکـه بـه هـم د ځـان سـره وتښـتوو، د لاري ملګری به مو وي.

لونـګ پـه يـوه کاسـه کـي خـواړه را واخيسـته او کـوتري ته ئې د تيښتي د تياري نيولو وخت ورکړئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ خواړه را ووړل؛ پیره دار لونګ ته اجازه ور کړه، چي په خپله د بندي کوټي ته ډوډۍ ور وړی. لونګ له بندي څخه وپوښتل، چي څوک یي؟ هغه ور ته وویل، زه د قوماندان خُسر یم.

لونګ خوشحاله سو، په یوه شیبه کي ئي هغه په خبره پوه کئ.

مؤظف پیره دار، فکر کاوه چي لونګ خو تر ټولو پیره دارانو زورور حتا د مقاماتو سړی او د قوماندان د کور سړی دئ، له بندي سره د لونګ تماس ئي یوه معمولی خبره وبلله.

لونګ چي د بندي سره خبره پخه کړه، هغه لوښی چي خواړه ئي پکښی را وړي و، هغه ئي د بندي سره پرېښود. خپله بیا د قوماندان کور ته ولاړ، خپلي میني ته ئي حال ووایه. کوتري وختي لا خپله غوټه تړلې وه.

کوتره له کوره را ووته، د مؤظف پیره دار سره ئي په خبرو ځان اخته کړ. په دغه وخت کي چي کوتري د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیره دار سره خبري کولی، لونګ راغي، پیره دار ته ئې وويل:

- هغه د ډوډۍ لوښی مي د بندي سره هیر سوی دئ، کلی را کړه، چي زه لوښی را واخلم، تاسي خپلي خبري کوئ.

ځوان، مجرد او له هر څه محرومه پیره دار، په خپل ژوند کي ديوې ځواني نجلۍ په نرم او پاسته ږغ کي خبري نه وي اورېدلي، و نجلۍ ته ئې مخامخ سم کتلای نه سوای؛ هغې پر خبرو ئې داسي خوند اخیستی، چي له خوښۍ ئې بدن خوله خوله سوی و. په ځان او دې جهان نه پوهیدئ. ده خو دعربو اوپاکستاني جاسوسانو څخه دجنت او هورو بیا نونه اورېدلي وه ،فکر ئې کاوه چي دهوري سره مخامخ سوم.د بندي د کوټي کلی ئې لونګ ته ورکړه.

لونګ لوښی هلته پرېښود، بندي ئې خوشي کئ. بندي په بیړه دباندي ووتی. لونګ خالي کوټه قفل کړه، بیرته راغی، کلي ئې پیره دار ته ورکړه. کوتره او لونګ



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه هـم راووتـل وه. لونـګ، کـوتره او د کـوتري نيکـه درې سره يو ځای سول.

اوس نـو کـوتره پـه داسـي شـپه د کـوره د لونـګ سـره تښتي چي سبا ئې د ورکړې ورځ وه. هلتـه پـه بـل کلـي کـي د لونـګ مـور خـوهم سبا شپې تـه چـي د جمعـې وه د لونګ او کوتري راتلو ته انتظارکا وه.دا څه خبره وه چي حالات بل شان سوي وه.

د لونـګ مـور بـه لا سبا خپلـه تيـاري نيـول، چـي دا دئ يـوه شـپه مخکـي لونـګ، کـوتره او د کـوتري نيکـه ورتـه راورسيدل.

د لونـګ مـور لکـه څنـګ چي لونـګ تـه بـه ئـې ويـل: "زويه! زه له دې وروسته، ښځه نـه يم؛ بلکـي د نرميړه په شان به ستا تر شا ولاړه يم"، په رښتيا چي هغه په دغه شپه د دوی د راتګ تود هرکلی وکړ. وروسته ئې خپل د خوارئ څـه چي لـرل، ټول ځـای پـر ځـای پرېښـول؛ پـه تياره کي څلور سره د لونګ د مور له خوني هم ووتل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی پرېکړه داسې وه، چې داسې ځای ته به ځانونه ورسوي، چې د قوماندان له ظلمه څخه ئې ژوند مصؤن سي. دوی د حکومت تر کنترول لاندي لوی ښار وړ او مناسب ځای بلی. هغوی څلور واړو د شپې په تیاره کي خپل مزل کاوه او تر لوی ښاره ئې ځانونه رسول. هر یو پر لاره د ځان سره فکر کاوه، چې چیري ځو؟

نیکه فکر کوي، څنګه به خپله نوره کورنی پیدا کوم؟ که د قوماندان سړو پیدا او ونیولو، څه به را سره وکي؟ د لونګ څخه هم خوشحالي هیره وه. خو د هغه مور به تولو ته ډاډګیرنه ورکوله چي خدای مهربانه دئ، هرڅه به الله تعالی سم کړي.

کوتري د لونګ سره د میني په خاطر کور پرېښود. لونګ د کوتري سره د میني لرلو له امله د یوه زورور قوماندان بدي او دښمني پر سر واخیستل. د لونګ مور د خپل زوی د هیلو د پوره کولو له پاره ډول ډول خواری پرځان منلي دي. کوتره د لونګ په تشویش پوهیدله، د


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل لونګ پر اوږه ئې لاس ورکښيښود او داسې ئې ورته وويل:

- زما لونګه! فکر مه کوه، يو ځای به ژوند کوو، که ژوند نه و، دواړه به يو ځای مرو.

لونګ جواب ورکړی:

- تا چې لاس کښيښود پر ما
زه نو ولې سر کښينږدمه پر تا

دوی د کلي څخه د لوی ښار پر خوا نږدې اووه ساعته په تياره کې منزل کړئ و، چې ورباندې سهار سو. سخت ستړی وو، ښار هم نور ليرې نه وو. دا دې تر لمرختومخکې يوه د خاورو ډکه لاری (ټرک) ورته ودرېدل. دوی هم ور پورته سول.

پر هغه لنده خاوره کښينستل .لمر ځرک موټر حکومتي تلاشئ ته تم سو. تلاشي والو لونګ له موټر څخه کښته کئ. لونګ د جلب او احضار د ګروپ په لاس کښيووت.

*** *** ***



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سهار د قوماندان په کور کي

سهار وختي د ټوپکوال قوماندان په کور کي ټول نر او ښځي بيا په خپلو کارونو بوخت سوه. دلونګ پوښتنه هره ښــځه کــوي چــي د هغــوی ســره پکــارو کــي مرســته وکړي،لونــګ نــه پيداکيـدئ. د کـوتري د خـوني دروازه ټينګــه تړلــی وه. ټولــو ښــځو فکــر کــاوه، چــي کــوتره شـرميږي، ځکـه نـو د خـوني څخـه د بانـدي نـه را وځـي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځابښت سو، ښځو پـه خپلـو منځو کـي يـوی بلـی تـه سـره وويل:

- کوتره که بيده وي، بايد چي اوس ئې را وېښه کړو. کـه شـرميږي هـم ئـې لـه خـوني را وباسـئ، چـي څـه ئـې جوړه کړو، اوس به مرکه والي ښځي را ورسيږي، دا بـه لا بيده وي.

يـوه ميـره ئـې ورغلـه، د کـوتري د خـوني دروازه ئـې ور وډبوله. بيا هغې هغه بلـي بنـي تـه ور ږغ کـړل، چـي راســه، تــه دروازه ور وټکـوه، ګونـډي ســتا پــه ږغ بــه دروازه خلاصه کړي. هغې هم خپله وسه وکړه او نـاری ئې کړې:

- کوتري، کوتري!

خو کوتري ځواب ورنه کړ. نو هغه دريمـی ميـری ئـي وويـل، چـي لونـګ تـه ور ږغ کـړئ، چـي هغـه د کـوتري پلار خبر کړي، هغه به راسي، زموږ په خوله دا نجلی لـه خـوني د ادئ نـه را وځـي. دوی پـه لونـګ پسـي هـم ډېـر احوالونه وکړل، لونګ هم پيدا نه سو.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې ړغ وسو، چي هغه دئ د کلي سر ته مرکه وال را ورسيدل. د کوتري يوې ميرې جرات وکئ، له خپله کوره را ووتله او قوماندان ته ئې د يوه توپکی پر لاس احوال ورکئ، چي قوماندن ته ووائې يو ځل کور ته راسه. قوماندان چي خبر سو، ښځه ئې را وتلې، نو په زړه کې ښځې ته وخښميدئ، دغسې قهرجن او چوپه خوله کور ته راغئ،

ښځو ئې ورته وويل:

- سړيه! له يوې خوا، مرکه والې ښځې هغه دي را رسيږي، له بلې خوا دي دا لورکوتره له خوني نه را وځي.

قوماندان په ډېر قهر ورغلئ او د کوتري د خوني دروازه ئې په لغته ووهله، دروازه پاشنه سوه، مګر، له هغه لوري ئې کوم غبرګون و نه ليد. قوماندان څه ښکنځل منځل وکړل او خپلو ښځو ته وويل:

- ورسئ، اوس ئې نو په زوره را وباسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې چې خوني ته ورننوتې، خونه ئې هر څه وپلټله، په خونه کې کوتره نه وه.

ښځو بیا قوماندان ته احوال ورکئ، چې کور ته راسه. قوماندان بیا خښمیدلی کور ته راغئ. ښځو خبر کئ چې کوتره خو په خونه کې نسته.

قوماندان فکر کاوه، په کور کې به چیرې بل ځای پټه وي. هغه بیا وویل:

- وګورئ، هر چیرې چې وي، پیدا ئې کړئ.

ښځو کور او باغچه ټوله وپلټل؛ د دوی ټولې هڅې بې نتیجې سوې. خبره لڅه سوه، چې کوتره نه سته. د قوماندان لونګ په کار سو. هغه وپوښتل، دا لونګ چیرې دئ؟

په لونګ پسې چې ئې سرې واستول. لږ شیبه وروسته، دا خبر هم ورته راغئ، چې لونګ هم نه سته. قوماندان امر وکړ، ولاړ سئ، د لونګ کور ته، هغه را ولئ، هلته ئې بندي کړئ، دی ولي بې له خبرتیا په داسې مهمه ورځ چې د کار ورځ ده، کور ته تللی دئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وخت کي مرکه وال نر او ښځي د نجلۍ د ور کولو او دستمال وړلو په نيت را ورسيدل. ښځي ئي کور ته ننوتي او نارينه په سراچه کي ځای پر ځای سول. چای تياري وې خلګ کار کوي. د ورجو او غوښو تر ديګو لاندي اورونه بل دي او ديګونه په مستي کي اېشي. ميلمانه د قوماندان سره ناست وو، خو قوماندان سخت نا ارامه معلوميدئ. هر څوک له ورايه په پوهيدئ، چي کومه خبره سته.

قوماندان ته پرله پسي څوک راځي اوځي ده ته په غوږ کي يوه خبره کوي. د هر استازي تر خبري وروسته، د قوماندان وضعه نوره هم خرابيدله.

دا خبر هم ورته راغئ، چي بندي هم د شپې تښتيدلی دئ.قوماندان اوس پدې خبره يقيني سو، چي فساد ئي په لور کي دئ او هغه هم تښتيدلې ده. لږ وروسته، دا خبر هم ورته را وړل سو، چي لونګ هم نه سته؛ حتا د لونګ مور هم له خپله کوره کډه سوی د ه او څوک نه پوهيږي، چي چيري به تللي وي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قوماندان وضعه تر پخوا هم نوره خرابه سوه. مرکه وال چي هر څه ورته وائي، دی په مجلس نه سي ور ګډېدلای؛ قو ماندان لکه د ډېرو اوبو ژرنده چي اوبو پر سر اخیستي وي، دی هم خپلو چورتونو او غمونو داسي پر سر اخیستی و.

د غرمي د ډوډۍ وخت را ورسیدئ. په همدې وخت کي څوک راغئ، له قوماندانه ئې وپوښتل، چي ډوډۍ وکاږو؟قوماندان د تائید په توګه خپل سر وښوراوه. کله چي د لاس پرېمینځلو ګډوې او دوشئ ګانی راوړل سوې، مرکه والو د لاسونو له مینځلو څخه ډډه وکړه.

هغو غوښتنه وکړه، چي قوماندان صاحب اول زموږ کار راخلاص کړه، چي زړه مو بیغمه سي، بیا به د خیره سره لاسونه ومینځو او ډوډۍ به په خوند وخورو.

قوماندان غوښتل ځان تیر کړي .هغه نه پوهیدئ څه وکړي.ځکه ده ته غم ور پیښ دئ. په کورنۍ او دوستانو کي خو هغه داسي څوک نه و پرې ابښي، چي دی ور سره مشوره وکړي. مهمه او خطر ناکه خبره ئې لا دا



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چي مرکه وال هم تر ده کمزوری نه وو، چي دی ئې د نورو په شان په خپلو ټوپکوالو وبیروي.

قوماندان د پاڼ او پړانګ ترمنځ ولاړ و، هرڅه ئې هیر سول. د مرکه والو مشر وویل:

- تر څو زموږ شیرینی او دستمال را نه کړې، موړدوډۍ نه خورو.

قوماندان د مرکه والو مشر سپین ږیرئ له مجلسه را ولاړ کئ. کله چي ئې د ناستو خلګو څخه جلا کئ، بیا ئې ورته وویل، چي د شیرینی ورکولو ته اوس چمتو نه دئ، بیا به وروسته ګورو.

مګرد مرکه والومشر د قوماندان خبره و نه منله او فکر ئې وکئ، چي امکان لري. قوماندان به د ډیرو پیسو غوښتونکی وي. نو ئې ورته وویل:

- ګوره، دوستي د سلو کلونو لاره ده، ما ترکور،کلي قوم او سیالانوپوري مه شرموه، کنجوسه! هر څه چي غواړې، ووایه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان د عادت خلاف، چي هيڅ وخت ئې داسي نه کول، مرکه وال ته وويل:

- يوه شيبه صبر وکړه.

قوماندان خپل کور ته راغئ، خپلو درو سره ښځو ته ئې وويل:

-اوس څه وکړم؟

ښځو ئې ورته وويل:

- د لته په کور کي هم راغلي ښځي غوښتنه کوي چي يو ځل نجلۍ وګوري.

قوماندان خپلو ښځو ته وويل:

- شيرينی به ورکړو. اول خو بـه کوتره پيدا کړو، او که هغه پيدا نه سوه، نو بيا به زرکه ورته ور واده کړو.

د دې خبـري پـه اورېدو ئـې ګرانـي ښـځي دونـه بـد يووړل، چي مه ئې کوه خبري. لومړی ئې په قهر ميړه ته مخ راواړاوه، او بيا ئې ورته وويل:

- ماينـه (دکوتري مور) دي خورا ښـه پيدا کړه، چـي پاتـه د هغـې لـور سـوه. پـام چـي دا کـار و نـه کـړې؛ او



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره! زه خپله لور (زرکه) د کوترې په عوض کې چا ته نه ورکوم.

قوماندان بې نتیجې بیرته میلمنو ته راغئ مرکه والو له ډوډۍ خوړلو ډډه وکړه او ولاړ سول. د خلګو سپکاوی خو وسو، اوس نو د هغو غبرګون ته قوماندان ځان چمتو کاوه. د ماینې ورکه، د لور ورکه، د خسر تیښته د ده له چنګاله، دلته د خلګو سپکاوی اوس نو قوماندان د ځان د ساتلو په ویر اخته سو.

# لونګ سرتیری سو

هلته چې د حکومتی تلاشی پر پوسته باندي لونګ د جلب او احضار سړو له موټر کښته کړ، نو د لونګ مور، کوتره او د هغې نیکه هم له موټره ورسره کښته سول. دوی هم درې سره هلته د تلاشئ د پوستې څنګ ته په



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار کښېنستل.د کوترې او د لونګ د مور تر سترګو اوښکي بهېدې. ګوري چي څه به پېښ سي. نژدې غرمي ته د جلب او احضار سرړو لونګ او دوه درې نور هلکان کوم چي عمرونه ئې وجلب ته برابر وو، د موټرونو را کښته کړي وو، ټول ئې يوځای ښار ته وړل.

څه وخت چي عسکري موټر د ښار پرخوا حرکت کاوه، نو د لونګ مور، کوتره او د کوترې نيکه هم دغه موټر ته ورپورته سول. که څه چي سرتيرو ئې مخا لفت کاوه، خو د دوی زاری او د لونګ د مور ژړا وه، چي د لوی افسر پر زړه خدای د رحم اوبه تيري کړې، اجازه ئې ورکړل چي دوی موټر ته پورته سي. مشر افسر سرتيرو ته وويل:

- ښځي ورسره دي، تر ښاره به ئې په موټر کي ورسوو.

لوی عسکري موټر ښار ته د رسيدو سره سم د جلب او احضار د کميسارۍ مخ ته ودرېدئ. لونګ او نور هلکان ئې د موټره کښته او د کميسارۍ افسرانو ته ئې



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسپارل. د کميسارۍ سرو د خپلو اصولو برابر لونګ او نورو جلبيانو ته فورمې واچولې. يوه افسر د لونګ څخه د تذکرې غوښتنه وکړه. لونګ تذکره نه لرله. د لونګ مور چې د ليري خپل لونګ ته کتل او دعاګاني ئې کولې، ژر افسر ته ورنژدې سوه. افسر ته ئې و ژړل، چې وروره، دغه يو زوی لرم، کونډه يم، رحم رابانديي وکړئ، دا زوی مې را خوشې کړئ.د دې زاريو ګټه نه کوله.

نو د لونګ مور و افسر ته وويل:

- وروره! زوی خو مې تذکره نه لري. اما دغه د پلار تذکره ئې را سره ده، واخله. يوه سرتيري د لونګ د مور څخه تذکره واخيستل؛ د مکلفيت افسر لعل محمد خان ته ئې ورکړه.

د مکلفيت افسر يو پخوانی ښوونکی لعل محمد خان و، چې ټولو لعل باله. هغه د لونګ د پلار تذکره واخيستله. کله چې ئې افسر تذکره پرانستل، په تذکره کې ئې د اکبر خان پر عکس باندې سترګې و لګېدې. لعل د اکبر د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عکس په ليدو سخت غمګين سو، او بې اختياره ئې تر ستر ګو اوښکي راغلې .

ټولـو ناسـتو افسـرانو وليـدل، چـي د تقـوا لرونکـی لعـل محمـد خـان سـترګی لـه اوښـکو ډکـی سـوی. دا پـدې چـي د لونګ د پلار د تذکری په ليدلو سـره لعـل محمـد خـان تـه د اکبر او نيک محمد معلم د بې ګناه وژلـو کيسـه ور پـه يـاد سول. دا غمجنه کيسه په کلي کي هر چا اورېدلې وه. امـا افسـر لعـل محمـد خـو اکبـر او معلـم نيـک محمـد دواړه لـه نژدې هم پيژندل.

افسر لعل محمد خپل قلم پر ميز کيښود او کار ئې بس کړ. يوه اوږده د خفګانه ډکه سا ئې و اېستل، بيائې نورو افسرانو ته وويل:

ـ دغه هلک به سبا څيره کړو.

افسـرلعل محمـد دخپلـه ځايـه را ولاړ سـو راغـئ او د لونګ د مـور پـه خـوا کـي پـر مځکـه کښيناسـت او د لونـګ مور ته ئې ويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خوري! ما وبخښه، ما تاسي و نه پيژندلاست، د اکبرکاکو د عکس په ليدو اوس پوهه سوم چي ته خو زمونږ د کلي د اکبر کاکو ماينه ئې.

د لونګ مور حيرانه پاته سول، چي په ښار کي دا لوی افسر ما څه پيژني؟ او بيا د لوی افسر تر سترګو اوښکي را بهيري. باور ئې راغئ چي حتمي دې مي پيژني، نو اړتيا نسته چي ځان پټ کړم . افسر لعل محمد ته ئې وويل:

- هو، وروره؛ زه د شهيد اکبر ښځه يم.

افسر لعل محمد د لونګ مور ته وويل:

- خوري، پر خدای ګرانه ئې، چي زه نن دلته يم، که نه اوس به خدای خبر لونګ په کوم ليري ولايت کي سرتيری وای.

لعل محمد چي پخوا يوازي په لعل معلم مشهور و، اوس لوی افسر دئ. هغه د لونګ مور او نيکه ته ځان ور وپيژندئ. وئې ويل:

- زه ستاسي د کلي معلم لعل يم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دوی ته بلنه ورکړل، چې راځئ، زما سره کور ته ولاړ سئ.

د لونګ مور د معلم لعل نوم د خپله وروره معلم نیک محمد څخه ډېر اورېدلی و، چې ښه سړی دئ. هغې د معلم لعل وړاندېز ومانه. لعل هم دوی ټول خپل کور ته بوتلل.

تر ډوډۍ او چایو ورکولو وروسته ئې لومړی د لونګ مور ته خپله خواخوږی او ډاډ ګیرنه څرګنده کړه او وروسته ئې د لونګ د موره څخه پوښتنه وکړه:

- خوري! پدې خبره مي پوه کړه، تاسي څنګه او د څه دپاره ښارته راغلاست؟

د لونګ مور معلم صاحب لعل ته وويل:

- وروره، ستا څخه به ئې څه پټوم. ښار ته موږ يوه مجبوريت راوستو. كه څه چي هلته په كليو كي ملا صاحبانو موږ ته ويل، ښار ته سره كُفار راغلي دي. د ښار خلګ هم ورسره كافر سوي دي. د مسجدو څخه ئي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـينماګاني جـوړي کـړې دي، اذان نسـته او نـور داســي څه....

هغې زياته کړه:

- اه وروره! اوس نـو تـه راتـه ووايـه، چـي د دې سـرو کفـارو پـه څنـګ کـي بـه ايـا مـوږ ژونـد وکـولای سـو؟ کـه ربښتيا داسي وي، لکه هغوی چي هلتـه موږ تـه ويل، نـو اوس لا سـري وخـت دئ، وروره؛ مـوږ بـه پـر بلـه ولاړ سو، چي خدای مه کړه، دلته مـي دا لونـګ زوی څـوک را کافر نه کړي.

معلم لعل د لونګ مور ته په خندا وويل:

- خوري، موږ ته وګوره چي کافران سوي يو که نه؟

د لونګ مور وويل:

- نـه وروره، خدای دي خولـه نـه را کـوي، پـه تاسـي کي خو والله که هيڅ بدلون راغلی وي.

معلم لعل د لونګ مور ته وويل:

- خوري! هغه چي کافر وو، هغه هلته هم کافر وو، او دلته هم کافر دي. هر هر چيري چي ولاړ سي کـافردي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوري، هر څوک يو مجبوريت لري. موږ دا سره او سپين مخي کافران نه دي را بللي، او نه مو راوستلي دي. دوی په خپله راغلي او په خپله به ځي.

- خوري! څه وکړو، چيري ولاړ سو؟ تا خو په کلي او پاکستان کي هر څه د سر په سترګو وليدل، ايا اکبر کاکو کافر و، که ستا ورور معلم نيک محمد کافر و؟

د کوتري نيکه چي تازه ئې د مازيګر او ماښام لمونځونه د کور دباندي په مسجد کي کړئ وو، ملا، مسجد او په جمعه د زيات شميرخلګو لمونځ ئې ليدلي و، خبره ونيول؛ د لونګ مور ته ئې وويل:

- خوري! ټولي خبري درواغ دي، زه دا اوس د ماجت (مسجد) څخه راغلم.

دوی دغه خبري کولي چي د ماخستن اذان ئې واوريدئ.

د کوتري نيکه زياته کړه:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما خو دغسي ډېر خلک یو ځای په ملا پسي ولاړ بل ځای نه وو لیدلی. د اودس تازه کولو سم ځای او هر څه برابر؛ ټولو خلکو خپل لمونځونه وکړل.

د لونګ مور وویل:

- ورورہ، د خپل ورور او میړه په باب څه ووایم. ورور خو مي څه کوې، چي خپله ملا و، د اکبره سره مي زیات تر پنځه ویشتو کلونو ګډ ژوند تیر کړ. قسم په خدای که هغه یوه ورځ هم لمونځ قضا کړئ وي او یا ئې د بل حق خوړلی وي.

- ښه، نوخوري؛ چي خبره داسي ده، اوس نو ته خپله راته ووایه، د هغو په نوم مجاهدو او د هغوی د قوماندانانو کړني اسلامي وې؟ هیڅکله نه. اوس د پاکستان نوکران موږ ته اسلام راښئي. زموږ افغانان پاک او سپڅلي خلک دي. د پاکستان او نورو پردیو هیوادونو په اصلي مقصد نه پوهیږي.

د لونګ مور په جرات سره ورته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وروره! قسم په خدای ج درته یادوم، درواغ هم نه وایم، د درواغجن دي مخ تور سي. د هغو ټوپکیانو یو کار هم مسلمانانو ته نه پاته کیدئ. داسي عملونه ئي کول، چي ته باور وکړه، په ویلو او یادولو ئي زه چي یوه افغانه ښځه یم، و لچي ( والله چی) شرمیږم.

معلم لعل محمد چي اوس په ښار کي لوی پوځي افسر و، داسي وویل:

- ښه خوري، اوس به نوزه درته ووایم: که چیري تاسي غواړئ په دې ښار کي ژوند وکړئ، نو په ښار کي هغه ځوانان چي عمرونه ئي عسکرئ ته برابر وي، هغه باید په جبري توګه دوه کاله د مکلفیت عسکری او بیا د احتیاط دوره عسکري خدمت وکړي. او که نه په ښار کي پر دغه سن برابر هلکان نه خواري کولای سي او نه هم ګرځیدلای سي.

که ستا خوښه وي، اوس لا زه کولای سم، لونګ د ځان سره سرتیرئ کړم، د شپي به پر کور وي، یو څه تنخوا به هم لري.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبري په اورېدو چي لونګ به "د شپې پر کور وي او معا ش به هم لري"، د لونګ مور څه چي کوتره هم زياته خوشحاله سوه. په تنخوا خو د لونګ مور پوهيدله، چي اکبر به کور ته راوړله. لعل معلم صاحب دوی ته دا هم وويل:

- که د خدای رضا وه، تا ته به هم ستا د ميړه او ورور د شهادت وثيقې در جوړي کړم، د دوی دواړو تنخواوي به هم درکول کيږي، کوپون به لري. او ارام به دلې (دلته) خپل ژوند کوئ.

تر دېرو خبرو او دلايلو ويلو وروسته، د لونګ مور ومعلم لعل ته وويل:

- ستا خوښه ده، ته مي په دين او دنيا وروروئې، ته په پوهيږې، په څه کي چي زموږ خير ګڼې، هغه به کوو.

بله ورځ لونګ د معلم لعل په مرسته سرتيری سو. د لونګ په عسکری کي لږ وخت تير نه و، چي معلم صاحب لعل نوره مرسته ور سره وکړه. د لونګ د پلار اکبر او ماما ملا نيک محمد د شهادت وثيقې ئې ورته



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړي کړي. د لونګ موراوس د هغو د شهادت حقوق په لاس راوړل. او پدې کار سره ئې په ژوند کې پوره بدلون راغلی. هغو د ځان له پاره جلا کور په کرایه ونیو او د معلم لعل د کوره ووتل.

څه وخت وروسته چي د لونګ د مور زړه د میړه او ورور د شهادت د حقوقو په لاس راوړلو، د هغوی د کوپونونو د اجرا او د لونګ د عسکری د تنخوا د را چالانه کولو د خوا څخه را بې غمه سوه، نو ئې یوه شپه په سړه سینه سره د کوتري نیکه ته دا خبره وریاده کړل:

ـ کاکا جانه! که ستا خوښه وي، ستا لمسۍ (کوتره بې بی) به زما زوی لونګ جان ته نورپه نکاح کړو؟

د کوتري نیکه بې له ځنډه پر را غبرګه کړل:

-ښه خبره ده، کوتره څه وائي؟ رښتیا د لونګ غوندي ځوان بیا چا ته رسیږي.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لونګ مور، د کوترې نيکه، معلم صاحب لعل او د هغه کورنۍ د مسجد ملا راوستئ. د لونګ او کوترې د نکاح او د واده مراسم ئې په لنډ ډول پر ځای کړل.

د کوترې او لونګ تر واده وروسته نو د کوترې نيکه هڅې پيل کړې، چې د خپلې ښځې او اولادو پته پدې لوی ښار کې معلومه کړي. د کوترې نيکه خو څو ځله پخوا هم دې ښار ته راغلی و، نو ځکه دی په ښار کې لږ بلد و.

د کوترې د مور د ورکې خو زيات کلونه تير سوي و. دوی فکر نه کوي چې هغه دي ژوندۍ وي. له بلې خوا، نه پوهيدل چې هغې به پر کومه خوا مخه کړې وي. شايد بل ميړه ئې کړی وي، او نور...نور فکرونه ئې په سر کې ګرځيدل.

نور لونګ يو کليوال هلک نه دئ. هغه په ښار کې ژوند کول زده کړل. هغه اوس يو سرتيری دئ،په عسکري قشله کې و اوسيدئ. د ليک او لوست د زده کړې په کورسونو کې درس هم وائې. مور او ښځې ته



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې هم کور ته د ليک او لوست د زده کړو ښوونکی ورځي او هغو ته هم ليک او لوست ور زده کوي.

بل اړخ ته، د درو تنو معاشونه ئې هم کور ته راځی او درې کوپونونه هم لري. د کوترې نيکه سپين ږيرې د ي. مسجد ته ځي او کور ته راځي. هغه ضمناً د خپلي ښځي او اولادونو د پيدا کيدو پوښتني او څه هم کوي.

د لونګ د مور ژوند د اقتصاد له پلوه اوس ښه و. شپږ مياشتي وروسته لونګ د زده کړو له کورسونو څخه په ښه نومره بريالی سو. د هغه خو ليکل او لوستل له پخوا څخه هم زده و. نو معلم صاحب لعل ورسره بيا هم مرسته وکړه، لونګ ئې له سرتيرۍ څخه د برېدمن رتبې ته ور پورته او افسر کړ.

لونګ ته خدای ښه ځواني، قد، اندام او استعداد ورکړی و. هر څه ئې ژر زده کول. د خپل کار، فعاليت، او جنګي مهارتونو له کبله ئې د څو لنډو کلونو په بهير کي فوق العاده ترفع ګانی وکړې، لوی افسر سو او د يوې عسکری لوا تر قوماندانۍ پوري ئې ځان ورساوه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ اوس د ښار د خلګو او حکومتي چارواکو خولو ته ولوېدئ. په هر ځای او هر مجلس کې د قوماندان لونګ نوم د نموني په ډول يادېدئ. هغه په صداقت، جرات، ميړانه، ښايست، او زړور قوماندان سره مشهور سو.

د کوتري مور او د ټوپکوال قوماندان ښځه چې ډېر کلونه پخوا کله چې د هغې ميړه غوښتل، هغه بيګناه ووژني، خو هغه په توره شپه کي له کوره وتښتيده، هغه هم دغه ښار ته راغله او د ښار په لوی روغتون کي ئې د اجيری په توګه ځان ته کار پيدا کړ، د خپل ميړه څخه چي ئې کم کوچنی لاره، هغه کوچنی (سمندر) نو اوس ځوان سوی و.

په روغتون کي د کوتري مور د سمندر د مور په نوم بلل کيده. سمندر په ښوونځی کي و. څه وخت چي د کوتري مور د خپل کار پر وخت په روغتون کي د ناروغو او زخمي سرتيرو له خولي څخه د قوماندان لونګ د ځوانی او غيرت خبري اوريدلې، نو په فکر کي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ئې ورګرځېدل، چې دا لونګ به څوک وي؟ ځکه ښه رنګ او ښه اخلاقي هلک خو هغه زموږ د مزدورۍ خاله زوی لونګ و. بیا به ئې د ځانه سره ویل: نه، هغه به نه وي. هغه ګوره، دا ځای او دونه لوړ منصب؟؟؟

*** *** **

شپې ورځې تیرېدلې. یوه ورځ ئې په روغتون کې له ډاکټرانو څخه واورېدل، چې نن قوماندان لونګ د خپلو ناروغو سرتیرو لیدو ته روغتون ته راځي. د کوترې مور او نور کارکونکی وګمارل سول، چې ژر ژر صفایی وکړي. د کوترې مور خپل کار پای ته ورساوه. غرمې ته نژدې دا دئ هغه ښایسته جګ ځوان افسر په پوځي دریشي کې روغتون ته راغئ.

د کوترې مور چې په واقیعت کې د قوماندان لونګ سکه خوابښې هم وه، په غورغور لونګ ته وکتل، کټ مټ هغه د دوی د مزدوري د خاله زوی ته ورته و. زړه ئې



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ځله راغونډ کړ، چې خبري ورسره وکړي، خو جرات ئې و نه کړ. د ځانه سره ئې بيا وويل:

- نه چې کوم بل څوک وي، او که هغه وي چې زما له خوا د هغه پيژندګلوي پر ځان بده ونه ګڼي.

بله ورځ ئې له ناروغو او زخمي سرتيرو څخه د قوماندان لونګ د کلي او کور پوښتني پيل کړې. د هر ناروغ او زخمي څخه ئې په داسي حا ل کي پوښتني کولې، چي بيرېدله هم، که يو ځل چا وويل چي د څه له پاره پوښتنه کوې؟

نو هغې په ډېر احتياط سره پوښتنه کوله :

- دا ستاسي قوماندان لونګ ډېر ښه سړی دئ، دی څوک او د کوم ځای دئ؟

لکه څنګه چي دې خپل ځان وخلګو ته سم نه سوای ورپيژندلای، لونګ بيا تر دې هم په ژوند کي زياتي ستونزی درلودلی. د هغه خپل سرتيري هم د ده په اصل او نسب نه وه خبر.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوتري مور چې د شپې خپل کور ته ولاړه، له ډېري خوشحالی ئې خپلې مور، خور او وررور ته چې هغو ئې پخوا لا په روغتون کې د کار کولو پر وخت پيدا کړی وو، او اوس يو ځای سره اوسيدل، فکر ئې نه و، چې د خپل زوی ومخته ئې دا سې يوه خبره ياده کړه:

- مورجانې!خدای مې دې غاړې نه بندوي، والله دغه د لوا قوماندان لونګ چې هر ځای ئې خلګ خبري کوي، نن په روغتون کې ما ډېر د نژدې وليدی؛ کټ مټ هغه زمونږ د مزدوري خاله زوی و.

د کوتري مور پدې خبري يادولو سره ځان ته بله ستونزه را وزېږوله. هغې چې ټول وختونه له خپل زوی څخه دا خبره پټه ساتله، نه ئې غوښتل، چې زوی ئې خبرسې چې دوی څوک دي. مګر اوس ئې خبره تر خوله ووتله. سمندر زوی ئې اوس زلمی دئ، لا هم نه پوهيږي، چې دی پلار لري او پلار ئې ژوندی او يو ټوپکوال قوماندان دئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور خپل زوی له واقعیته نه و خبر کړئ. سمندر چې د مور لـه خـولې څخـه دا خبـره واورېدل، چـې د دوی د مـزدوري زوی؛ پـه فکـر کـې ډوب سـو. هغـه خپلـه مـور ټينګه ونیوله:

- مـــور! ستاســـي د مـــزدوری زوی؟ یعنـــي تاســـي مـزدوران لـرل؟ مـا تـه خـو دي دا خبـره تـر اوسـه نـه وه کړې. اوس رښتیا را ته ووایـه، تـه د چا لـور او زمـا پـلار څوک دئ؟ چیري دئ؟ څه سول؟ مړه دئ او که ژوندی؟

دسمندرمورحیرانه پاته سوه او پر خپلـه خبـره پښـیمانه وه .هغه رازچي د ې څه کم شل کالـه پټ سـاتلي و، اوس مجبـوره سـوه، چـي وئـي وایـې .مګـر، د خپلـي خبـري د اثبات له پاره چي د دې زوی سمندر د ټوپکوال قوماندان زوی دئ، دا خواره په لاس کي کم سند نه لري. او که ئـي زوی قوماندان ته ور هم سي، هغه ئـي کلـه منـي، چـي دا دده زوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې پېښې يوازنې شاهدان خو يو خدای او بله د کلي د لونګ مور وه، چې دلته نسته او بس. نو نه ئې سوای کولای، زوی ته قناعت ورکړي.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سمندر سرتيرى سو

هغه وخت د زوى او مور تر منځ خبره خرابه او پيچلي سوه، چي زوى د خپلي مور څخه وغوښتل،ده ته ووائـي، د ده پـلار څـوک و؟ د سـمندر مـور يـوازي د سمندر د پلار نوم يادوي، خو دا خبره نه سي کولاى، چي ميړه ئـي مړ، ژونـدى، د کوم کلـي او اوس چيري دئ. ځکه که د ميړه يا سمندر د پـلار سم معلومات زوى ته ورکړي، بيا نو بايد دا خبره هم وکړي، چي دا ولـي او پـه څه سبب د ميړه د کوره راوتلي وه؟

که د سمندر مور وسمندر ته د ده د پلارد کوره څخه د خپلي تيښتي بيان هم وکړي، د خپلي خبري د درستوالي او سموالي هيڅ سند او شاهد نـه لري.څو دا ثابتـه کړي، چـي سـمندر زوى ئـي د خپـل ميـړه څخـه دئ. ميړه ئـي ژونـدى او توپکـوال دئ او دا د هغـه د ظلمـه را تښـتيدلي وه .



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندر هم اوس ځوان دئ، ملامت نه دئ، بايد پوه سي، چي دى څوک دئ؟ مور ئي نه سي کولاى، خپل زوى ته قناعت ورکړي او که د سمندر مور دا خبره وسمندر ته وکړي، چي ته د ټوپکوال قوماندان زوى ئي،څنګه به سمندر دا ومنى چي دى دهغه زوى دئ.

په نتيجه کي خبره د زوى او مور تر منځ په بې باوري او بد نيتى واوښتله. سمندر له کوره ووتى او له موره مرور ولاړى.

په ټول هيواد کي وضعه او شرايط دښمنانو داسي را جوړکړي وو، چي ځوانان او زاړه هر يو چي به له کوره وتى، د ژوند کولو بله لاره نه وه، بې له دې چي سيده به ځي د دولت د پلويانو او يا د هغه د مخالفو په جال کي به بنديږي.

هر د کوره وتلى او خفه ځوان به سرتيرى کيدئ يا به ټوپکوال کيدئ ډوډى د ټوپک دخولي سره تړل سوې وه. د سمندر د مور وکور ته په نژدې سيمه کي د قوماندان لونګ لوا پرته وه. په دغه ولايت کي هم د نورو ولاياتو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شان هر د مور او پلاره مرور او خوارې نه لرونکې ځوان به د قوماندان لونګ تر پوځي قرارګاه ځان ور رساوه او هلته په خپله خوښه سرتیرې کیدې.

سمندر ته هم یوازې دغه لاره معلومه وه؛ کله چې د موره مرور سو، نو سیده هلته ورغلئ. په خپله خوښه ئې ځان عسکر کئ. کله چې د لوا قوماندان مخ ته د نوو ځیره سوو سرتیرو د نومونو، شهرت او ځیره خطونه کښیښودل سوه، هغه د ځیره خطونو په لړ کې د نوي په خپله خوښه راغلي ښایسته کشر ځوان عکس سمندر تر سترګو سو.

قوماندان نوی داوطلب سرتیرئ ځان ته ور وغوښته، څه معلومات او پوښتني ئې ځیني وکړې. تر خبرو اترو وروسته ئې نوی سرتیرئ (سمندر) ته چې لا اومه خوله هلک او په رنګ ښایسته و، د هغه دعزت د خوندیتوب له پاره د قطعې قوماندان ته امر وکړ، چې دغه ځوان (سمندر) د محاربوي قطعاتو څخه را وګرځوي او دلته ئې د لوا په قرارګاه کې وساتې.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سمندر چې د درس ویلوسره مینه نه وه پرې سوې، د لوا د قوماندان لونګ نوره هم ورسره مینه پیدا سوه. د سمندر په لیدو به د لوا قوماندان لونګ ته خپل د ژوند داستان ور یاد سو. نو ئې د سمندر سره مرسته کول، چې د سرتیرئ د وظیفې په څنګ کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړای سي .

ځکه سرتیرئ سمندر د لوا قوماندان لونګ ته ویلي و، چې دی پلار نه لري، د یوې کونډې ښځې زوی دئ. د یتیمولی او بې پلارولی په اور د لوا قوماندان لونګ تر سمندر مخکې سوځول سوی و.

د سمندر په وړاندې د لوا د قوماندان د پیرزوینې او ښه نظر لرلو له امله، په قطعه کې څوک د سرتیري سمندر سره ډېر سر نه ګرځوي. هغه د شپې کور ته نه تلئ؛ ځکه د مور سره مرور و. د لوا قوماندان وخت نا وخته چې په خپل کور کې کوم کار درلود، د هغه کار د سر ته رسولو له پاره ئې سرتیري سمندر ته وظیفه ورکوله.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ یو د دوی څخه نه پوهیدل،پدې چي سرتیرئ سمندر څوک دئ؟ نه د لوا قوماندان لونګ، نه د قوماندان ښځه کوتره، نه د کوتري نیکه او نه د لوا د قوماندان مور. په واقیعت کي سرتیري سمندر د کوتري سکنی ورور دئ.

هلته د سمندر مور په خپل کور کي چي د ځانه سره هر څه وژړل، او هر څونه انتظار چي ئې وویست، د خپل زوی احوال ورته معلوم نه سو. د سمندر مور په کور کي د خپلي مور، خور او ورور تر منتونو لاندي هم راغله. ټولو ورته وویل، چي ستا د بې پر وائي له لاسه و، چي یو ځل د میړه له کوره وتښتیدې، موږ دي ټوله و زورولو، بیا دي زوی پیدا کړ،

اوس دي زوی درڅخه وتښتید.

پلار مو ستا له لاسه ورک سو، کور، کلي او جایداد هم ستا له لاسه را څخه پاته سو. ته اوس څه بلا ئي، ګوره چي دغه هلک سمندر دي لا د چا زیږولی دئ او



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه دي د روغتـون څخـه د بـل ارمـونی اخیسـتئ او لـوی کړئ و؟

د سمندر مور تر سخت فشار لاندي ژوند تیراوه. سره لـه دی چـي نـژدې شـل کالـه د دې د سرګردانیو لـه شروع څخه تیر سوي و، بیا هم خپله مور، خور او ورور ئـې لا ملامته بولي، نور خلګ خو هلته پرېږده. د ټولو فشارونو سره سره بیا هم هغـې پـه روغتـون کـي خپلـه دنده نـه خوشي کول او له دی لاري ئې خپل ژوند کاوه.

د خـدای کارونـه دي. یـوه ورځ بیـا پـه روغتـون کـي ډاکټـران پورتـه کښتـه کیـدل. ویـل کیـدل، چـي د قومنـدان لونـګ ښـځه د اولاد د پیدا کیـدو پـه خـاطر و روغتـون تـه راوړي.

د کـوتري د مورعلاقـه زیاتـه سـوه، چـي حتمـي بـه د قوماندان ښځه له نژدې په خپلو سترګو ویني. د قوماندان لونـګ ښـځه ډاکټرانـو پـه ځـانګړی واټ کـي بستر کـړه. د قومانـدان د ښـځي خـدمت تـه د روغتـون هـر ښـځینه او نارینه کارکوونکي نه پرېښودل کیدل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـوازی ځـانګړي او ټـاکلي ډاکټـران ورتلـل، او هغـوی لیدلـه. د لونـګ اصـلي خواښـې یعنـي د کـوټري مـور چـي کلونـه کلونـه پـه دغـه روغتـون کـي کـارګره وه، او زیـات اعتبـار ئـې پـه روغتـون کـي درلـود، بیـا ئـې هـم د لـوی قوماندان ښځه نه سوای لیدلای.

بله ورځ ئې کتل، چي د لوی قوماندان د ښځي لیدلو ته هغه د دوی پخوانۍ مزدوره د لونګ مور پـه لوړ سر راغله او د روغتون ټول پرسونل ورسره پـه ادب پورتـه او کښته کیږي.

اوس دا د یوه لوی قوماندان مور ده؛ هر څوک ئې پـه ړغ تیارسی ولاړ وي. د لونګ خواښې د کوټري مور چي د هغې د ا دبدبه ولیده، ځان ئې تیر کړ، وئې نه غوښتل د لونګ مور ئې وپیژني. خو تر ډېره بربېده پـه زړه کـي خوشحاله سوه؛ پدې چي د لونـګ مـور خـو د دې د اولاد د پـه نس کولو پـه ټول جریان خبره ده. او بل د دې سره هغـه وخت ښه جوړه وه. د ځانـه سره ئـې پرېکړه وکړه، چـي یوه ورځ به د خپلـي مـور سره یـو ځـای د قومانـدان لونـګ


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـور تـه ورځـي، چـي هغـه د دې د اولاد د پـه نـس کيـدو کيسه د دې مور ته وکړی، او پدې ډول ئې د غمونو پيټۍ يو څه سپک سي.

د کوتري مور لا د خپلي مور سره د لونګ وکور تـه د ورتلو خبره پخه کړې نه وه. په ښار کي اوازه خبره سوه، چـي خـدای دي خيـر پـيښ کـړي. د لونـګ لـوا د کومـو عمليـاتو تيـاری نيسـي. ټـول خلـک پـه ډار کـي وه او نـه پوهيدل، چي کمي خوا ته به ئې مخه سي.

د قومانـدان لونـګ ښـځه (کـوتره) پـه روغتـون کـي وه، قوماندان لونګ ته دنده ورکړل سوه، چي په ولسواليو کـي تلاشـي او تصـفيوي عمليـات وکـړي .د لونـګ تـر مشـرۍ لانـدي لـوا پـه ټولـه سيمه کـي د يوې سر سـختي منظمـی جنګـی لـوا پـه توګـه د دښمن پـه ليکو کـي هم وېره خپره کړې وه.

تبليغـات داسـي و، چـي د ښـاره څخـه مـخ پـر ختـيځ عمليـات کيږي. دښمن لـه دغـه پوځي لـوا څخـه سـخت پـه وېره کي و، نو ځکه له سيمي څخه وتلي وه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان لونګ سخت انضباط لرونکئ افسر و. هغه تـه ورکړل سوئ پلان د له ځانه سره ترهغو پټ ساتی، چـي دپیاده کولو وخت به ئـي رارسیدئ. همدا سبب و، چـي د عملیاتو په ټاکلي ورځ قوماندان لونګ د مخکنیو تبلیغاتو خلاف قوماندہ ورکړه، مخ پر ختیځ نه، بلکي مخ پر لوېدېز ئي پوځي او تصفیوی عملیات د دښمن پـه بـي خبري کي پیل کړل.

د عملیاتو پر وخت سخت جنګونـه را منځ تـه سول، دواړو غـاړو تلفات ورکـړل، ډېـري ککـرۍ تـر خـاورو لاندي سوې،زيات خلګ زخميان او يو شمير جګړه مـار د حکومتي سرتيرو په لاس کي ژوندي کښیوتل. بل لـور تـه، يو شميرسرتيري د حکومت د مخالفینو پـه لاس هـم اسير سول. د دولت مخالفینو يا د ای،اس ای نوکرانو چـي اسيران نيول، هغوی بـه ئـي ټول وژل. مګر، حکومتي لوری زخميان روغتون تـه وړل او اسيران ئـي د وخت څارنواليو ته د تحقيق دپاره سپارل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل د زخميانو په منځ کي کليوال ظالم قوماندان د کوتري پلار د لونګ خُسر هم اسير سوی و. د لوا سرتيرو او نورو افسرانو هغه نه پيژندئ. کله چي زخميان روغتون ته راوړل سول، لونګ خپل خُسر دروغتون له عمومي واټ څخه را جلا اوځانګړي واټ ته يووړئ.

اوس نو د کوتري مور او پلار دواړه يو په بل ناخبره په يوه روغتون کي دي. د کوتري مور کارګره او پلار ئې اسير او زخمي بستري دئ. د دې کلونو په موده کي د کوتري مور د سواد د زده کړو د کورسونو په برکت سم ليک او لوست کولای سي، د کار کولو پر وخت د هر زخمي شهرت لولي.

قوماندان لونګ چي د کوتري مور نه پيژني او خبر هم نه دئ چي هغه هم دلته په روغتون کي کارګره ده. نو د خپل زخمي او اسير سوي خسر د ساتني له پاره د خپل باور وړ سرتيرئ سمندر راوغوښتئ، چي په اصل کي د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغـه زخمـي اسـير قومانـدان زوی و، هغـه ئـي هلتـه وظيفه دار کي.

د لــوا قومانــدان پوهيــدئ، چــي زخمــي د مجاهــدو قومانـدان د ده خُسـر دئ. خـو پـدې بيـا نـه پوهيـدئ، چـي سرتيرئ سمندر بيا د همدغـه زخمي زوی او د ده اخښـی دئ. هغه پدې هم نه و خبر، چي خواښـي ئـي هم پـه دغـه روغتون کي کار کوي. اما سـرتيرئ سـمندر پوهيدئ چـي مور ئې په دغه روغتون کـي کـار کـوي، خـو ده لـه هغـې څخه ځان پټاوه.

پـه هيـواد کـي شـرايط دغسـي راغلـی و، چـي د يـوی کورنـۍ غړي: پلار، مور، زوی، زوم په يوه روغتون کي وو. پـلار زخمـي، مـور کـارگره، زوی سـرتيرئ يـا پيـره دار، او زوم بيـا د لـوا قومانـدان و. کـوتره د لونـگ ښـځه د زخمــي جنگســالار لــور، د روغتــون د کــارگری لــور د سرتيري سمندر خور، يو د بله نـه سـره پيژنـدل؛ حتـا يـو د بل دښمنان وو.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتيرئ سمندر يوازي پوهيدئ، چې مور لري او دلته په هم دې روغتون کې کار کوي. تورپکوال قوماندان هيڅ فکر نه کوي چې دی زوی لري؛ ځکه دی خو بې زويه و. کوتره هم نه وه خبره چې ورور لري. مور ئې هم نه وه خبره چې لور، زوی او ميړه ئې ټول په دغه روغتون کې دي.

په هغو شپو کې چې قوماندان لونګ په عملياتو کې بوخت و، په دغه روغتون کې د کوترې زوی (زمری) پيدا سو. قوماندان لونګ چې له وظيفې څخه ستړی راغې، د خپلې مور د ليدو له پاره کور ته ولاړئ. مور او د کوترې نيکه پر هغه زيری وکی، چې زوی دی پيدا سوی دئ. شکر دی کوتره هم جوړه ده. ټول خوشحاله وو، او مبارکې وويل سوه.

قوماندن لونګ په خپل کور کې تر لږ ناستې وروسته د خپلې مور او د کوترې د نيکه سره يو ځای هغه روغتون ته ورغلل، چې کوتره پکښې بستر وه. قوماندان لونګ د کوترې او خپل زوی تر ليدو وروسته، غوښتل له



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتون څخه ټول یو ځای کور تـه ولاړ سـي .د درملنـی ډاکټر ور ته وویل:

- ضروري دوا او د کوچني له پاره پـه کـار څـه درمل به درته را ورم،بیا به رخصت سئ.

ډاکټـر ولاړ، لازم او اړین څـه ئـي پـه یـوه کـارتن کـي واچول، د کوتري مور چي هلته کارګره وه، هغي ته ئـي په لاس ورکړل، چي د ډاکټر سره دغـه صندق د نـاروغ تر کوټي ورسوي. د کـوتري مـور خـو نـو د لونـګ د مـور په لیدو سره اوس شک نه لري. چي قوماندان لونـګ دي د هغي د مزدوري خاله زوی نـه وي. او دا چـي غوږېدلي (خبره ئي اورېدلی) وه، د ټوپکوال قومانـدان لـور د خپل مزدور سره تښتیدلي ده، مګر باوري نه ده، چي کوتره بـه د دغه لونګ سره را تښتیدلي وي، که د بل سره؟

هغـي علاقـه درلـوده چـي ژر د قومانـدان لونـګ ښـځه ووینـي. کلـه چـي د نـا روغ کـوټي تـه ورسیدله، ډ اکټر تـه اجازه ورکړه سوه، چي کوټي ته دننه سي، مګر د کوتري مور ته د ننوتلو اجازه نه وه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوتري مور سخته خفه او نا امیده سوه. کوتره او نور چي کله کور ته تلل، د کوتري مخ په چادری کي پټ و. مور ئې مخ ونه لیدی چي خپله لور وپیژني. خیر، پدې ورځ دوی کور ته په خیر سره ولاړل.

قوماندان لونګ چي دوی کور ته ورسول، په دا سبا ئې زړه راغونډ کی، خپلي مور، کوتري او د کوتري نیکه ته ئې وویل، د کوتري پلار او ستا زوم مي زخمي نیولی دئ. کوتري او د کوتري نیکه دواړو وویل:

- کشکی دي دا ظالم وژلی وای.

د لونګ د مور زړه هم ورته پړسیدلی و، خو دا چي کوتره ډېره پر ګرانه وه، نو ئې زوی ته وویل-:

- زویه، ښه دئ چي ژوندی دي نیولی دئ. ته باید په زړه کي رحم ولرې، ستا او د دوی(توپکسالارو) تر منځ باید دا توپیر وي؛ تا ته به خدای د خپلو ښو بدله حتمي درکړي.

لونګ وړاندیز وکړ، چي سبا سهار به مو روغتون ته ور ولم، له هغه سره به وګورئ. اوس هغه بندي او



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زخمي دئ. که څه چي زخمنونه ئې ډېر سخت نه دي، خو هغه د غرور او تکبر وخت ئې نه دئ. اوس یوعاجزه او بیوزله سړی دئ. ما ځان نه دئ وربښوولی او ده هم نه یم پیژندلی.

په سبا چي دوی ټول روغتون ته ورغلل. د روغتون په منځ کي د مخه تر دې چي ناروغ ته ورسیږي، د کوتري مور په مخه ورغله. د کوتري مور خپل پلار چي نژدې شل کاله ئې نه و لیدلی، وپیژندئ چي د قوماندان لونګ په څنګ کي را روان و. دهغه په لیدو سره د ښځي د توانه ووتل، یو دم ئې یوه لویه چغه وکړل، د خوشحالۍ څخه په ژړا سوه، ځکه هغې هیڅ فکر نه کاوه، چي د دې پلار دي ژوندی وي.

ور وئې ځغستل، د پلار په پښو کي ئې ځان ور واچوه. پلار چي ولیدل یوه سپین سری ښځه ئې پښې مچوي، سره له هغه چي دی هم د چوغي کیدو نه و، بیا هم ورچوغئ سو، ښځه ئې را پورته کړه، د ښځي سترګو ته ئې وکتل، د هغې تر سترګو د اوښکو لاړونه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



را وتل. ده وپیژندله، چې دا ئې هغه ورکه لور ده. پلار هم باور نه کاوه، چې د هغه لور دي ژوندۍ وي.

پلارئې چې په ځواني کي زیات زوړ و، خپل کنترول له لاسه ورکړ، د خلګو په مخکي ئې خپله لور په غیږ کي ټینګه ونیوله، پر دا سر او مخ ئې مچوله اوورسره ژړل یې. پدې وخت کي کوتري هم خپله مور وپیژندله؛ دې هم د چادرۍ روی بند پورته کې، د مور سره غاړه تر غاړه سوه. اوس نو پلار، لور، مور، لور او نیکه ټول په ژړا او لاس تر غاړه سول.

قوماندان لونګ چې اوس لوی افسر و، ټول ډاکټران او د روغتون کارکوونکي او مراجعین ګوري، حیرانۍ واخیسته، چې پر دا سپین میدان د خلګو مخ ته څه ناري، ژړاګاني او ماتم جوړ سو. هغه ډېر ژر دوی ټول یوې کوټې ته دننه کړل. هلته پلار، لور او لمسۍ ښه په ژړا ځانونه سره ستخ کړل.

بیا د کوتري مور او د لونګ مور یو د بله سره مچ کړل. اوس د کوتري مور هغسي بیوزله سوې ده، لکه یو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت چې د قوماندان لونګ مور د دوی مزدوره وه .په دې منځ کې د کوترې پلار له مشرې لور څخه پوښتنه وکړه، چې په مور، خور او ورور دې څه احوال سته که نه؟ هغه مړه دي،ژوندي دي،چيرې به وې؟

لور ئې ور ته وويل:

- پلاره، هغوی شکر ژوندي دي؛ هم دلته په دغه روغتون کې څو کاله مخکې ما هغوی پيدا کړل. اوس مې دا دئ تاسې پيدا کړلاست.

د کوترې مور وليدل چې د کوترې په غيږه کې کوچنی دئ، ژر ئې له کوترې څخه پوښتنه وکړه:

- لورې، واده سوې ئې؟ چا ته ئې ورکړی ئې؟

کوترې خپلې مور ته وويل:

- هو، مورې؛ ورکړې ئې يم. د لاس په ګوته ئې نيکه ته اشاره وکړه، چې يعنې ده ورکړم.

مورئې بيا خبره ورغبرګه کړه، چا ته؟

کوترې د لاس د ګوتې په اشاره:

- ده (قوماندان لونګ ) ته.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لونګ هم د خپلي خواښي رنګ څه،څه ور په ياد سو. د لونګ مور چي زياته هوښياره وه، کوتره او د هغي نيکه ئي پوه کړل، چي د ناروغ پوښتنه به بيا بله ورځ وکړو. ځکه ټول پدې پوهيدل، چي د کوتري د پلار په وړاندی خو ترهر چا زيا ت د کوتري مور دهغه څخه ډېره کرکه او نفرت لري، نه چي د هغه په ليدو سره، نوري ستونزي او رسوائي را منځ ته نه سي. هغه د کوتري مور ته وويل:

- درځی، ښه به دا وي چي ستاسي کور ته ولاړ سو. نيکه به خپل بچيان وګوري، کوتره به خپله مور، انا، خاله او ماما ويني.

د لونګ هم د خپلي مور خبره خوښه سوه. دوی ټول د کوتري د مور کور ته ولاړل. په کلونو کلونو سره جلا سوو او ورکو سره پيدا کړل.

قوماندان لونګ او مور ئي دوی ټول هلته سره پرېښوول او دوی خپل کور ته ولاړل. کوتري ته ئي وويل چي سبا به دوی ټول خپل کور ته راولي.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سبا ورځ چي کوتره او مور سره يوازي سول، د کوتري مور و کوتري ته وويل:

- لوري! د پلار او ستا د ليدو په خوشحالي نه پوهيږم، زما سر د خواريو دئ. پدې نه پوهيږم چي ولي مي خداى زوکلوي. دا دئ څه کم يو کال کيږي چي ورور دى لـه کوره وتلى دئ، کور ته نه راځي.

د کــوتري دا لــومړى ځــل و، چـــي اورى"ورور!". حيرانه سوه. مور ته ئې په تعجب حتا د کرکـي او نفرت په سترګه وکتل او وئې پوښتل:

- ورور مي؟ موري زما ورور د څه و؟ ما خو ورور نه درلود...!!! موري! بل ميړه دي کړى دئ ؟

مور ئې خپلي لور ته بيا پـه ژړا سوه او پـه ژړا، ژړا ئې خپلي لور ته وويل:

- نه، نه، لوري؛ قسم پـه خداى کـه مـي بـل ميړه کړئ وي. دغـه ئـې وخـت دى چـي زه تـا تـه د اولاد د پـه نـس کيـدو، لـه کـوره څخـه د تيښـتي او سـتا غونـدي لـور د پرېښولو او خپلو سرګردانيو تولـه کيسـه وکړم: خداى دي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا د سر پر دښمن هم داسې خواری نه تيروي. لورجانی! اصلی کيسه داسې وه.... اوس د شکر ځای دئ چي خاله د لونګ مور ژوندۍ او دلې ده؛ هغې ته هر څه معلوم او خبره ده.

هغي ټول داستان او ليدلي خوارۍ ټکی په ټکی لور ته بيان کړې او ور زياته ئې کړه، چي ستا خوابنې د دې داستان ژوندۍ شاهده ده.

کوتری چي د خپلي مور پر تيري کړل سوو خواريوڅخه خبره سول، دې هم ډېر وژل او د خپلي مور لاسونه او پښې ئې ور مچ کړې. بيا ئې مور ته وويل:

- موری! ما فکر کوي چي يوازي به دلونګ پر مور خواری تيري سوې وي، خو ستا خوارې او ديدنې هم تر هغې په کمه نه دي.

بيا نو کوتري هم مور ته د خپلي تيښتي او د لونګ سره د واده کولو کيسه وکړه. د لونګ د مور د زړورتيا او د دې سره د مرستې کولو او د نيکه د راوستلو ټول بيانونه.......... ورته وکړل.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوتري مور لور ته وويل:

- زما هغه وخت دغه ستا د ميړه نوم خوښ و، مګر ستا پر ورور مي د لونګ نوم ځکه کښينښود، چي د لونګ د مور بيچاری ژوند ډېر سرګردانه و، نو مي د سمندر نوم خوښ سو. هغه اوس شکر ځوان دئ، هغه غواړي وپوهيږي، د چا زوی دي؟ ما دغسي چي تا ته مي د زړه حال ووايه، ده ته خومي له شرمه ويلای نه سواې. زما څخه پر همدغه خبره مرور سو او له کوره ووت، بيا کور ته نه دئ راغلی.

کوتره د خپلي مور د ژوند په غم لړلي داستان ډېره خفه سوه او په چورتونو کي ډوبه سوه. تر څه ځنډه وروسته،ئي و خپلي مور ته وويل:

- موري! د سمندر په نوم يو هلک خو زما د ميړه سره سرتيری دئ.

د کوتري مور ډېره خوشحاله سوه، او وي ويل:

- شکردئ، زوی سمندر جان مي هم پيدا سو.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو ټول په خوشحالي سره د کوترې کور ته روان سول.

څه وخت چې کوتره د خپلې مور، نيکه، انا، خاله او ماما سره يو ځای خپل کور ته راورسيدل، ګوري چې په کور کې ئې خوابنې يوازې ده. د ميلمنو له پاره هم کوم ځانګړی ترتيب نسته، له خوابنې ئې وپوښتل:

- لونګ تر اوسه پورې کم شی مې د پخيدو له پاره نه دي را وړې؟

خوابنې ئې په کراره ور ته وويل:

- نه زويه، سهار وختې له کوره ووت، ما ته ئې وويل، زه ژر سودا راوړم؛ دا دئ تر اوسه نه دئ راغلې؛ خدای دې ئې په خير راولي.

- اوس به زه او ته د غرمې غم وخورو، دی به هم را ورسيږی.

لږ شيبه وروسته، د سرای دروازه پرانيستل سوه او لونګ د سودا سره په سرای را ننووت. مور ئې شکر وويست، چې زوی ئې په خير کور ته راغئ،دهغې د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونګ د نا وخته راتلو خبره هیره سوه او پوښتنه ئې ځینې و نه کړه. مګر کوتره ورته په قهر وه. څو چې کوتري ځان و ګیلې او جګړې ته جوړاوه، لونګ د خپلې مور، خوابښې او د کوتري له نیکه څخه په بخښنه ویلو سره اجازه واخیستله چې زه باید کار ته ولاړ سم، یو ضروری کار پیدا سوی دئ.

قوماندان لونګ له دوی څخه خبره پټه کړه. د لونګ په بیرته کار ته تللوسره د کوتري مور، انا او نیکه یو لږ شان مړیجن غوندي هم سول.

د شپې کله چې لونګ ناوخته کور ته راغلی، ټولو ته ئې کیسه وکړل، چې خُسر مې له روغتون څخه تښتیدلی دئ او سمندرهم ورسره تللي دئ. د لته کوتري مور چې مخکې ئې یوازې کوتري ته د خپلو خواریو بیان کړی و، اوس ئې د خپلې مور، پلار او لونګ په مخکې د سمندر د په نس کیدو ټوله کیسه وکړه.

د دې داستان په اوریدو سره ټول حیران سول. د لونګ پر خپلې خوابښې ډېر زړه وسو. خو د سمندر د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تيښتي په سبب نه پوهيږي، چې څنګه سمندر د قوماندان سره وتښتيدئ. ايا سمندر خبر سوی و، چې قوماندان ئـې پلار دئ؟ ايا قوماندان پوهيدی چي سمندر ئـې زوی دئ، که څنګه؟

دا پوښتنه بـې ځوابه پاتـه وه. مطلب قوماندان لونګ دوی ټول ښه ساتل او د هغه مور هم دوی نازول.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زخمی پیره دار وتښتاوه

قوماندان لونګ چې سهار لـه کوره ووت، اراده ئـې درلوده چې لومړی خپل کور ته څه سودا راوړي. لا ئې سودا کړی نه وه، چې داسي خبر ور ته راورسيدی:

ـ قوماندان صاحب، تيره شپه د روغتون څخه يو زخمي اسير د توظيف سوی پيره دار سمندر سره يو ځای د روغتونه وتلی او تښتيدلی دئ.

قوماندان لونګ ته چې دا خبر ورسيدئ، نو د سودا رانيول ئې پرېښول، روغتون ته ورغلئ، خپل معلومات ئې په لاس راوړل، او بيا خپلي عسکری قطعی ته ولاړ، چې د پيښې د پلټنې چاری تنظيم کړي. همداسې ئې وکړل. دپلټنو کار ئې راپيل کړ.

د ښار امنيتی او کمربندي پوستو ته ئې خبر واستاوه او نوري هڅی ئې هم جاری وساتلې. د قوماندان لونګ سره هغه سوالونه بې ځوابه پاته وه، چې سمندر او زخمي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه سره جوړ راغلل؟ ايا سمندر خپل پلار وپيژندئ؟ اوکه پلار خپل زوی؟

قوماندان ځان ته د دې سوالونو د حل په نيت يوه د کشف همکار ته وظيفه ورکړه، چي ولاړ سي، په کلي او پاکستان کي دا خبره ځان ته معلومه کړي، چي سمندر د خپل پلار سره دی او که پر بله تللی دئ. دقوماندان لخواستولي سړي ته پته ولګيده چي سمندر د هغه تښتيدلي سره يو ځای په کور کي دئ.

دا معلومات ئي قوماندان لونګ ته راوړل او هم دا معلومات ورته و سو، چي تر اوسه پوري سمندر دهغه سره اوسي. مګرهلته داسي اوازه خپره وه، چي د اشرارو قوماندان سره چي سرتيری سمندر مرسته کړې وه، قوماندان د هغه سره دا منلي وه، چي دی به امريکا او يا اروپا ته استوي.

سرتيری چي ځوان او يتيم هلک و، وبهر ملک ته د تللو هيله ئي لرله. مګر د اشرارو په اصطلاح د مجاهدو قوماندان اوس غواړي هغه عسکر ته چي د ده سره ئي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته کړې وه، د مرستي په بدل کي خپل لور ور واده کړي.

د لوا قوماندان لونګ ته د دې خبر رارسیدل سخت تمام سول. اوس خو قوماندان لونګ ښه پوهیږي، چي سمندر ئي د ښځي ورور دئ. هغه مجبور سو، د خپلي مور، ښځي، خوابښي او نورو دوستانو سره دا خبره شریکه کړي.

د کورنۍ ټول غړي د دې خبر په اورېدو هیښ پیښ پاته سول. د سمندر د ژوند د احوال په رارسیدو د دې پر ځای چي خوښي وکړي، خفه سول. ځکه هر یوه ته دا خبره سخته وه، چي که خدای مه کړه "سمندرد خپلي خور سره واده وکړئ" دا شرم به بیا څنګه وړو؟

قوماندان لونګ یو ځل بیا د ژوند په یوه سخته جنجالي معامله کي راګیر سو. ټوله کورنۍ په چورتونو کي ډوب سول. هغه پدې چي لونګ په کابل کي لوړ افسردئ. هغه اوس پدې پوهیږی چي د اشرارو قوماندان ئي خسردئ،



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر خسر ئې نـه پـوهیږی چـي قوماندان لونګ د ده زوم دئ.

قومانـدان لونـګ کـولای سـي، چـي پاکسـتان تـه څـوک واستوي؛ مګر نه سي کولای، خپل دغه کورنۍ راز د بل چا سره شریک کړي. وروسـته مجبور سو، د کـورنۍ پـه مشوره دکورنۍ دغړو څخه يو څـوک تیـار کـي چـي خپل خُسر ته ئې واستوی، او هغه پدې پوه کړي، چـي سـمندر د هغـه زوی دئ؛ د سـمندر او زرکـي (خـوراو ورور)واده نه سي کیدای.

اوس سوال دا دئ چي کله به ئې د خُسـر دا خبـره زړه ته تیره سي، چي سمندر د ده زوی دئ. ځکه ده خو زوی نه لاره. پـردو خلګو تـه څنګه دا ټولـه کیسـه وکړی، چـي سـمندر څنګـه د مـور پـه نـس او وزیږیـدئ؟ او څـوک بیـا کـولای سـي، دغـه کیسـه د اشـرارو د قومانـدان تـر غـوږه ورسوي؟

د ده د خُسر د بدوعملونو له لاسه د کـورنۍ هیڅ غړی ئې دی ته تیار نه دی، چي ولاړ سي او د لونـګ خُسـر تـه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حال ووائي. نه د کوتري نيکه او نـه هم د کـوتري انـا دي تـه زړه ښـه کـوي چـي ولاړ سـي او خپـل زوم د حالـه خبر کړي. د کوتري د مور خو د سمندر د پلار خپل ميړه څخه بيخي کرکه کيږی. کوتره هم نه غواړی د ظالم پـلار مخ بيا وګوري.

پاتـه سـول د لونـګ مور؛ هغـه بيوزلـه سره د دې چـي نوره سپين سرې سوې ده، د سفر کولو توانايي هم نه لري او په رښتيا زړه ئې د اشرارو په تيره بيـا د زوی د خُسر څخـه بـد او تـور دئ. خـو د خپـل زوی لونـګ او کـورنۍ د عزت د خونديتوب په خاطر ئې زوی لونګ ته وويل:

- زويـه! مـا ستا سـره ژمنـه کـړی وه، چـي زه بـه تـر مرګه ستا سره مرسته کوم. مور دي تر تا جارسي؛ ستا د فکر د سموالي په خـاطرتر تـا ځـان قربانـه وم.زه بـه د يوه لاری بلد سړی سره تر پاکستانه ولاړه سم. تـه مـه غمـنجن کيږه.

لونـګ چــي د مـور غيرتــي خبـري واوريـدي، د مـور لاسونه ئې ور مچ کړل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- موری! ستا ترغیرت جار سم، خدای دي هر چا ته دغسي غیرتي مور ورکړي؛ تا خو زما سره ټول عمر مرسته کړې ده، هیڅ وخت دي په غم کي یوازي نه یم پرې ایښی. ستا پر ما حق دئ، چي د ژوند تر وروستۍ ګړي پوري ستا خدمت وکړم. زه پر تا باندي نور حق نه لرم چي د کوم کار وایم. تا تر حق زیات څه ما ته راکړې دي.

- نه زویه! زه پوهیږم چي د سمندر او زرکي یا د ورور او خور واده تر ګناه زیات د راتلونکی ژوند دپاره د خلکو په منځ کي د ټولي کورنۍ پر لمن یو تور داغ پاتیږی. زموږ د کورنۍ پر لمن د دغه تور داغ د لګولو څخه د مخنیوي په خاطر به یو ځل ولاړه سم او خُسر به دي د حاله خبر کړم.

د ټوپکوال قوماندان پاته کورنۍ ډېر کلونه مخکي هغه وخت چي کوتره لور ئي د کوره وتښتیدله، له هغه نه وروسته، قوماندان خپله پاته کورنۍ د کلي څخه د کویټی ښار ته یوړه او هلته ئي ځای پر ځای کړې وه. مګر تر


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـوی جنـګ وروسـته، د قومانـدان کـورنۍ او میراثخـواره تربرونه خبر سول، ټوپکوال قوماندان په جنګ کي ورک سو. د مړی او ژوندي احوال ئې تر کوره رانه غلۍ. ټول خوشحال وو، فکر ئې کـاوه چي نوموړی بـه وژل سوی وي، او کورته به بیا رانه سي.

تربرونـــه د ده تـــر ورکـــي وروســـته، خـــوش وو. د قوماندانی چاري ئې هم مربوط تنظیم یوه بل تربره تـه وسپارلې. د کور او جایداد، حساب ئـې هر تربـور جلا جـلا کـاوه. خـو د مـرګ سـم خبـر ئـې تـر کـوره نـه و رارسیدلی. یـوه میاشـت لا تیـره نـه وه، چـي بـې خبـره قوماندان ناجوړه خو ژوندی خپل کور ته راغلئ.

د قوماندان په بیا لیدو او ژوندي پاته کیدو ئې یوازنۍ لور زرکه خوشحاله سوه، چي پلار ئې پیدا سو. تربرونـه په خاصه هغه چي د ده وجایداد او قوماندانی تـه غلـه وو، هغوی ئې په بیرته راتلو ټول خفه سول. د قوماندان لیدلو ته نور ټوپکوال تلل او را تلل. ده بـه هر چا تـه د ځان د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زخمي کيدو بيا را تيښتي کيسه کوله او د سمندر له خوا د ورسره مرستي يادونه ئې کوله.

قوماندان بـه هر چا تـه سمندر ورپيژنـدئ، چـي دغـه ځوان و، چي راسره مرسته ئې وکړه. سمندر تر ټولو ښه ځـواني لرلـه، مکتـب ئـې لوسـتی و، پـه حکومـت کـي ئـې عسکری نظام ليدلی و. کلـه چي پـه پاکسـتان کـي د افغـاني ټوپکوالـو ژونـد، وپاکسـتاني مـامورېنو تـه د دوی غـوړه مالۍ او سپيتاني وليدلې، نـو پرخپلـو راتلوبـه وپاکسـتان تـه پښيمان سو، ځکه سمندر ته په کابل کي ژوند، ښـوونځی ، د خلګـو اداب، پـه پـوځی قطعـه کـي نظـم، د افسـرانو او سربازانو پاک نفسي، غرور او ميراني بـه ئـې سترګو تـه جګي ودرېدلي. هغه وليدل چي په پاکستان کي د غرور او ميرانی ځای سپيتاني ډک کړئ وو. ای،اس،ای پـه افغـاني ټوپکوالو کـي غـرور وژلـی و، او دوی تـه ئـې د سړو پـه حيثيت نه کتل.

د ټوپکوالو قوماندان سمندر تنظيمـي او پاکسـتاني دفتر تـه د ځـان سـره وړئ. سـمندرته د هـر دفتـر شـکل او پـه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفترو کې د ناستو خلکو ناستي او کړه وړه ليدل ورته درس او پند و. هر چيري به ټوپکيانو وقوماندان ته ويل، چي د دې هلک رنګ خو بيخې تا ته سوې دئ، لکه تا چي زيږولی وي.

قوماندان ته د سمندر کړو خوند ورکاوه؟ هغه به وخندل او وبه ئې ويل:

- که رښتيا در ته ووايم، د هغې اولی ورځې څخه چي مې دغه هلک ليدلی دئ ما ته هم هغه خپله ځوانی را په ياد سوه. داسي ښه مسلمان او پر لمانځه ټينګ هلک دئ. زما سره ئې ډېره ميړانه وکړه. د سرو کفارو د منځ ئې را خلاص کړم.

سمندر ته د ټوپکوالو ساده خبرو، ناسته، ولاړه او شوده ژوند خوند نه ورکاوه. حتا د خپلي لوا قوماندان لونګ د هغه پاک نفسي، نظم، ډسپلين او پر ده باندي مهربانی به ورپه ياد سول، د ځانه سره به ئې خپل ځان ملامت باله. هغه به د ځانه سره وويل:

- په خپل لاس دي په ځان څه وکړل؟



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امــا د ټوپکــوال پــه زړه کــې ســمندر ځــای نیــولی و. ټوپکوال د خپلو خپلوانو او ښځو سره مشوره کوله چې که د دوی خوښه وي، خپله لور زرکه دغه ځوان سمندر تـه د ده د مرستې په بدل کې وبخښي.

په دوستانو کې او په تیره بیا پـه تربـرو کـې د هیچـا دا دوستـی خوښـه نـه وه. یـو او بـل بـه ورتـه ویـل، چـې د دې هلک نه مور معلومه ده او نه ئې پلار؛ ته څنګه لور ور کوې؟ بل به وویل، چې د ا خـو حکومتي، حزبـي او کـافر دئ، تـه څنګـه دا کـار کـوې؟ مګر، ټوپکوال قومانـدان بـه ویل:

ـ نـه، دغـه هلـک تـل لمـونځ کـاوه. یـو یتـیم هلـک دئ، بیغمه او بې بدو سړی دئ. دلته به پـه کـور کـې را سـره وي، زه هم زوی نه لرم، زه ئې له مرګه ژغورلی یم.

مګر تربرو لیدل، چې ټوپکوال قومانـدان ناروغـه دئ. هغوی فکر کاوه چې دی بـه ژر مړسـي. تیـار میـراث دئ. نژدې میراثخورو یې دغه دوستي نه خوښول.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټوپکوال چي د زخمونو څخه سم روغ سوی نه و، ورڅ تر بلي ئې ناروغي سختېدله، نو ئې دا ښه و ګڼل چي د سمندر حق ور ادا کړي. بله ورځ ئې سمندر ته دا خبره وکړه، چي تا زما سره ډېره مرسته کړې ده، ستا د دې مرستي په بدل کي زه غواړم چي خپله لور زرکه تا ته درکړم، خو ته به دلته زما سره اوسې، او زما زوی به ئې، ځکه زه زوی نه لرم.

کله چي د واده او د لور د ورکړي خبره وځوان سمندر ته یاده سول، وخارج ته د استولو خبره ئې په دغه ګړي کي بیخي د یاده ووتل، چي ټوپکوال ته و وائې تا خو زما سره ژمنه کړې وه، چي کم بهر ملک ته دي استوم.

سمندر نوی ځوان وو، د واده سره ئې د هر ځوان په شان مینه وه. خو د ټوپکوالو سره ژوند کول ئې نه خوښېدل. بل خوا ته ئې خپله مور هم د زړه څخه نه وتله. هغه قوماندان ته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما خو تا ته ويلي و، چې زه بل څوک نه لرم بې له يوې مور څخه. مور مې دلته نسته، زه څنګه واده وکړم؟

بلي خواته سمندر پدې شپو کې څو ځله د قوماندان لور زرکه ليدلې وه. زرکه ښايسته پيغله وه، سمندر نوی ځوان.اما دا چې هغه ښوونځی لوستي و، په ښار کې ئې ژوند کړئ و،زرکه يوه کورنۍ نجلۍ وه. دهغې سره واده کول زړه نازړه کړی و.سمندر په يوازي سر پرېکړه نه سي کولای. په عمر، د شلو کلونو په شا و خوا کې دئ. تر ډېره حده خپل راتلونکې سنجوي.

بيا ور په ياد سول، چې توپکوال خو زما سره دا ژمنه هم کړې وه، چې اروپا يا امريکا ته به دي استوم. تر دغه وخته پورې خو سمندر داسې ارزول چې کوم بهرملک ته به ولاړ سي، بيا به خپله مور هم بوځي. هغه و اروپا او امريکا ته د تللو په هوس د قوماندان سره را تښتيد لئ و.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندر نژدې يو کال د قوماندان سره تيرکړ. په اخر کي ئې خپل زړه راغونډ کړ، او ټوپکوال قوماندان ته ئې وويل:

- ستا خبره هم پر مځکه نه اچوم، د زرکي سره هغه وخت واده کوم، چي وبهر ته زموږ د تللو کار اول را جوړ کې، زرکه به هم د ځان سره بهر ته بوځم.

ټوپکوال د خپلي ښځي (د زرکي د مور) سره د سمندر غوښتنه شريکه کړه. د ښځي ئې هم سمندر خوښ و. زرکي هم نه داچي مخالفت نه لاره. بلکي دوه چنده خوښه سوه.وروسته نو قوماندان د سمندر غوښتنه ومنله. هغه يوه قاچاقبر ته نيمې پيسې مخکي له مخکي ورکړې، او ور سره د سمندر او زرکي عکسونه ئې هم ورکړل.

قاچاقبر په درو مياشتو کي د هغوی د تللو د کار د سميدو ژمنه وکړه. ټوپکوال مخکي تر دې چي دغه درې مياشتي پوره سي، سمندر او زرکه بهر ته سره ولاړ سي، غوښتل چي د سمندر او زرکي واده وسي. سمندر يو بل وړانديز وکئ، چي که ده ته اجازه ورکړي چي دی يو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل خپله مور وویني، که هغه ورسره راتله، هغه به هم راولي، دلته به زما او د زرکي په واده کي برخه واخلي. او که چیري ئې مور نه را تلله، د هغې څخه خو به یوه د خدای په اماني راواخلی، بیرته به ژر ان شاالله ځان راورسوي.

ټوپکوال سمندرته د تللو اجازه ورنه کړه. ځکه هغه له دې بیرېدئ، چي سم دم سړی به مي دلاسه ووځی. هلته به ئې مور پښیمانه کړي. نو ولي په لوی لاس سم سړی چي د لور او ښځي مي هم خوښ دی، دلاسه ورکړم. هغه سمندر ته وویل:

- کله چي ستا او زرکي واده وسو، زما به هم زړه بیغمه سي. تر واده وروسته که وخت و، ولاړ به سي، مور به دي ووینې.

سمندر په داسي یوه حالت کي راګیر و، چي نه سي کولای، پر خپل سر بیرته مور ته ولاړ سي، د ټوپکوال خبره ئې ومنل. قوماندان ژر ملا راوستی. د سمندر او زرکي نکاح ئې ور وتړله. نور سمندر د قوماندان د کور



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی او زوم سو. هغه د زرکي سره يو ځای او په مينه اخته دئ.

سمندر او زرکه د يوې خوا يو د بل خور او ورور دي، بلې خوا وينه او مينه ئې سره ګډه سوه.

هلته قوماندان اوښځي ئې د سمندر او زرکي دښه لوی واده دپاره ترتيبات نيول پيل کړل.

د سمندر او زرکي د واده خبر ښار ته هم ورسيدئ. کله چي د سمندر مور، خور او قوماندان لونګ د کيسي خبر سول، قوماندان لونګ د خپلي مور، خواښی او ښځي په مشوره سره دا ښه تره وګڼل، چي د دې لوی شرم مخه ونيسي.لونګ د کورنۍ غړوته قناعت ورکئ، وې ويل:

دا شرم سبا مور ته پاتيږی. هغه خلک خوچي د پاکستانی چارواکو په لاس کښيوتي دي، د هغو ځخه چارواکو داسي سړی جوړکړي دي، چي هغوی اوس د خپلي مور (وطن ) په کيسه کي نه دي.

پاکستان غيرت، شرم او همت ئې په دوی کي وژلی دئ. په خفګان چي نوم د نامه نه پرې کيږي. زموږ نوم



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس ورسره تړل سوی دئ. نوښه خبره داده چې موردا ځل بیا په تکلیف کم او تر پاکستانه ئې ولیږم. ښه پوهیږم چې دا به مور ته ډېره سخته وي.

د لونګ مور وویل:

- زویه! ستا او د کورنۍ د عزت د خوندیتوب دپاره به ځان اور ته هم واچوم.

د قوماندان لونګ مور وپاکستان ته د ورتلو تیاري نیول. تر لږ څنډ وروسته، د لونګ مور د یوه اشنا او بلدی سړی سره اراده وکړه، چې د کویټی ښار ته ولاړه سي. په لاره کې ستونزی وې. دوی یو څه په څنډ سره تر پاکستانه ورسیدل.

پوښتنه پر پوښتنه ئې د ټوپکوال کور پیدا کئ دا هغه شپه ده، چې د ټوپکوال په کور کې د سمندر او زرکې د واده د مراسمو د نیولو په کار نر او ښځې بوخت دي. د لونګ مور د ټوپکوال کور ته ننوتله. زیات کلونه تیر دي؛ د ټوپکوال ښځو د لونګ مور اول و نه پیژنده. ځکه سره له دې چې عمر تیر سوئ، کوچنیان لویان سوي او


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځوانانو ځيرو هم توپير کړی دئ، د لونګ مور چې اوس د يوه زبردست قوماندان"لونګ "مور ده، د هغې په جامو، سر او وضعه کې د پخوا په پرتله ډېر توپير ليدل کيدئ، نو په دغه سبب د ټوپکوال ښځو دا اول ونه پيژندله.

کله چې ښځو وليدل، کور ته ئې يو معمره او معتبره سپين سرې ښځه راغله، هره يوه ئې روغبړ ته راغله. د روغبړ پر وخت د خبرو څخه د لونګ مور وپيژندله. ټولې ښځې په تعجب کې ولوېدې، پدې چې اول د لونګ مور څونه په ښه بڼه سوې ده او بل دا چې څنګه له ډېرو کلونو تيرېدو وروسته د دوی کور ته راغله؟

هر ډول چې و، د لونګ د مورتود هر کلې ئې وکئ او ټوپکوال ئې د لونګ د مور په راتللو خبر کئ. ټوپکوال هم په فکرکې ډوب سو، ځکه د هغې زوی لونګ خو کلونه مخکې د ده لور (کوتره ) د کوزدې په شپه د ده د کوره تښتولی وه. د هغه ځُسر ئې د هغه له



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده څخه خوشې کړی و، او خپله د لونګ مور هم د هغوی سره یوځای د کلي تللې وه.

دی هم نه پوهیدی، چې د لونګ مور به اوس څنګه او د څه دپاره راغلې وي؟ بیا په داسي نازک وخت کي چې موږ ټول د زړکي د واده په کار و بار سره بوخت یوو. ټولو ته تشویش پیدا وو. ټوپکوال خپلو ښځو ته وویل:

- تاسي د لونګ د مور سره خبري وکړئ؛ ژر دا معلومه کړئ چې دا ښځه څنګه او د کمه راغلې ده؟ زه خو فکر نه کوم چې دا ښځه دي داسي تصادفی را پیښه سوې وي.

د ټوپکوال ښځو د لونګ د مور څخه په خبرو خبرو کي دا پوښتني کولې چي دا دونه کلونه چیري وی؟لونګ زوی چیري دئ؟ کوتره مړه ده که ژوندی؟ ته احوال په لرې که یا؟

د لونګ مور دوی ته وویل:

- ټول شکر دئ ژوندي او جوړ دي. موږ په ښار کي اوسوو.هلته په ښار کي اوازه ګډه وه، چې قوماندان خپله



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور ودوي. زړه مي تاکت (طاقت) و نه کی. ما ويل، ښه دئ، چي يو واري تاسي وګورم، او د ښادئ مبارکي به تاسي اوپه خپل قوماندان صاحب ته هم ووايم.

که ستاسي خوښه وي زه غواړم چي تاسي ټولي ناستي ياست، قوماندان صاحب يو ځل ووينم؛ څو خبري لرم چي ستاسي سره ئې شريکي کړم.

ښځو وويل:

- ولـي نـه، مـوږ بـه احـوال ورکړو هغـه رابـه سـي. قوماندان اوس سپين ږيری او ناروغ سړی دئ. هغه هيله لري خپله لور زرکه په خپل لاس واده کي.

د لونګ مور پوښتنه وکړه:

- د چا سره مو دوستي کړېده.

د زرکي مور ورته وويل:

- د زرکـي پـلار غـواړی، زرکـه هغـه هلـک تـه واده کړي، چي د ده سره ئې د ده په تيښته کي مرسته کړې ده. هغه يو ښاری هلک دئ، خو ښه هلک معلوميږی. نور ئې موږ هم مور او پلار نه پيژنو. سمندر نوميږي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی وخت کي ټوپکوال کور ته راغی. د لونګ مور دافغانی دود او رسم د هغه مخ ته ولاړه سوه. ټوپکوال ته ئي سلام واچوی، او بیرته پر ځای کښینستله. ټوپکوال او د هغه ښځي درې سره کښینستئي د لونګ مور وروسته له ډېرو کلونو تیرېدو څخه د دوی کور ته د خپلو ورتلو سبب داسي بیان کی:

- قوماندانه وروره! ښه غوږ راته ونیسه، نه مي غوښتل، چي ستا کور ته راسم. خو کله ناکله په ژوند کي داسي سخت او ژور مجبوریتونه پیښ سي، چي یو په زړه کي سخت خفه سوی انسان هم اړ باسي، ټولي تیري ترخې تر شا وغورځوي.

نن ورځ زه، زوی لونګ، نرور (د زوی ښځه اوستالور) کوتره د کوتري مور، ستا ښځه،ستا خسراو خواښي ټول داسي مجبور سو، چي زه د دوی ټولو په خوښه ستاسو کور ته د څو خبرو د یادولو دپاره راغلم.

زما راتګ هم داسي یو مجبوریت وګڼه. زه د ښاره په ډېرو مشکلاتو سره تر دې ځایه یوازي ستاسي د لیدو


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره نه يمه راغلې. بلکي دا ټول مشکلات او ستړيا مي د دې دپاره پر ځان ومنلې چي مساله د اسلامی شريعت د پايماله کيدو دمخنيوی، د خپلي کورنۍ د عزت خونديتوب خبره وه چي زه ئې مجبوره کړم، يو ځل بيا ستاسي پر کمبله کښينم.

هغې زياته کړه:

- په دې دوو سببونو زه خپله راغلمه. يو، نه مي غوښتل، چي پردي سړي د دې رازه څخه خبرکړم او بل سبب ستا د خطا شاهده زه وم؛ بايد په خپله مخامخ زه درته ووايم. دا پدې چي ستاسي د کورنۍ سره زما د زوی لونګ چي ستا له رضا پرته ستا زوم سوی دئ، د هغه د عزت سره ترل سوی خبره ده.

دلته د عزت د ساتلو مساله ده، کله چي موږ په ښار کي خبر سو، تاسي غواړی خپله لور (زرکه) وسمندر ته واده کړئ، نو ما، لونګ، کوترۍ، د کوتري مور، د کوتري نيکه او انا پرېکړه وکړه، چي تا خپلو غلطيو ته متوجی کړو، چي بله لويه غلطي و نه کړی.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هغه هلک پېژنم، ښه هلک دئ.خو سمندر مور لري. سمندر پلار لري. سمندر خور لري. لنډه ئې دا چې سمندر هر څه لري.

ټوپکوال د لونګ مور ته وويل:

- پدې خبره خو مې سر خلاص سو، چې ستا زوی لونګ د کوترې مېره زما زوم او د کوترې مور، نيکه او انا د لونګ سره اوسی او ژوندي دي. اما د زړکي په ورکړه کې کمه نيمګړتيا سته؟ دا خو لا نوره ښه خبره سول، چې ته سمندر پېژنې. هغه مور، پلار او هر څه لري. او ښه هلک هم دی، نوغلطي په کم ځای کي ده؟

د لونګ مور ټوپګوال ته وويل:

- غلطي ډېرکلونه مخکي تا کړېده،ستا هغه دميلمستيا شپه په ياد ده، چې زه ستاسي په کورکي وم.دقومانداان خودهغې شپې خوند هيڅ دمغزه نه و وتلی. وبيرېدئ، فکر ئې وکئ چی سمندرلکه چې زما اودې دهغې شپې زوی دئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دلونګ مورکیسه شروع کړه: ستا ښه په یاد دي چې ته د شپې د خوني راووتی او د اور دالانچی ته ورغلې، سمندر ستا د هغې شپې زوی دئ.

ټوپکوال د خپلو ښځو په مخکې وشرمیدئ.لا هم هغسي فکر کوي، چې سمندر د ده زوی دئ، د لونګ د مور څخه. د لونګ مور خبره نوره هم روښانه کړه، هغې وویل:

- په هغه شپه د اور په دالانچه کې د کوترې مورستا خپله ښځه پرته وه او زه د سرای په منځ کې د کوچنیانو سره ویښه وم، ته مې لیدې.سمندر ستا دهغې شپې غلطي ده،یعني ستا زوی، د کوترې او زرکې هم ورور دئ.

د دې خبرو په اورېدو سره د زرکې مور او ټولو ښځو د لونګ د موره څخه خوښې سوې، او قوماندان وشرمیدئ. ټولو په یوه خوله وویل:

- شکر چې د زرکې واده د خپل ورور سمندرسره و نه سو.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان چې دغه ټولې خبرې واورېدې، د ځان سره پر خپلو کړو باندې سخت پښیمانه سو. اوس نو ستونزه دا ده، چې څنګه خپل تربرو ته او نورو کلیوالو ته ووائي، چې سمندر د ده زوی دئ؟ هغه چې خلک خبر و، قوماندان خپله لور (زرکه) سمندر ته ودوې، هغو ته څه ووایی؟ د خور"زرکی" او ورور"سمندر" واده خو ممکن نه دئ.

نو د کورنی، سمندر او د لونګ د مور په خوښه ئې دا تر ټولو ښه وګڼل چې،له دغه ځایه کډه وکړی. هغو په هماغه شپه کډه را وکړه.افغانستان بیا ښار ته د لونګ کور ته ټول راغلل.

قوماندان لونګ سره له دې چې کوتره، د کوترې مور، د کوترې نیکه د کوترې د پلار قوماندان په راتلو د دوی کور ته خوښ نه و، خو هغه په هغه لیاقت او ښایستګې چې لرل ئې، د خپل خسر راتلو ته ئې ښه راغلاست ووایه.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتري، د کوتري مور او نيکه ته ئې پدې قناعت ورکړی، چي زما او د کوتري د پلار تر منځ بايد فرق وي، ما مکتب لوستی دئ، زه په يوه نظام، قانون او نظم کي رالوی سوې يم.مګردغه ښيګڼی په هغوکي چي د کوتري پلار ورته کار او فعاليت کاوه(ای،اس،ای) کي،دغه ښيګڼی نه سته.

کله چي د کوتري پلار د خپل زوم قوماندان لونګ له خوا د ده د بديو سره بيا هم داسي نه ښول چي د ده څخه دي خوا بدئ وي. نو ئې يوه ورځ لونګ ته وويل:

- زه پر خپلو ټولو کړو پښيمانه يم او ستاسي څخه بخښنه غواړم. دوی....به راته ويل، او ما هم فکر کاوه چي د اسلام د ساتنی دپاره کارکوم، خبر نه وم چي خپل کور خرابوم او اخيرت ته به مختوری ځم.

**پای**



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم ټوک

# دوهمه کیسه

# بنګ


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ديوه کليوال ژوند:

زموږ په کلي کې هم د نورو کليو په شان د منې په وروستيو شپو کې، کله چې پروړونه له ډاګونو څخه ټول او ذخيره سي، د مميزځايو څخه مميز (کشمش خانو څخه کشمش) له باغونو او باغچو څخه انار يوړل سي، دا مانا چې هوا سړه سوله. د هوا د سړېدو سره جوخت کار او خواری کمه يا ورکه سي. د منې سړې سيلۍ را والوزی، د ونو او بوټو پاڼې ورژوي. ډېر وختونه اسمان شين او صاف وي.

کله نا کله پاس په اسمان کې نری وريځې بې له اورېدو د کليو دپاسه داسې په ځغاسته تيرېږي،چې لم ئې په خاشه کې نه بندېږي. د کڼې ساړه بادونه پسې را والوزی، د هر سړی په غوږونو کې سوړباد شپيلکی وهي او شنه ډکي د مځکې پر مخ ورک سي.

چوغکی چې کری ورځ د خپل نس د ډکېدو دپاره پر لاښوباغونو، فصلونو او ورشوګانو ګرځېدلې وي، هر مازېګر د خپلې شپې د تيرېدو دپاره په سيلونو سيلونو د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغونو، لڅو ونو او ورشوګانو څخه را الوزی او په ډله ییزه توګه مخ د خندق پر خوا ځی، هلته چې نلونه او لوخي ولاړي وي، دوی تر لمر لوېدو مخ ته هلته ځانونه رسوي. تر ګونګو ماښام پوري په خپل منځ کي په خپله ژبه سره ګډي وي، او تر هغه وروسته بیدېږی. سهارنې بیا د خپل نس غم وي. الوزي خورو ورو ورشوګانو ته ځي او د ځانو دپاره خواړه پیدا کوي.

د هوا په بدلون او سړېدو سره زیات کلیوالي ماشومان، لویان او زاړه نر او ښځي رېزش او زکام سي، پُزی ئې را ایله وي. د غریبو کورنیو ژوند خو په پسرلي او دوبي کي هم ښادمن ژوند نه وینې، خو د منې او ژمی سړه هوا، ورباندي یو بل غم ایضافي سي.

وسمني کورنۍ یا هغه کورنۍ چې د ژمی لپاره لږ څووری ولري، د سړو شپو د ښه تیرولو لپاره د منې په لمړیو ورځو کي خپل لاندي حلال کړي. دمنې په اخیر او دژمي په اولو شپو کي د لاندي څخه لغړ پخوي او په ژمي کي خپلي کترې خوري.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غریبو ژوند خو په هوکه او سوکه تیرېږی. زیات وختونه سوړسک او اوربشینه په اونی کي یوه شپه ئي غلمینه وي. سپوره ډوډۍ خوبه یو بختور لري.

د غریبو هره هغه ورځ ښه وي، چي اسمان صاف یا د اسمان مخ له وریځو خالي وي. کله چي سهار ژړ او کمواکه لمر د غره له سره څخه خپل سره ټکی مخ راښکاره او پر پراخه ورشو باندي خپله لمن خوره کړي، ټول کلیوال ورته هوسیږی.

په هره هغه ورځ چي سهار لمر یوه نیزه را پورته سي، نو د مځکي مخ لږ د ناستي او ګوذارې سي. لاس هم د تخرګه دباندي راخیژي.هر څوک د بیابانه څخه د ډوډۍ پخولو دپاره څه خاشي کور ته راوړي. تر هغه وروسته، ماشومان، ځوانان او زاړه، د خپلوکورونو څه د کلي په منځ کي میداني ته راووځي. نجوني هم د خپلو همزولو سره په ناوکیو بازی کوي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول هلته د میدانۍ په هغه کونجک کي، هلته چي د سهارنۍ لمر وړانګي ورته سیده رالویږي، او د باده څخه ئې غوړونه څه پناه وي، پیټاوي ته سره کښیني.

د هر کلي په میداني کي مشرانو دمشرانو،ځوانان د ځوانانو اوهلکان د هلکانوسره د ناستي او بازیو ځایونه معلوم وي. هر کلیوال د هري کورنۍ څخه چي وي دې میدانۍ ته راوځي، د دوی په کالیو او څپلیو کي ډېر د پام وړ توپیر نه لیدل کیږي. پدې چي ټول نژدې یو شان غریبانه ژوند لري. په دغه میداني کي تر غرمي پوري، هلکان د هلکانو سره، ځوانانو به د ځوانانو سره او پدې شان به سپین ږیرو له سپین ږیرو سره د زړه خواله، خبري اتري او لوبي کوي. هري ډلي یو د بله سره په یو څه نه یو څه ځانونه بوخت کړي وي. بجلیوال د بجلو لوبي، مردکیوال د مردکو لوبي کوی.

ځیني مشرانو بیا کتار، شپاړس ګاټی، درګاټی، غولبندۍ سره ایښي وي. پاته نورسیلبین پر راټول وي. ځیني زړو به ودغو ناستو او راټولو ته د خپلي ځوانۍ یوه


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمه کیسه، د خپلي عسکرۍ د دورې کیسې او څرګندوني کولي.

مثلاً یوه به ویل: کله چي مي پچه را وختل، حکومتۍ ته ورغلم، دستي ئې څیره کړم، د دوو جوړو کالو او درو شلو افغانیو سره د کوره ووتم. دوه کلنه نوکري مي هم دوه کاله او څلور میاشتي سوه؛ پدې چي عوضي نه و،را رسیدلی ترخیص مي بند وه. ما ویل چي ترخیص وانه خلم، کور ته نه ځم. همداسي مي وکړل.

د دوو کالو دعسکرۍ کولوبیانونه نو دونه زیات کیدل،چي مه کوه خبري. کله چي به د یوه څخه بل ترهغه مشر ته د خبرو وار ورسیدی، هغه بیا د امان الله خان د پاچهۍ، د سقاوۍ دورې کیسې او څه چي ئې لیدلي وي، هغه بیانولي.

د هر یوه هڅه هلته دا وي، ځان داسي وښئي، چي پر ده دا عمرخوشي نه دی تیر سوئ، تر ټیښو او لیدنو زیات څه وائي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم کاکو، چې په ناستو کې تر ټولو مشر دئ، د عمر زیاته برخه ئې په سختیو، خواریو او سرګردانیو کې تیره کړې ده. هغه د ژوند ډېري تجربې لري.

ډېر څه د سلیم کاکو په مخکې تیرسوې دي. کله چې هر یو له دوی څخه خپل بیان خلاص کړي، نو د خپلو خبرو او کیسو د رښتیاوالي او سیکه کیدو په موخه، خپل مخ وسلیم کاکو ته را واړوي، او په لوړ اواز ووایي:

- سلیم کاکو همداسي نه وه؟

سلیم کاکو په خپل کار باندي بوخت وي، سر ئې کښته اچولې وي، پورته چندان نه ګوري؛ یوازي د تائید په توګه سر وښوروي.

هلته نو خبري کوونکئ ډېر خوشحاله پدې سي، چې بیان ته ئې سلیم کاکو هم د هوکي سر وښورو ئ. که به پخپلو خبرو کي کم چا څه زیاتی هم کړئ و، سلیم کاکو غوږ کوڼ اچاوه. څوک ئې د ځانه نه مرور کاوه. سلیم کاکو نو خپله یو کلیوال پوخ نجا ر دئ. دروازې، د یوي رختونه، جغونه، مالې، چوغ لنډی، بګیرکې،



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنيچويونه، د يامه لاستى ، ټکه کي او هر هغه څه چي د کليوالو اړتيا وه، د سليم کاکو سر ور سره خلاص دئ. هغه ئې په ښه توګه سرته رسولای سوای.

که څه چي اوس نو د سليم کاکو لاسونه رېږدي، پر سترګو ئې هم پردې پيدا سوې دي، د پخوا په شان ښه نه ويني، مګر غوږونه ئې ښه اوری، خو د ده غټ اندامونه، قوی بدنه، چي لا کړوپه سوې نه ده، د لاسونو پنجې ئې غښتلي دي.

*** *** ***

نن هم سليم کاکو د هري بلي ورځي په ډول سهار د کوره د خپلي تيشي، رندې، برمې، ارې، د ميخونو د جابې او يو دوو تختو سره ميداني ته راوتی دئ. بنګ زوی ئې چلم او د تنباکو جابه ورته هره ورځ راوړي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګ د خپل پلار سره مرسته کوي او کله نا کله ئې پلار اسانه او لږ کار ده ته هم سپارئ.

سليم کاکو درې زامن لري. د مشر زوی نوم ئې عطا محمد، د دوهم زوی نوم ئې بنګ او د کشر زوی نوم ئې هرڅه چي و، خو ټولو کليوالو (کولی) باله.

عطا محمد ئې پوخ نجار سوئ و. د واده خاوند و، د کلي څخه ښار ته کډه سوئ.هلته په ښکارپور بازار کي ئې د نجارئ دوکان کاوه. بنګ او کولی د پلاره سره په کلي کي اوسيدل. پدې کلونو کي د سليم کاکو ښځه وفات سوه. سليم کاکو د خپلو دوو زامنو سره په پرديو دوو زړو خونو کي اوسيدل.

د غريبو کليوال په ناست ځايونو او باندارو کي هيڅکله د شرابو، کبابو، مستيو، نشو، د جامونو د تشولو او ډکولو خبري نسته. ځکه دا شيان زموږ د ولسی ټولنيز ژوند په منځ کي ځوک نه پيژني.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سليم کاکو د تنباکو د چلم ځکولو پوخ (عملي) سوی و. د عمر د پخوالي او زيات چلم ځکولو له امله د هغه په سينه کي خره هاری هر چا اورېدی.

سليم کاکو خپل شخصي کور او جايداد نه لري. پدې کلي کي ئي نا معلومه خورا زيات کلونه د يوه ښه ګاونډی په توګه ژوند کړی دئ.

په ټول کلي کي هيڅوک نه پوهيږي، چي سليم کاکو په اصل کي د کوم ولايت، کوم کلي او په نسب څوک دئ. خو دا دئ اوس د شاه دولا لالا د غويو د سرای تر څنګ د کلي د ميدانی سره جوخت د خپلو بچو سره ئي ګوذاره ده.

خلک ئي د جت سليم په نوم يادوي. هغه په رنګ ښايسته، په قد جګ، په خبرو پوه، د خبرو او لهجی څخه ئي په واضح توګه سړی پوهيدا سي، چي رښتيا هم د دې سيمي د کليو اصلي اوسيدونکي به نه وي. يو عمر ئي د دې کليو د خلګو په چوپړ کي تير کړی دئ. غوږونه ئي جوړدي، د ټولو ناستو خلګو خبري اوري، او د ځان سره



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئي ارزوي. خپله لړ په خبرو او مجلس ورګډېږي. دا چي دی به څه چورتونه وهي؟ يوازي خدای پوهيږي. يوازي يتيم اکا د نورو کليوالو خلګو په نسبت سليم کاکو ډېر پيژني. يتيم اکا او سليم کاکو سره همزولي دي. سليم کاکو او يتيم محمد اکبر يو بل ښه سره پالي هم، يعني يو له بله تګ او راتګ سره لري.

په دې کلي کي د مځکو تر اصلي مالکينو نور خوار وغريب، بې کوره، جلا وطنه يا "اوپره" کورنۍ زياتي اوسي. نو د ميدانئ په مجلسونو کي هم د "اوپره" هلکانو او سړو شمير زيات وي.

يوه ورځ تر څو چي دوی يو او بل ته د خپلو زړونو غوټي سره خلاصولي او راسپړلي، چي د سليم کاکو زوی "بنګ" په وارخطائي سره ږغ وکړئ:

- هغه دئ، هغه دئ سردار صاحب، سردارصاحب پر دې خوا را روان دئ. په ميداني کي راټول سړي، واړه او زاړه، د يوه مخه داسي يو دم چوپ سول، لکه پر مرغانو چي باز، څرخک ووهی او يا شاهين را ښکاره سي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر، سردار صاحب کرار کرار د میدانی پر لور رانژدې کیدئ. دلته ټولو ناستو لویو او وړو خپل نفسونه په غاښ نیولي وه. کله چې سردار صاحب میدانی ته رانژدې سو، نو په میداني کي ناست ټول واړه او زاړه ورته ولاړ سول، سلامونه ئې ور واچول. سلیم کاکوهم خپل زور وواهه چي ولاړ سي. خو وئې نه سوای کولای.

سردار صاحب پر زړو او سپین ږیرو خلکو باندي هم خپل د مړی خیټي ټوکي وکړې. پرخپله کوندی ږیره او په ږیره کي تاو بریتو ئې لاس راتیر کړ؛ لکه جهان چي ده فتحه کړی وي. بیا ئې سلیم کاکو ته داسي وویل:

- سلیمه! زه نن بازار ته روان یم....

هغه لا خپله خبره پوره کړی نه وه، چي سلیم کاکو ورته وویل:

- په خیر ولاړ سې!

سردار بیا خپله پر راغبرګه کړه او خپله خبره ئې تکرار کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سليمه! ته به کور ته ورسې، د درشتې د ارې لاستی او د يوې خونې د دروازې لخک دواړه سست سوي وو، هغه به وګورې او جوړ به ئې کړې.

- سليم کاکو په کميني سره وويل:

- ښه دئ سردار صاحب، بنګ به دستي وروليږم، ان شاالله جوړ به ئې کي.

سردار صاحب بيا پر را درسته کړه:

- سليمه!که ته خپله ورسې، ښه به وي، ما په کور کي ورته ويلي دي.

سردار صاحب په کور کي له خپلو څلورو ښځو څخه څو لوڼي، يو نازولی خو په سر پک او بې بند و باره زوی لاره.

سردار بيا سليم کاکو ته وويل:

- دا خبره مي پدې درته وکړل، چي دا د نن زماني هلکان دومره د باور وړ نه دي. ته زما زوی ته وګوره، فکر کوم، دا ستا زوی بنګ هم ما ته يو ډول بل ډول هلک رامعلوميږي. هغه بل ورځ مي واوريدل، چي بنګ



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس په چینه کي په صابون ځان پرېولي، که دا رښتیا وي، نو د ده سره احتیاط په کار دئ.

سردار ځکه داخبره وکړه چی زموږ په کلیو کي صابون لږو مړو کورنیو یوازي د کالو منځلو دپاره کاراوه. دغه بازاری صابونونه چا نه پیژندل. بیا چي پیدا سول، یوازي مړو کورنیو او د هغو اولادو کاراوه، غریبو ته ئې کارول، عیب او شرم و.

سردار صاحب به لا څه نور تومتونه په بنګ پوري تړل، چي پدې وخت کي شاتر تاجو راښکاره سو، ږغ ئې وکئ:

- سردار صاحب، اس تیار دئ.

سردار صاحب هغه ته جواب ورکئ :

- ښه، ښه دئ، د رځم.

هلته مهتر لالو ماما د سردار صاحب د اس قیضه نیولي، میداني ته راووتی.

*** *** ***



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهتر لالو چې کوسه وزمه سړی دئ، نری څو تاره ږېره ئې پر زنه شنه وه، خپلې زړی ربړی څپلې ئې په خپل پښو کې تر ملا او اوږدی تینګې تړلې وې، دی ته اماده و، چې د سردار صاحب د سپرلی د اس تر مخ به ځغلي. ځکه دا د مهتری وظیفه د لالو په برخه وه. د کوڅې په خوله کې د لالو دوه ښایسته بچیان سپیره چاودلی مخونه چې پرتوګونه ئې نه لرل، د سړی هوا له امله ریږدېدل؛ لاسونه ئې تر لنډو کمیسونو لاندې په تخرګو کې نیولي ولاړ وو، ګوري چې پلار ئې د سردار صاحب د اس تر مخ څنګه ځغلي.

ښځه ئې هم د خپلو بچو تر شا ولاړه ده. د اوبو ډکه کونجی ئې په لاس کې ده، انتظار باسي، چې کله به سردار پر اس سپور او روان سي. د دې د اولادو پلار لالو خو د اس تر مخه ځغلي او دا به اوبه ورپسې پاشي.

د لالو دغه لمړۍ ورځ ده، چې د سردار صاحب نوکر سوی دئ. لالو تیره شپه خپلې ښځې ته ویلی و، ښه سو، چې خواری راته پیدا سول، اما تر دا اوسه مې دونه زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځغستلي نه دي، تر بازاره خو په پياده تلو د يوې پوره ورځې مزل دئ، چې وبه کولای سم که يه. ته دعاوي راته کوه چې وکولای سم.

تاجو "شاتر" هم د اس دپاره څه شپيشتی په خپلو پتو کې په شا پوري تړلې اماده ولاړ دئ. د تاجو سا پخه ده؛ ډېر کلونه ئې د سردار صاحب د اس تر شا ځغستلي دي، پښې ئې په ډېرو ځغاستو، شګلنو مځکو، ډبرېنو لارو، تروو او بشګلنو مځکو، خاشو او اغزو کې پخې سوې وې، ستنه ئې په پښه په مشکل ننوتل.

د اس قيضه مهتر ونيوله او شاتر ريکاب ونيوئ، سردار صاب راغلی پر خپل اس ئې پښه واړوله، سمدستي ئې اس پونده کی.

د لالو کوروداني (ميرمن) تر شا اوبه پسې وشندلې، دعاګاني ئې وکړې. خپل بچي ئې تر لاس ونيول، خپلې خوني ته بيرته وګرځيدله.

لالو د اس مخ ته او تاجو تر اس شا ته په يوه چارناله د ولسوالۍ د بازار پر لور ولاړل. د سردار صاحب تر



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګ وروسته، د کلي د سپين ږيرو او په عمر پخو خلګو يو بل ته سره وکتل. هيچا جرات و نه کی، چي خبري وکړي، مګر مسکي مسکي سول.

دلته حاضرو ځوانانو ته يو ډول بل ډول فکرونه پيدا سول. پدې چي دا ولي د سردار صاحب تر تلو وروسته، مشران مسکي مسکي سول؟

ځومعلم مرجان دا چپتيا ماته کړل و ئې وويل:

- لالو ته دي خدای خير ور پيښ کي، ځکه يو د ځغاستي سره نا بلد دئ، سا به ئې ژر وسوځي او بل پښې ئې هم پخې نه دي، په لاره کي ډبري، شګي، خاشې او ځوزان به ئې ګوډ کي.

بيابنګ د خپل پلا ره په کراره وپوښتل:

- پلا ره! دا سردار صاحب خو تر تا ډېر کشر دئ، دی هم په کوچنيوالي لکه خپل زوی (زلمی) دغسي..... و؟

سليم کاکوخپل زوی بنګ وترټئ ورته و ئې ويل:


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چوپ سه، خدای وهلې، نه ئې وینې، چې ملک سلطان هلته ولاړ دئ، خبره به دي واوري، دستي ئې تر سرداره رسوي. هغه خود سردار مخبر دئ زویه! دا ټول یو شان وه،بدي د دوی په ختیه اخښل سوېده،ته سر مه په ګرځوه، خپله شپه تیره وه. موږ مجبور یو ګوذازه کوو، غریب خلک یو، چې ته او کولی د خیره سره لویان سی، بیا خپله به په هر څه پوه سی. اوس ته د دغه خپل معلم صاب خبرو ته غوږ نیسه، خپل سبق وایه، د نورو په کار، کار مه لره.

سلیم کاکو له لږدمي کولو وروسته زوی ته وویل:

- اه ښه سو، چې رایاد سول زویه! ته یو ځل د سردار صاحب کور ته ورسه، وګوره، چې د دوی د دروازې لخک څه کار غواړي او د ارې په لاستی ئې څه سوي دي؟ که ئې ډېر کار غوښتی، چې ماپېښین زه او کولی ورسو، او که ئې کار کم و، هلته ئې ژر ور جوړ که، وروسته به نو د خیره سره ښوونځی ته دي ولاړ سي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګ پلار ته ښه کړل. څه سامان ئې د ځانه سره واخیستې، د سر دار صاب کور ته ور روان سو. دلته نو اومکې غرمه ده؛ د ډوډۍ خوړلو وخت هم رانژدې دئ. د هر کور د پاسه دودونه پورته سول، تبخي باندي او اورونه بل سول. یو شمیر کورنی پر تبخی او څوک پر تناره خپل لانده کړي اوړه اچوي، او ډوډۍ پخوي. د خدای او هست خبره ده، چا د جوارو، چا د اوربشو او چا د غنمو اوړه لانده کړي وي.

ګوروان لنګي غواوي، چوپانانو لنګي میږي او بزې کلي ته راوستي او طالب هم د ټوک او جیرې د راټولولو دپاره د کلیوالو د کورونو پر خوا ور رهی سو. یوه ډله کوچنیان د ښوونځی را رخصت سوي دي.

د سلیم کاکو کوچنی زوی کولی هم د ښوونځی څخه کور ته راځي او نور هلکا ن ښوونځی ته روان دي. بنګ هم باید ښوونځی ته ولاړ سي. هغه د درس او لیک لوست سره زیاته مینه لري. ملا سیف الدین هم لکړه په لاس د مسجد په خوا کي ولاړ دئ.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دئ امیـر خـان اکـا د هـري ورځـي پـه ډول چـي نا وخت به مجلس ته راتلی، نن هم بیخي غرمه راغی. سلام ئي واچوئ، ټولو ئي سلام ته وعلیکم دي سلام ووایه، خو بدي اکا و امیرخان ته د سلام جواب داسي ورکړئ.

- امیر خانه، والله چي به تا کي هم کوم فساد سته، ټوله ورځ ورک ئې، یو دم لکه مادوزمی (پیری) پیدا سې، بیا بیر ته لکه مرغړی ورک سې. یوه کیسه شروع کړې، هغه پر نیمائي خوشي کې، ولاړ سي. په څه بوخت سوی ئي، خدای دي ئي خیر کړي. هغه بله ورځ دي هم د زرین ډُهل زن (ډهل وهونکی) نقل دغسي پر نیمه پرېښود، ولاړې.

امیر خان د بدی کاکو په ځواب کي وویل:

- خدای دی موږ او تاسي ژوندی لري. د زرین ډُهل زن کیسه خو څه کوي، ډېري نوري کیسي به درته وکړم، درځی، درځی؛ اوس غرمه ده، کورو ته به ولاړسوو، ګوله موله به تر ستوني تیره کړو، د ماپښین



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لمانځــه تــر ادا کولــو وروســته بــه، کــه د خــدای رضا وه، باران نه و، لمر به هم ښه تود وي، بیابه د خیره سره کیسي کوو.

مومن اکا ئې خبره ونیوله، وئې ویل:

- په یو شرط!

مومن کاکو لا خپل شرط ویلی نه و، چې بډی اکا ئې خبره غوڅه کړل:

- شرط مرط ئې په کونه پوري مه ورتړه .

امیرخان وویل:

- مومن اکا ښه وایی، بډی کاکو خو زما په مرض پوهیږي، که د ماپښین په مجلس کي معلم صاحب و، نو بیا زه خبري نه سم کولای. ځکه د یوې خوا مي معلم صاحب مشر د کاکا زوی دئ. بل د هغه ژبه ډېره تیزه ده. هغه ورځ سردار صاحب او ملا صاحب لا ویل، چې مرجان ډېر ژبور دئ. پدې وروستیو کي چې هرځای کښیني د خانانو او ملایانو غیبتونه کوي.معلم مرجان هیڅوک غوږ نه پرېږدی....



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم کاکو چې لږ په مجلسوکې ئې خبرې کولې اما دا ځل ئې وویل:

-هلکو! معلم صاحب تر موږ اوتاسي په هر څه پوهیږي، هغه مکتب ئې ویلی دئ، ښار ئې لیدلی دئ، د پوهو خلکو سره کښینستلی دئ، موږ او تاسي په څه خبر یو؟ناست خلک ټول چپ سول.

*** *** ***

بنګ چې کله د سردار صاحب د کور دروازی ته ور ورسیدئ، د سرای په دروازه کې ئې پښه ونیول ودرېدی او په لوړ اواز ئې ور ږغ کړل:

- زه بنګ یم، پلار را استولی یم، چې دروازه او اره در جوړه کم.

په کور کې د سردار صاحب ښځو او لوڼو د بنګ اواز وپیژندئ. د بی بی صدفي مور بنګ ته وویل:


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- راځه، کورته راسه؛ ښیلې ( ؟ ) ستا څخه بیا څوک مخ پټوی، ته موږ ته هغه کوچنی بنګ ئې چې وي، دلوی سړي چمونه مه کوه.

بنګ کور تـه ور ننوتئ د سردار صـاحب ښـځو تـه ئـې سـلام ور واچـوئ، او پوښـتنه ئــې ځینــي وکـړه، چــي د کومی دروازې لخک خراب سوی دئ؟

د صدفي مور و صدفي ته وویل :

- زویـه، ورسـه؛ بنـګ تـه دروازه ور وښـیه او اره هـم ورته را واخله.

چي بنګ ئې جوړه کـي صـدفه تـر مخـه، بنـګ ور پـه پسې، هغې خوني تـه ورسیدل، چـي د دروازې لخـک ئـې ختـا سوئ و. بنـګ دروازې تـه کښینسـتئ، چـي لخـک ئـې ور جوړ کړي.

صدفه ورتـه ودرېدلـه، خپلـي دوی سترګی ئـي پـه بنـګ کـي ښخي کړيي وې.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګ په خپل نازک تور بخون پوست کي زيات ښايسته دئ، غټـي تـوري سـترګي، جګـه پـزه، سـپين غاښـونه او برابر اندامونه خدای ورکړي وه.

بنګ تر يوه وخت پوري سترګی کښته اچولی وې؛خپل کـار ئـې کـاوه، کلـه کلـه بـه ئـې سـترګی صـدفي تـه ور وا وښتې، چي وبه ئې ليدل، صدفه ده ته ګوري، د ده هم بـدن وتخنيـدی، مغزی ئـې ورکـوړ کـئ؛ کلـه چـي دواړه سترګو په سترګو سول، عقل او فکر ئې هلته بند سو.

بنګ په تيشه خپلي ګوتي داسي سختی ووهلي، چي تر ګوتو ئې وينی را جاري سوې.لادی خپل ځان تـه متوجـه نه دئ. په خوړ پوه نه سو. صدفه هم غرکـه پـه چُـرت کـي تللې ده؛ وچه ولاړه ده، د بنګ دوسترګو ته ګوري .

پـه دي وخـت کـي د صـدفي مـور راغلـه، ګـوري چـي مځکه پـه وينـو سره ده. د بنګ تـر ګـوتـو وينـی بهيـږی او لور ئې ورته ولاړه ده، سيل ئې کوي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صدفي مور پر خپلي لور بږغ وکئ، چي ورسه، ژر څه رېشکئ او ټوکر را واخله، د بنګ ګوتي ور وتړه، او خپله ئي هم بنګ ته وويل:

- زويه، نور کار بس که، بيا به دي پلار راسي، دروازه به جوړه کي.

د صدفي د مور پر بنګ باندي زړه وسو؛ ولاړه چي بنګ ته څه خواړه راوړي. هغي يوه کاسه ډکه د خوړو راوړه. ګوري چي صدفي لا د بنګ ګوتی نه وي ورتړلي. د بنګ تر ګوتو هماغسيويني څڅيدې. د صدفي دواړي خپري هم د بنګ په وينو سرې دي.يوبل ته ګوري.

*** *** ***

له هغه وخته چي صدفي د بنګ لاس په خپلو دوو لاسونو کي ونيوئ، څو خوږ سوي ګوتي ئې ور وتړي، د بنګ او صدفي دواړو لاسونه او بدنونه خوله خوله



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سول. د دواړو بدنونه رپېږديدل؛ لاسونو او پښو ئې کار نه کاوه، عقل ئې د سره تللي و.

د صدفي د بنګ خوړ سوی ګوتی هيري سوې، يوازي دوی دواړو يو بل ته سره کتل. په خونه کي چوپه چوپتياده، د صدفي مور چي دوهم ځل خوني ته ورغله، پر صدفي ئې منت وکئ.

- تر اوسه دي د مسلمان ګوتي نه دي ور تړلي؟ ته ايسته سه، چي زه ئې ور وتړم، ته لکه چي د وښو ښخه بيرېږي.

صدفي دخپلي مور خبري نه اورېدې څو مور ئې دا لړ پري وهل کله چي صدفه د خپله ځايه ښخه وښيکده، د صد فی مور د بنګ لاس په خپل لاس کي ونيوئ، ګوري چي د بنګ تر ګوتو تودی وينی او د لاس تر خپړه ئي يخي،يخي خولي ځاځي.

د صدفي مور حيرانه سوه، ژر ئې خپلي لور ته وکتل، ګوري چي د هغې په مخ کي يو ځاځکی وينه نسته؛ داسي سپينه اوښتي ده، او په خولو کي لنده خشته



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د صدفي مور وپوهیدله، چي دا د دوو زړونو تر منځ د میني رشته او خوله ده.

*****

د صدفي مور ژر ژر د بنګ ګوتي ور وتړلي. بنګ ته ئي د ډوډۍ کاسه کښیښول خوبنګ دغسي ډکه پرېښوله.ډوډۍ ئي ونه خوړل د سردار صاحب د کوره شوم را ووتئ، مګرخپل زړه ئي هلته پرېښود او د صدفي زړه ئي د ځان سره را واخیست او را رهي سو.

بنګ چي خپل کور ته راغئ، پلار ئي ورته وویل:

- بنګ زویه، ډېرعمر دي وکئ، دروازه لکه چي ډېره خرابه وه .

بنګ پلار ته وویل :

- هوبابا، جوړه مي نه کړه.

سلیم کاکو ورته وویل:

- خیر، ستا بلا دي واخلي زویه، زه او کولی به ورسوو، جوړه به ئي کړو. ته خپل ښوونځی ته ولاړ



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سه، درباندي ناوخته نه سي، ډوډۍ دي په بغل ځولی کې کولی زوی در اچولې ده، پر لاره به ئې وخورې.

بنگ خپلي زخمي گوتی د پلاره څخه پټي کړې. کشر ورور ئې ژر ژر ډوډۍ او بغل ځولی ورته را واخیستل. کله چي بنگ د کولی څخه خپله بغل ځولی اخستله، کولی ئې ټږلي گوتي ولیدې. بنگ خپل ورور پوه کړ چي پلار ته څه مه وایه، او پخپله ټږلي گوتي د کوره ووتی او و ښوونځی ته ولاړ.

سلیم کاکو وخپل کشر زوی کولی ته وویل:

- زویه، یو څه سامان در واخله، چي ورسو، د سردار صاحب دوی کور ته، دروازه او د اری لاستئ به ور جوړ کو.

کولی همداسي وکړل. زوی او پلار دواړه د سردار صاحب کور ته ورغلل. د سردار صاحب ښځو چندانی ستر نه کاوه. د سلیم کاکو سره خو بیخی کوچنی لوی سوي وې. سلیم کاکو دروازه سمه او د اری پر لاستي ئې



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دوه میخونه ووهل. د کار تر تمامیدو وروسته، د سردار د کوره را ووتل، او مسجد ته راغلل.

د جمعي لمونځ تیر سوی و. ملا صاحب سلیم کاکو ته وویل:

- سلیم اکا، سړی چې سپین ږیری کیږي، دینداره کیږي، مګر ته په دینداري کي سست سوی ئې، د جمعی لمانځه ته ځان نه را رسوې. زر لمونځه د کور، یو لمونځ د ماجت (مسجد)، زر لمونځه یوازي، یو لمونځ د جمعي سره برابر نه دي.

سلیم کاکوخپل سر وښوراوه، او ملا ته ئې هیڅ جواب ور نه کی، خپل لمونځ ئې ادا کی.

د ماپښین د لمانځه تر ادا کولو وروسته، کلیوال بیا ومیدانی ته سره را ووتل. د تل په شان د میدانی دا بل دیوال ته چیري چي مازیګر د لمر وړانګي ور لویږی، هلته سره پنډ سول.

امیرخان، بډی کاکا او یتیم اکا، ټول سره راغلل. هلته ئې په خپلو پټوانو کي ځانونه پیچلي په خاورو کي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګونه ووهل. دا دئ معلم صاحب مرجان هم لکه چې ګوله تر ستونی تیره کړی وه او مجلس ته راورسیدئ.

ملا صاحب هم د کوچنیانو د سبقونو څخه ځان را بیغمه کړئ و، راغلی وسلیم اکا ته نژدې پر دوو تلو کښنستی، داسي کښينستی چې خلګو ته وښيي، چې زه بيرته ژر ولاړيږم.

د ملا صاحب د راتلو څخه مقصد او وظیفه دا و، چې معلم مرجان د خلګو په مخکې څه سره کوچنی کي.هغه د معلم مرجان سره آخیستي وه. هر چيري چې معلم صاحب د خلګو سره کښيني، ملا صاحب بې له ځنده ځان هلته باید ور رسوي او د هغه د خبرو په خلاف خبري کړي.

په دې ورځ ملا صاحب بيله ځنده معلم صاحب مخاطب کی، په قهر ئې ور ته وويل:

- معلمه، ته ولي د ماپښين لمانځه و جمعی ته نه راځی؟

معلم مرجان ملا ته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ملا صاحب، دماپښین د لمانځه پر وخت، زه د مکتبه را وځم، تر کوره او ماجته (مسجد) پوري پوره یو ساعت لار ده. خدای ته خو معلومه ده، چي زه د عیال په نفقه او د دې وطن و اولادو ته د څو تورو د ور زده کولو په کار بوخت یم، نو لمونځ هلته په مکتب کي یا په لاره کي ادا کوم.

د یو څه لنډ ځنډ وروسته، بیا معلم صاحب ملا ته وویل:

- ملا صاحب، پدې شپو او ورځو کي خورا تر له وتلئ معلومیږي. خدای دي ئې خیر کي، چي بیا به دا خلګ کومي کومي کندي ته ور واچوي؟

د دې خبري سره، سلیم کاکو هم وویل:

- معلم صاحب ښه وایی.ملاصاحب پدې شپو کي بیخي د (ووله) وتی دئ.

نور ملا چا خبرو ته پري نه ښود. بډی اکاملا ته وویل:


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ملا صاحب، يو ګړی مو دلته ارام پرېږده، ماجت ته درځو، هلته دي نصيحتونه را ته کوه. لمونځ کوو، نور نو ته داسي وچ زموږ...هره ګړۍ لکه چپه لاس مه درېږه.

بډی اکا خو بيا په کلي کي مشر سخي، چرسي او شوخ سړی دئ، په خبره ئي چندان څوک نه خفه کيدئ.بل بډي اکا ته دمعلم مرجان خبري خوند ورکوي.بيا ئې مخ پر امير خان را واړاوه:

- ښه اميرخانه، ته وايه، وا مي وربډل، چي ښار ته تللئ وې؟ په خير راغلي اوس نو وايه څه دي راوړي دي؟ کومه ماته، ګوډه او ړنده پيښه سوې ده که يه؟ خلګ خو وائي چي په ښار کي ډېري خبري سته.

اميرخان دوه درې ځل بډی اکا ته اشاره وکړه، مانا دا چي معلم مرجان ناست دئ، زه خبري نه کوم. خو بډی اکا امير خان مجبور کي چي خبري وکړي.

امير خان وويل:

- بډی اکا! په اوس زمانه کي والله که داسي څه سړی واوري، چي د زړه د راپورته کيدو دي وي. که رښتيا در



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ووایم، زما نو دا څووم وار دئ، چې ښار ته ځم او راځم. څه وکم خیښي ده. هره پلا چې ولاړ سم، دوې درې شپې هلته تیروم.

هغه زیاته کړه:

- لیري ځای دئ، اوس مي کولمي هلته ګرو دي، اولاد دئ،نه ځیني رغول کیږي، مجبور یم، ورسم. حیا دي وي ډېره ډېره د هلکو مور هم را ته وایی، ته ولاړه سه، د لور احوال را ته راوړه. هغه بیوزله خو د بل په کور کي ده، نو زه مجبور یم، ورسم، احوال ئې واخلم.

بډی اکا پر را درسته کړه:

- ته خپل غمونه دي پرېږده. دا د ښاري خلګو د ژوند کیسه وکه. دوی څه کوي، څه شی خوري.....؟

امیرخان یو سوړاسویلی تر خوله راوایست، وئې ویل:

- یاره بډی اکا، څه به درته ووایم، زما خو ئې په خپله ښاری ژوند والله که خوښ سوې وي. ښاری خلګ سر و کال، ستړي او هلاک وي. یوازي ناوخته ماښام



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر کور وي. سهار په تیاره کې لکه زموږ کارګر، بزګر، چوپان، باغوان چې په پسرلي او دوبي کې پر سپیدو د کوره وځي.

امیر خان زیاته کړه:

- ښاریان کال دولس میاشتي دغسي ستړی ژوند لري.

میلمه ئي سهار د خولې د پرېکړي څوک نه سي پیدا کولای. سهار به یوازي وي. چای به کومه کوچنۍ نجلۍ یا یوه زړه ښځه درته راوړي، چي پوښتنه ځیني وکې، پلانۍ څه سو؟ دا یوه خبره اوري، خپلي خوارئ ته ولاړئ.

په کلي کي بې له بډی اکا، سلیم اکا او معلم صاب څخه نورو کلیوالو چنداني ښار نه دئ لیدلی. د امیر خان خبري ورته د بلي د نیا خبري او خورا په زړه پوري وي. بیا یوه وپوښتل:

- دوی پدې سړو شپو کي څه کار کوی؟

امیر خان وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هلته سړی او ګرمی شپې معلومي نه دي. کار، کار؛ ټوله ورځ کار. چا دوکان لاره، چا د سړک پرغاړه شیان خرڅول، چا د اسونو بګۍ لرلې، هغه ئې څغلولې. چا ډوډۍ پخولې، چا سړکونه او پاشي کول، چا جارو کول، چا د کوڅو انبارونه پر خرو مځکو ته رسول. څوک د ختو په مزدوریو اخته وو. چا د خلکو سرونه او ږېرې ور خریلې. خورا ډېري خوارئ وي په ښارکي. ټول خلګ د خپل سر په وېښتانو را ځوړند وو. په ښار کي هره ورځ تیاره د قیامت ورځ وي.

د لږ سا اخیستو وروسته امیر خان وویل:

- که څه په ښار کي هم لږ خلګ ارام او ماړه وو، نوري ټولي کورنی یوازي دونه څه د ورځي ګټي، چي ماښام ئې خټي، بس دا به وایو چي خدای دي زموږ او ستاســي ال او اولاد د دوی د حالــه پــه خپــل قــوت ســره وساتی. والله که هلته هیڅ سړی د خپلي کونی لګیدو ته وخت لري. د خلګو ئې حرص زیات سوی دئ، قناعت



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسته. هره ورځ په ښار کې لکه د محشر ورځ چې وي، نر او ښځې ګډوډ تر له جاروزي، مخ پوټی نسته.

ناستو زړو خلکو خپله یوه یوه د لاس ګوته په خاورو کې کش کړل او دغه په خاورو لړلی ګوته ئې پر خپلو پزو باندې را کش کړې، په لوړ اواز به ئې وویل:

- توبه، توبه!

دلته نو ملا سیف الدین اکا چې لا په ولاړی ولاړ دئ، بیا بهانه په لاس ورغله، ژر ئې یو ایت ولوستی، وئې ویل:

- په کتابونو کې ئې راوړي دي: چې "په اخیره زمانه کې به د نرو او ښځو تر منځ پرده نه وي، ټول به سره ګډ سي". دغه دئ هغه حالت، قیامت را نژدې سوی دئ، خپل طاعت او عبادت کوئ. د خلکو پر خبرو غوږ مه نیسئ، ځان مه خبروی، پر خپلو غوږو لاسونه ونیسئ، هر څه چې بې خبره یاست، هغو نه ښه یاست. قیامت تور وي، که سپین؟ چې ښځې مخ نه پټوي، او په بازارو کې د نارینه و سره تاویږی او را تاویږی، نور به لاڅه اورو؟



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلم مرجان د ملا څخه خبره ونیوله، او وئې پوښتل:

- تا ښار لیدلی دئ؟

- ملا صاحب وویل:نه، خدای دي نه را باندي ویني، نوري ګناه مي کمي دي چي ښار هم ووینم.

- معلم بیا وپوښتل !ملا صاحب (لمده ) ډوډئ ښه خوند درکوي، که وچه؟

- لنده چي وي، وچه دي ځان وخوری....

ملا صاحب پر معلم مرجان ور بڼغ کړل:

- معلمه، خبري مه اوږدوه، تاسي معلمان والله که په خبرو کي د چا پلار ملامت کي. ستاسي ژبی مار څټلي دي. مطلب دي څه دئ؟

معلم مرجان وویل:

- ګوري خلګو، ما په ښار کي څو کاله مکتب ویلی دئ، امیرخان دوي دري شپې د لور کور ته تللی دئ. د ښار د خلګو ژوند زموږ تر ژوند ډېر اسوده دئ. په ښار کي دوا او ډاکټر پیدا کیږي، د ښار د خلګو کالي پاک وي. هغه لږ خواړه چي خوري، زموږ تر خوړو ښه وي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ژوند نوري اسانتياوي سته. په ښار کي څه ښځي هم د نــرو پــه ډول پــه حکــومتی ادارو کــي کــار کــوي، ډاکتراني،معلماني او په نورو کارو مصروفي دي.چي دا ټولي ښې خبري دي.

ملا صاحب ئي بيا خبره ونيوله:

- واالله هوله.....! ښځي د نرو سره يو ځای کارکوي؟ توبه توبه ما خو وويل، چي ستا ژبه مار څټلې ده. ته د کلي خلک ګمراه کوې؛ خپله خو ګمراه سوی ئې.وينم دي اوس کله کله بې لنګوټې پر لمانځه درېږې. هغه بله ورځ دي حتا ويل چي په لڅ سر هم لمونځ روا دئ. ګوره چي سبا به لا څه ووائې.

امير خان هم د ملا پله ونيوله:

- ملا صاحب، رښتيا دي ورته وويل.

تر څو چي معلم مرجان ځان د ملا او امير خان د خبرو جواب ته ځان جوړاوه، بډي اکا بيا ملا مخاطب کئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ملا صاحب، ولي مو يو ګړئ ارام نه پرېږدي؟ دا ځای د مسالو او فيصلو نه دئ. بيا چي ماجت ته درغلو، هلته دي خبري کوه، موږ به درته ناست يو.

ملا صاحب چوپ سو. خو معلم مرجان په حوصله سره اميرخان ته وويل:

- امير خانه، دا ستا ژوند خو لکه د يوه حيوان ژوند؛ خپل باغ ته لا انبار په شا وړي. پيسي په مځکه کي ښخوي، چي د زړه خوږی ځخه دي اولادونه مړه سي، يوه کټوه غوښي کور ته نه را وړې. که دي دا اوس هم د سر و ږېري سپږي دا ناست خلک وشميري تر شپېته به زياتي وي کمي نه.

ناستو خلګو وخندل. يو تن وويل:

- والله چي معلم صاحب رښتيا دي وويل، سم دي ورته وويل.

سليم هم د معلم صاحب خبره درسته وبلل، ورته وئي ويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یار معلم صاحب پر خوله دي برکت سه، امیر خان دغسي کنجوس او سود خور سړی دئ. دا وطن تا غوندي ځوانانو ته اړتیا لري. موږ کلیوال دی تر شا ولاړ یو. خدای سته خبري دې زموږ خوښیږی؛ هر وخت خپلو زامنو او د کلي کشرانو ته نصیحت کوم، چي د معلم صاب خبرو ته غوږ نیسی، یو څه ځیني زده کړئ.

دناستو خلګو د سلیم کاکو خبري خوښي سوې.. امیر خان او ملا صاحب مړیجن غوندي دمجلسه ولاړ سول.

د مازېګر د اذان وخت سو. ټول سره ولټیدل. کله چي د مازېګر لمونځ وسو، خلګ د ماجته ووتل. ملا صاحب او امیرخان سره دوه په دوه پاته سول. ملا صاحب امیرخان ته وویل:

- امیر خانه د دې معلم مرجان یوه چاره په کارده، که ئې مخه و نه نیول سي، والله که یو دوه کاله وروسته د کلي د مکتبیانو څخه بیا څوک په دغه مسجد کي لا خبري وکي.لکه دغه نن د معلم خبري پرخلګواو هلکانو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاثيرکوي. والله که بيا پياز زموږ په خوله څوک سپين هم کړي. د شيطان مرسته ورسره ده.

اميرخان وويل:

- زه ئې په چاره نه پوهيږم، خو په کار ده چي د سردار صاحب سره هم مشوره وکوو. د سردار صاحب لاسونه اوږده دي.

ملا صاحب امير خان ته وويل:

- ته ښه وايې، د کلي مشر خو سردار دئ، اما دا خبره دي ستا په خوله کي امانت وي، خبره خو دلته خرابه ده، چي دا سردار خپله هم په دينداري کي مزه نسته. کله چي مشر خراب سي، نو د کشرانو څه ګيله کيداى سي. سردار پر هيڅ حساب دئ. بيا کاشکې يوازي په لمانځه کي سست واى؛ خلګ وائې زوى مړى په نورو بد بختيو اخته دئ، څوک ورته ويلاى سي.

امير خان پر را درسته کړه:

-هو، ملا صاحب، ته رښتيا وايې. خبره ترخبري پوري راغله زما خو ئې د پلاره سره هم ګوذاره وه. هغه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مړ دئ او زموږ ورپسی لاره ده، چې غیبت ئې و نه سي، خدای دې ښه ورسره وکي، بیخي د ده په شان و.

ملا صاحب وویل:

- توبه ئې د بترو څخه،امیر خانه، ته خو دهغه سره ډېر نژدې ئې، خلګ دا هم وائې چې سردار په دا مردارو اوبو(شرابو) خوړلو هم روږدئ دا خبره رښتیا ده؟

- ملا صاحب، زما په خوله دې ئې خدای نه کوي، یو ډول اوبه خوري بد بوی ئې ځي. نو که و دغه به وي، موږ ته وایی، دا دوا ده. د دغو اوبو تر څښلو وروسته، داسي لیونی لیونی کیږی.

ملا صاحب وویل:

- هو، امیر خانه، په کتابو کي ئې را وړي دي، وایی: هر څوک چې شراب وخوري، هغه لکه اوښ داسي مست کیږي، تر خوله ئې ځګونه بهیږي.

- څه وکو، اوس دغه شی خدای زموږ په برخه کړی دئ. ته ګوره، کله چې دی پر کور سی او بې حاله نه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، دواړه به ورسو؛ د معلم په باره کي به خبري پـه ګډه ورته وکو. نور د ماښام د لمانځه وخت دئ. اوس دا خبـره د ځان سره وساته، ځوک موک ماجت ته راځـي؛ بيا بـه ګورو.

******

د ماښام د لمانځه تر ادا کولو وروسته، سليم کـاکو د خپل کشر زوی کولی سره يو ځـای د خپل کـور پر خـوا روان سو. د زوی څخه ئې وپوښتل:

- زويه، دا بنګ نن و نه ځنډېدئ ځکه په سترګه مي نه سو؟

کولی ورته وويل:

- يه، بابا؛ موږ په ماجت کي و، مـا وليدئ، بنګ رالـئ (راغی).

کله چي سليم کاکو او کولی کور ته راغلل، ګوري چي بنګ بيده دئ. د سليم کاکو څه فکر خراب سو، چي بنګ خو هيڅکلـه دا وخت نـه بيدېدئ، دا نـن څنګـه داسـي بـې وخته بيده سوی دئ. کولی ته ئې وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زویه، ته څه اور بل که، چې لږ رونبا سي، زه به بنګ ووینم.

کولی چې څه دلرګوتراشنی په د یګدان کې کښیښولې، اورلګیت ئې ورته وواهه، تر دود وروسته د تراشنو څخه د اور لمبه پورته سوه. سلیم کاکو ولیدل، چې د بنګ د لاس ګوتي تړلي دي کولی ته ئې وویل:

- زویه، بنګ لکه چي د چا سره کوم جنګ کړی دئ؛ ځکه د لاس ګوتی ئې تړلي دي. کولی په کراره پلار ته وویل:

- یه، بابا؛ جنګ ئې نه دی کړئ، نن چې د سردار صاحب د کوره راغی او مکتب ته تلی، ما ئې لاس ولیدی چي ګوتي ئې تړلي وي.

بنګ چي زړه ئې د کوټلو وښو ډک و، پر ځای پروت و، بیده نه و، د پلار او ورور خبري ئې اوریدلې. سر ئې راپورته کړ. سلام ئې واچوی، پلار ته ئې وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بابا، کله چې مې د سردار صاحب په کور کې دروازه جوړوله، خپلې ګوتې مې په تیشه ووهلې؛ ځکه مې دروازه جوړه نه کړه، جنګ مې نه دی کړئ.

- خیردئ، زویه؛ اوس کښېنه، کولی جان به ښه چای پخې کې، د یوه ګیلاس خوړو چایو سره به ډوډۍ وخورو، سهار به ئې په رڼا زه وګورم، اوس تیاره ده.

بنګ پلار ته وویل:

- بابا، ډوډۍ مې خوا ته نه کیږي.

پلار ئې ورته وویل:

- نو حتمي به دي تبه وي، که ډوډۍ نه خورې، خیر دئ، یو ګیلاس تودې خوړي چای ښې دي، بدن به دي څه تود سي.

کولی چای جوشه پر اور کښېښوله، ژر په دود لړلی توره خونه، له دوده ډکه سوه. د خونې هوا څه توده سوه. بنګ یو ګیلاس ګرمې او خوږې چای غوړپ کړې. کولی یو زوړ، خو ښه دروند تلتک پر واچاوه.

*****



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار چي کله ماپښين د بازاره څخه بيرته وخپل کلي ته راتلی، يو من بوره، يو چاريک توري چای او يو چاريک شني چای، نيمنی پلميټ، يوه غوټه ټوکران او څه نوره ميده ريزه سودا ئي هم کړې وه. چای، بوره او پلميټ ئي و لالو ته ور په شا کړل. د ټوکرانو او ميده سودا غوټه ئي تاجو ته ورکړل. خپله ئي پر اس پښه واړوله او خپل اس ئي پونده کاوه.

لالو ماما چي هيڅ وخت ئي نه و ځغستلي،دسهار دځغاستي څخه ئي لا پنډيو درد کاوه، سا ئي پخه نه وه، اوس چي سردار صاحب دوه منه پيټی هم ور په شا کئ، ده ته خورا مشکله وه، چي د دونه د رانه پيټي سره د اس تر مخه وځغستلای سي.مجبور و ښه ډېره لاره بيوزله د زړه په دوک وځغستل. په نمايی دلاري کي ئي نوره ځغستا په وسه نه وه؛څو ځل لالو بيچاره په لاره کي ولوېدی؛ نږدی به و، چي د سردار د اس تر پښو لاندي سی.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به سردار مینت پر وکئ؛ ژر به پورته سو. سردار به ورته ویل:

ـ چابک سه، چابک سه؛ شپه راباندي راغله. په تیاره کي لیوان، غله او غدوی راباندي پیښ نه سي، څه تیز سه.

لالو بیوزله زیات نه سوای ځغستلای. تر څه لاره مندو وهلو وروسته، دا ځل ډېر سخت پر خوله ولوېدئ. سردار چي څو ناری او منتونه پر وکړل، لالو بیا سر را پورته نه کئ. سردار هم تاجو ته وویل:

ـ دا غوټه، چای، بوره او پلمیټ ځیني را واخله، ما ته ئې را کړه. درځه چي زه او ته ځو، دی دا لته پرېږده چي لیوان ئې وخوری. د ده دي ملا ماته سي دبې غیرته.

هغوی لالو پر بټي بیابان پرېښود. سردار او تاجو ګونګو ماښام کلي ته ځانونه را ورسول. سردار خپل کور ته ننوتی. تاجو بیا اس تر جلو ونیوه، دوری هوری ئې په کوڅو کي وګرځاوه، چي د اس نفس ساز او خوله ئې وچه سي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته د لالو ښځه او ماشومان وېښ ناست او د خپل پلار د راتلو په انتظار وو. کله چې ئې په تیاره کې د اس د پښو درزې واورېدې، خوښ او خوشحال سول، چې دا خو د سردار صاحب د اس د پښو دربې دي؛ شکر چې پلار مو په خیر سره را رسیدلی دئ. سترګې ئې دروازې ته نیولې وې، چې پلار به ئې راسي. مګر لالو بیا کورته را نه غئ.

د لالو ښځې د خپلو اولادو سره کرئ شپه په انتظار تیره کړه. سهار وختي ئې خپل کوچني اولادونه تر لاس ونیول، د تاجو کور ته ورغله. د تاجو د ښځې څخه ئې پوښتنه وکړه:

- تاجو ماما کور ته راغلی دئ؟

د تاجو ښځې ورته جواب ورکړئ:

- هو، د شپې نا وخته راغی،اوس بیده دئ. ولې، خیرخو به وي، چې پدې وختي راغلې؟

د لالو ماما ښځې ور ته وویل:

- زما سړی خو تر دا اوسه نه دی راغلئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاجو ښځه ولاړه، د تاجو څخه ئې وپوښتل. هغه ور ته وويل:

- راځي، پر لاره دئ.

غرمه چي تاجو د سردار سراچي ته ورغي، اس ته ئې اوبه، واښه او دانه ورکوله، چي سردار هم د کوره را ووتی.

تاجو سردار ته وويل:

-لالو لا تر اوسه کور ته نه دی راغلی.

سردار جواب ورکئ:

- پربېږده ئې؛ هغه دي چنداني سړی نه و پيدا کړئ. تا و نه ليدئ، تيره ورځ ئې په قصدي غوښتل، چي پر لاره راباندي نا وخت کي او په غلو مي لخ او يا ووژني؛ را به سي. ما ته لالو يو ټګمار سړی معلوم سو. د ده دی ملا ماته سي، دوه منه بار ئې وړلای نه سوای، چي را هم سي، جواب ورکه، په يو بل سم سړی پسی ګوره؛ مزدوران خو کم نه دي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سباغرمي ته نو ټول کليوال خبر سول، چي لالو کور ته نه دی راغلئ. د خپلي تجربی له مخي سليم کاکو پوه سو؛ خلکو ته ئي وويل:

- خدای دي فضل کوي، فکر کوم چي لالو ته به يو څه ورپيښه وي، ځکه شپه خو ډېره سړه تيره سوه. که چيري لالو پر بيابان پاته سوی وي، اول خو به يخ وژلی وي، که يخ نه وي وژلی، نو ليوانو به خوړلی وي.که دونه لاره خونه ده چي تر اوسه به پر لاره وي.

د ماپښين لمانځه ته د بل کلي يو مسافر پر ماری اوښ سپور د هغه لوري را روان کلي ته را ورسيدئ.

سليم کاکو مسافر ودراوه:پوښتنه ئي ځيني وکړل:

- سړيه د کمه (کومه) راغلي او چيري ځي؟

مسافر وويل:

- د بازاره راغلم، خپل کلي ته ځم.

سليم کاکو وپوښتی:

- په لاره کي دي بل مسافر و نه ليدئ؟ نه مسافر خو مي په سترګه نه سو. هو ولچي هلته ستاسي کلي ته



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې د سورکۍ غونډۍ په شیله کي پر یوه مرداره باندي څو کارګان او دوی ګیدړی را ټولي وی. کله چي زه ورته را ورسیدم، و مي لیدل، چي کالي او څپلۍ ئې د کم (کوم) مسافر وو، چي د شپې مردار خورو او لیوانوبه خوړلی و. د کوتکه او کوسي نښي او علایم نه وو، نو د مسافر سره چي په دغسي سړه شپه کي کوسی او کوتک نه وي، پر دغه لاره، د دغو غرو لمن لیوان لري. او یا ممکن خپلو ملګرو وژلۍ او هلته غورځولۍ وي. خدای خبر، کم (کوم) بیوزله به و.

سلیم کاکو او نور کلیوال خفه او حیران سول. مسافر هم د دوی په لیدو خفه سو؛ پر خپلو خبرو پښیمانه سو، چي کاشکي مي دا حال نه وای ویلی. په دغه وخت کي چي مسافر کلیوالو ته نکل کاوه، تاجو هم را رسیدلی و. سلیم کاکو ته ئې کرار وویل:

- مسافر رښتیا وایی. لالو پر دغه ځای زموږ څخه پرون مازېګر پاته سو.

سلیم کاکو پر کلیوالو خلګو ږغ وکئ:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ همدغه لالو ماما دئ؛ درځی چي پسي ورسو، پاتـه هډونه ئي راوړو. ښه دئ د کونډي او اولادونو زړونه به ئي صبر سي.

امیر خان چي دا خبره واورېدله، د خلګو د منځه را ووتی، په منډه منډه ولاړی، سردار ئي د کیسي خبر کئ.

د دې خبري په اورېدلو په اول کي سردار هیڅ پروا و نه کړه، مګر کله چي امير خان ورته وويل، هغه مسافر د کليوالو په مخ کي وويل، چي دا سړی به چا وژلی او هلته پري اېښئ وي، د سردار يو څه فکر خراب سو. امير خان ته ئي وويل:

ـ ملا صاحب چيري و؟

امير خان وويل:

ـ هغه هم کليوالو د ځانه سره بوتی، چي د لالو هډونه راوړي.

سردار توبه،توبه وکړه، امير خان ته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تـه ژر پسـي ورسـه، مـلا پوهـه کـړه، چـي د دغـي خبري لړغم وخوري، که نـه بيا کليوال او معلم مرجان د دې نا چيزه خبري څخه يوه خبره جوړوي.

اميرخان ډېر تيز په کليوالو پسي منډي ووهلې. کليوال لا د لالو د هډو ځای ته نه وه رسيدلي، چي دی ورسره يو ځای سو. کله چي کليوالو د لالو ماما بـې غوښـو هډونـه، د سر کوپړه، څپلی په وينو لړلي د کالو ټوټې هري خوا تـه تيت او پرک وليدل، سخت په غوسه سول.

د يوې خوا ئې دغه پاشلي هډونـه او ټوټې را ټولـولي، د بلي خوا ئې د دې پر ځای چي لالـو مامـا تـه دعاگـاني وکړي، تر خولو ئې سردار ته بد الفاظ راوتل.

اميرخان ملا صاحب ته ځان ور نژدې کئ، کرار ئې ورته ويل، چي سردار صاحب ويل،ملا صاحب ته ووايه، دغه دې د کمال ښکاره کولو ورځ ده، د خلگو په منځ کـي دي خپل کار وکه، خلگ ارام که. ملا صاحب اميرخـان تـه وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښــه دئ، زه پــوهيږم چــي څــه وکــم (وکـړم)، دا ئــې ځای نه دئ. اوس که څه وایم، خبره نوره خرابیږي، چي کلي ته ورسیدو، زه به قران مجید هم را واخلم، بیا به ئي ګورې، ته بیغمه اوسه.

کله چي قهرېدلو کلیوالو د لالو ماما هډونه کلـي تـه را ورسـول، د یـوې خـوا شـپه او تیـاره وه، او د بـل لـوري د لالـو د ښـځي او یتیمـانو ژړاوو، سـر شـکونو او نـارو کلـي پر سر واخیستی. د کلیوالـو ښـځي او کوچنیـان هـم راغلـل. ټول کلي ژړل.

په کلي کي د ژړاوو، او ښراوو یو محشر جوړ کړی و، چـي د سـر دارصـاحب خـوب ئـې هـم نـا ارامـه ور نـا ارامه کئ.

ملا صاب او امیر خان دواړه د سـردار کورتـه ولاړل، چي سردار ته کیسه وکي. سردار دوی ومنل. ډوډی ورتـه راوړل سوه. دوی دواړو د لالو د پاته هډونو د راوړلـو او د کلیوالـو د احساسـاتو د پارېـدلو بیـان سـردار تـه وکـئ پـه ضمن کي ملا صاحب و سردار ته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دغه معلم به اخيرموږ او تاسي په يوه لوی غم اخته کي.

سردار اميرخان ته وويل:

- ته خو يو ځل کور ته ور ږغ کړه، چي څه چای راوړی.

کله چي امير خان ولاړ سو، سردار و ملا ته وويل:

- ما به وختي د معلم يوه چاره ور کړې وايی. ته خبر ئې چي معلم مرجان د اميرخان سکه د کاکا زوی دئ.

امير خان بيرته راغلئ، سر دار خبره واړوله:

- ملا صاحب، ستا خو لږ کلونه کيږي، چي زموږ کلي ته راغلې يی؛ ما او امير خان ته دا معلومه ده چي معلم څوک دئ او څنګه معلم سو؟

سردار زياته کړه:

- معلم د اميرخان مشر د کاکا زوی دئ. زه او مرجان سره همزولي وو. هغه وخت چي مکتب نوی زموږ په کلي کي شروع کيدئ، نو سرکار زما د پلاره څخه وغوښتل، چي اول به ته خپل زوی مکتب ته ورکې،



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي وروسته نور خلګ هم خپل زامن مکتب ته ورکي. پلار مي نه غوښتل ما مکتب ته ورکي.هغه مجبور سو، د مرجان د پلاره څخه ئې وغوښتل، چي دا ستا زوی به زما د زوی پر ځای مکتب ته ورکړو؛ زه به تا ته هرکال نغدی پنځوس افغانی درکوم. هغه و، چي زما پر ځای مرجان مکتب ته ولاړ، اوس هغه مرجان نه یوازي ما ته، بلکي ټول کلي ته دا دئ غم سو.

ملا صاحب او امیر خان ورته وویل:

- دا غم نو ستا پلار کرلی دئ؛ خیر، اوس هم سری وخت دئ.

سردار ملا صاحب ته وویل:

- اوس ئې چاره او مخنیوی په تا کیږي.ستاځه ملا ماته، حکومت،خان، ملک،مسجد او قران ټول ستا پلاس کي دي. امیر خان به د رسره وي، څه چي اړتیا وي، زه مو تر شا ولاړ یم. ملاصاحب ډاډه سو.

***   ***   ***



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار چي كليوالو د لالو د قبر او كفن په كار لاس پوري كاوه، ملا صاحب راغی، قران شريف ئي په څنګ كي را اخيستی و. د نرو او ښځو په منځ كي كښينستئ، قران مجيد ئي خلاص كی، يوښه اوږده سوره ئي تلاوت كړه؛ بيا ئي نو د نصيب، قسمت، وخت او وعدی د پوره كيدو په هكله اوږدې خبري وكړی؛ ګورئ څه چي د چا په نصيب وي، هغه ويني، څه چي د چا په برخه وي، هغه وركول كيږي. وعده چي د چا پوره سي، څوک ئي نه سي زيا تولای، دا د اذل وېش دئ.

ملا صاحب په خبرو كي كرار كرار دغسي تر جنته ولاړی. هغه زياته كړه:

- د لالو ماما په قسمت كي دغه شان مرګ ليكل سوی و. بيا دي هم هغه د خدايه ارمان نه كوي، نن شپه د جمعي ده، بختوره شپه ئي په نصيب سوه. د جمعي په شپه د جنت دروازې خلاصي ولاړي وي، او د دوزخ دروازې قلف وي. هر څه د خدای د طرفه دي، نا ارامی كول، ژړل د خدای تعالی د احكامو مخالف كار دئ. د ده


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر موږ ټولو دا حق دئ، چې تر خاورو ئې ورسوو، دمړي ژر ښخول سنت کاردئ.دعاوي ورته وکړئ، چې خدای ئې وبخښي.

د ملا صاحب تر خبرو وروسته، امیرخان وویل:

- د مړی ډېر پرېښول په کور کي ښه کار نه دئ، در وائي خلی، چې خاورو ته ئې ژر وسپاروو.

سلیم اکا پر را ږغ کړل:

- امیرخانه، کښینه؛ هلکان سهار وختي د قبر کیندني دپاره تللي دي، تر اوسه ئې احوال نسته، د باندي هوا سړه ده، تر څو چي دوی احوال را نه کی، چي قبر تیار دئ، د دي ځایه ئې مه ښوروئ.

نور ملا صاحب او امیرخان جرات ونه کی، چي خبري وکي. معلم صاحب ناستو کلیوالو نرو او ښځو ته وویل:

- عزیزانو، خویندو او ځوانانو!

- دا یوازي لالو نه دئ، چي په ډېره ظلمانه توګه ووژل سو. ستاسي به یاد وي، چي دوه کاله مخکي سلام



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان دغسي مړ سو. بې له شکه چي موږ او تاسي د خدای پیدا یو، او خدای به مو پنا کوي. اما، په قران شریف کي دا هم راغلي دي، چي کوچنی، صغیر او مومن ته تر څو چي بالغ سوی نه وي، څوک جزا نه سي ورکولای. ملا صاحب همداسی نه ده؟

ملا صاحب د معلم صاب خبره ومنله. بیا معلم صاب وویل:

- په قران شریف کي ئې راوړي دي، چي د پلار په جرم زوی، لور، ښځي او نورو دوستانو ته ئې جزا نه ورکول کیږی.

بیا ئې ملا ته مخ را واړوئ:

- ملاصاحب همداسی نه ده؟

ملا بیا د معلم خبره درسته وبلله.

وروسته، معلم صاب د لالو یو ماشوم زوی تر لاس ونیوی او وئې پوښتل:

- دغه ماشوم څوک ژړوي؟ دا ښځه څوک ژړوي؟ کمه (کومه) گناه ئې کړی وه؟



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوالو وويل:

ـ نه، هيڅ ګناه ئې نه ده کړی.

معلم صاحب زياته کړه:

ـ پس دا نو خدای تعالی نه دئ، چې دغه ماشومان، ښځې،موږ او تاسې ټول ژړوي، دا بل څوک دئ، چې دا ظلم کوي، ټول ولس ژړوي.

ملا صاحب او ټول کليوال وپوهيدل، چې معلم صاحب کم (کوم) ظالم يادوي؟ تر څو چې ملا صاحب خبره جوړوله، نفر راغئ، وئې ويل چې قبر تيار دئ.

د معلم خبري د خلګو په مغزونو ننوتې او ملا صاحب ته موقع په لاس ورنه غله. ټولو د هديری پر خوا جنازه واخيستله او روان سول.

پرلاره باندې د خلګو تر منځ پسپسی ديرسو. چا و چا ته ويل:

ـ دا معلم صاحب خو والله چې په قران هم ښه خبر دئ. ملا ئې هره خبره منله.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا به لا دا ویل، چي دا بل ظالم نو څوک دئ، چي دی وائي؟

امیرخان بیا د ملا صاحب پر غوږ ور پرېوتی، چي تا ولي د معلم خبري درستي وبللې؟ د دې خبرو څخه د هغه مقصد دا و چي لالو خدای نه دئ وژلی. نو چا وژلی دئ؟ د دې خبري مانا خودا سول چي خدای ناکرده لالو سردار صاحب وژلی دئ. که څه چي وژلی ئې هم وي، څوک څه ورته ویلای سي، خو بیا هم ښه نه ده، چي پسي شا پسه سردارصاحب پسي هر خوار او غریب خبري وکي.

*** *** ***

هلته د لیري سردار صاحب معلوم سو، چي دی هم د هدېرې خوا ته راځي؛ را نژدې سوی لا نه و، چي امیر خان او دوه درې نور غوړه مالان ئې مخ ته ورغلل. تر څو سردار را رسیدئ، خلګو لالو په قبر کي ایښی او خاوري ئې ورباندي را اړولې. کار چي خلاص سو، ملا


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب لاسونه پورته کړل او دعا ئې وکړه. وروسته بیا معلم صاحب خبري پیل کړې:

- لالو، زموږ او ستاسي ورور او غریب سړی و، هیڅ بد عمل ئې نه لاره، پنځه وخت لمونځ ئې کاوه، مگر غریبی دي ځان وخوري؛ زموږ په وطن کي د اولاد نفقه پیدا کول، څه اسانه کار نه دئ، دا ماړه خلګ هم باید د خدایه لږ وبیرېږي، په مزدورانو باندي دونه درانه کارونه و نه کی، چي په وس کي ئې نه وي، او تر لاندي مړ سي.

معلم صاحب زیاته کړه:

- نور نو لالو زموږ او ستاسي په منځ کي نسته، دلته د قبر پرسر لاسونه پورته کئ او درې واره قل هوالله احد وواياست،ثوابونه ئې ده ته وبخښی؛ دغه ئې فاتحه ده، نوره فاتحه ئې نسته.

*** *** ***



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لالـو د مـرګ کيسـه د خلګـو تـر مـنځ سـره تاوېـدل راتاوېدل. د معلم صاحب خبرو پرکليوالو ډېر اثر کړئ و. هر يو به ويل، چي د لالو بيوزله سره ظلم وسو. ځينو به لا دا ويل چي ګوره بيوزله به ئې ځنګه مړ کړئ وي، او ځنګه به ليوانو خوړلی وي

معلم مرجان خو د دغه کلي اوسيدونکی دئ. سربيره پر معلمی ځه خپله مځکه هم لري. د ژوند څرخ ئې سم څرخی؛ چا ته اړ نه دئ. کليوالو ته ئې خير رسيږي، د کليوالو په منځ کي ورځ تر بلي د ښه اعتبار خاوند کيدئ.

د دغه کليوالي ښوونځی ځخه د معلم مرجان د تبديليدو دپاره خو يو ځل ملا صاحب او اميرخان دواړه د سردارصاحب سره ملګری حتا تر ښاره ولاړل، که ئې د تبديلی يوه چاره په معارف کي وکړي. په معارف کي د دوی غوښتنه د معلم مرجان د تبديلی په باب و نه منل سوه. ځکه د معارف د چارو مشر دوی ته وويل:

- تاسي ما ته بل معلم را کئ، چي هغه ستا سی د کلي په معلمی کولو خوښ وي او هلته در سي؛ ځکه په کلي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د معلم د اوسیدو ځای نسته، بازار ته ئې د تلو راتلو امکان، ترانسپورت او ترانسپورتی لاره نسته. سر دارصاحب ته ئې وویل ته معلم ته په خپله سراچه کې د اوسیدو ځای ورکوې ؟ معلومه ده چې جواب دي منفي دئ. نومعلم مرجان د هغه کلي سړی دئ؛ زما مفتشین ئې د کاره راضی دئ.

نو ځکه، دوی درې واړه په پټه خوله ناکام بیرته کلي ته راغله.

*** *** ***

کله چې سلیم کاکو د لالو د ښخولو څخه خفه زړه کور ته راغی، کولی زوی ئې ورته وویل:

- د لالا (بنګ) د لاس ګوتی تکی شني اوښتي او پړسیدلي دي. ډوډۍ ئې هم دا دوی ورځې نه ده خوړلي، پروت دئ.

سلیم اکا ورغی، پر بنګ ئې بړغ وکئ، د بنګ لاس ئې وکتئ، بیا ئې کولی ته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زویه، اور بل که، څه پیاز را ته راکړه د چړې سره.

خپله ئې څه غوړې دیګ ته واچول او پر اور ئې کښېښودل، چې غوړې ګرم سول، پیاز ئې پکښې واړه کړل. کله چې پیاز په غوړو کې سره سول، اوبه ئې پکښې توی کړې، مالګه او څه د کټوې دارو ئې ور واچول؛ درې هګۍ هم ور واچولې، ښه ګرمه شکنه ئې پخه کړه. بیا یې کولی ته وویل:

- زویه، په کاشنه کې ډوډۍ وړه که، را ئې وړه.

سلیم اکا بنګ په زور د ځایه راولاړ کی، څه ډوډۍ ئې په وخوړله؛ بیا ئې یو ټوټه کراست لنده کړل، څه مالګه یې پر وپاشله؛ د بنګ لاس ئې پکښې ور وتاړه. ویې وویل:

- ان شاالله سهار ته به ئې پاړسوب یو څه کم سی.

هغه، بنګ او کولی ته نصیحت وکړئ، چې زما د تجربی له مخې که خدای مه که هر وخت هر څه در پیښ سي، ډوډۍ خوړل به نه پرېږدئ، ولي چې لوږه ژر



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی د پښو اچوي. سبا سهار به کولی په کلي وګرځي، هر چا چي د خرڅیدو هګی لرلې، ځینې را به ئې نیسي، کور ته به ئې راوړي، دوی درې شپې به ښه غوړه ډوډۍ دربادی وخورم، داسي ګل غوندي به جوړ سی.

*****

بله ورځ معلم مرجان خبر سو، چي بنګ ناروغ دئ او مکتب ته هم نه و راغلی. هغه پوهیدئ چي بنګ خو هیڅکله غیر حاضري نه کوله. نو راغی، د سلیم کاکو څخه ئې پوښتنه وکړه:

- سلیم کاکو دا بنګ چیري دئ؟ مکتب ته نه و راغلی؛ بې له بنګه، مکتب را ته تور معلوم سو. خدای دي ئې نه خوږوي، څه په سوی دي؟

سلیم اکا معلم مرجان ته وویل:

- نه، شکر دئ، نن ښه و. دی د لالو تر مرګ یوه ورځ مخکي ما د سردار صاحب کور ته واستاوه، چي د خوني د دروازی لخک ور جوړ کی؛ هلته ئې خپلي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتی په تیشه وهلي وې. نو خدای ته هیله سته، چي سبا ته به جوړ سي.

معلم مرجان وويل:

- شکر دئ چي بل څه نه دي په سوې.

*** *** ***

دا دئ سبا ته په کلي کي چک چیکه سول، کلیوال خبر سول، چي د سردار صاحب لور، صدفه، دا څو ورځي کیږی، چي هیڅ نه خوري او نه خبري کوي. داسي لوی تبي نیولي، پرته ده؛ خدای خبر چي بیا به روغه سي، که یا. سردارصاحب د شا و خوا کلیو ملایان او پیران راوغوښتل، چي هغوی دم او چو پر وکي، ګوندي جوړه سي. ټول ورته راغلل، خپلي هڅي ئې وکړې، خو صدفه لا جوړه نه سوه.

بله ورځ سهار د وخته، سردار تاجو ته خپل د سپرلی اس ورکی، چي ژر د ولسوالۍ مرکز ته ولاړسي، خلګ وائي چي هلته ډاکټر سته، هغه تر دې ځایه راولـه. تاجو



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر اس پښه واړوله، ماپښین ته ئې په داسي وخت کي ډاکټر را وستی، چي سردار صاحب د کليو څخه د راغليو ملايانو او څوپيرانو سره نا ست و.

تاجو مجلس ته ورغي او سردار ته ئې د ډاکټر د راوستلو خبر ورکی. سردار پوهيدی، چي د ملايانو او پيرانو د ډاکټر د نامه سره لا جوړه نه ده، نو ئې تاجو ته په کراره وويل:

- د صدفي مور خبره که، چي صدفه ډاکټر ته ور وښئي؛ زما سره دلته دا ميلمانه ناست دي.

په رښتيا سره د ډاکټرانو سره د ملايانو او پيرانو ډېره جوړه نه وي. تاجو د سردار د وينا سره سم ډاکټر د صدفي مور ته ور وستی.

ډاکټر د ماشومتوب دوره په دغه کلي کي تيره کړی وه، او لومړی ښوونځی يي هم دلته لوستلی و. د ډاکټر پلار هم مځکه او جايداد نه لاره. هغه د يوه کلي به بل کلي ته په خواری، بزگری او باغوانی پيدا کيدو پسی کډه کيدی. نو ډاکټر ډېر کلونه دغه کلي ته بيا نه و راغلی.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر چي کله د صدفي د ناجوړۍ د درملني دپاره دې کلي ته راتلی، خوښ و. په کور کي ئې لا خپلي کورنۍ ته ویلی و، چي د سردار کلي ته ځم. ښه دئ هلته به دخپل همصنفي د معلم صاحب مرجان مور، اولادونه او خپله به هغه هم ووینم. معلم مرجان مي د مکتب د دوری همزولی و، او څه لیري خپلوي مو هم ورسره لرله.

اوس ډاکټر یو تجربه لرونکو ډاکټر دئ. هغه چي صدفه وکتله، ژر د صدفي په ناجوړي پوهه سو. د نجلۍ په بدن کي د ناجوړۍ لڅي او ښکاره نښاني نه معلومیدې. ډاکټر د صدفي د مور څخه څو پوښتني وکړې:

- نجلی مو چا ته ورکړی ده که نه؟

- دا ناجوړي کله ورته پیدا سوي ده؟

د صدفي مور ډاکټر ته وویل:

- الله ستا قربان سم ډاکترصاحب ستا څخه به ئې ولي پټوم، روغه رمټه نجلی وه. په هغه ورځ چي د سلیم اکا زوی بنګ د دروازی د لخک جوړېدو ته راغلی و، بنګ کار کاوه، صدفه ورته ولاړه وه. بنګ په تیشه باندي خپلي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتي ووهلې؛ کله چي د بنګ تر ګوتو ويني جاري سوې او دې هغه وليدې، لور مي لکچي وبيرېدله، تر هغه وروسته مي دا لور دغسي پرېوته. فکر کوم چي لور مي هيڅ وخت وينه نه وه ليد لې. اوس به کوي خدای، سبب به ئې ته يی.

د صدفي مور زياته کړه:

خپل کوښښ وکه، دا لور مي را جوړه کړه. ښځي وايی، چي پر وېنو دستي پيرانان راځي، خدای دي وکي، چي پيرانان نه وي پر کښينستلي.

ډاکتر د صدفي مور ته وويل:

- خير دئ خوري ، دا يوه کليوالي عامه ناجوړي ده. په تعويذ او دوا دواړو نه جوړېږی. لور دي ستا په مرسته جوړېدای سي. ما اورېدلی و، چي د سردار دريمي ښځي مکتب لوستی دئ؛ ستا د خبرو څخه وپوهيدم چي هغه به ته يی. نو ځکه دا خبره تا ته کوم، چي ما شاالله لور دي غټه ده، او ستاسي هم شکر دئ ژوند ښه دئ، پر لور باندي ولور مه اخلی، پيسو ته اړ نه ياست، د خپلي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـور خوښـي پـه پـام کـي ونيسـئ، پـه خپلـه خوښـه ئـې واده کی. اوس بـه زه څـو ګـولی ورکـم، چـي لږ ئـې خـوب سـم سي؛ اما د جوړېدو چاره ئـې د مـور او پـلار پـه لاس کـي ده؛ څونــه چــي زيــاتي شــپې پــر تيرېــږی، هغــو نــه ئــې روغتيا ډېره خرابيږی. که بيا هم پدې ګوليو ښـه نـه سـوه، نو به ئې هلته بازار ته را ولی؛ ځکه دلته زما سره زياتي دواوی نسته .

د صدفي مور ډاکټر ته په کراره وويل:

- تر خولې مو جـار سـم، تـه زمـا پـه ديـن او دنيـا ورور يی؛ سردار صاحب ته دا خبره وکـه، چـي نجلـۍ بـازار تـه را ولـه، ښـه دئ، هلتـه مـو دوسـتان سـته؛ مـوږ بـه هـم پـه بازار کي يو څو شپې تيري کړو. ګوندي خدای وکـي د صدفي فکر سم سي. ستا پـه کوښـښ بـه مـي پـاک خـدای دا لور را ښه کي.

ډاکټر د صدفي د مور غوښتنه په پام کي ونيوله. راغی سردار تـه ئـې ډاډ ور کـئ، چـي لـور دي ډېـره ناروغـه نـه ده؛ اما څو ستنو وهلو ته اړتيـا سـته، چـي هغـه نـو دلتـه پـه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلي کې نه کېږي، هر کله چې دي وخت و، هلته (بازار) به ئې راولي.

ډاکټر شپه د سردار صاحب په میلمستون کې تیره کړه، سهار ئې د سردار صاحب څخه رخصت غوښتی، چې ولاړ سي. او په دغه کلی کې یو بله شپه د معلم مرجان سره تیره کي. سردار ته ئې وویل، اوس عجب راغلی یم، معلم صاحب مرجان مي هم دا ډېر وخت نه دی لیدلئ، ښه دئ هغه او کورنۍ به هم ووینم. بله ورځ به د خیره سره تاجو ما ورسوي.

ډاکټر د معلم مرجان کور ته ورغی؛ معلم صاحب پر کور نه و، خو د معلم صاحب مور د ډاکټر صاحب ډېرعزت وکئ، څو چې معلم صاحب د مکتبه کور ته را ورسیدئ، کله چې معلم مرجان کورته راغی د ډاکټر په لیدو زیات خوښ سو، ځکه ډېر کلونه ئې نه و سره لیدلي.

په ښه مجلس ئې شپه سره تیره کړه. سهار وختي تاجو اس راوستی. ډاکټر رخصت واخیست او خپل کور


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ولاړ. ډاکټر د معلم د خولې د لالو بيوزله د مرګ په کيسه سم خبر سو. په زړه کي ئې د سردار څخه بد راغلل، خو په خوله ئې څه نه ويل .

سردار صاحب چي د شپې کور ته تللئ و، د صدفي مور تر فشار لاندي نيولې و، هرڅونه چي ژر کيداى سي، دا خپله لور بازار ته بيايم، او دواوى په کوم. د سردار هم د ډاکټر مشوره خوښه سوه.

اوس د کليوالو په مجلسونو کي د لالو پر مرګ د تبصرو ځاى د سردار صاحب د لور صدفي د ناجوړى خبري ونيوئ. امير خان او ملا صاحب د سردار په کور وځى او ننوځى. د سردار د لور د ناجوړى اوازه ژر تر شا و خوا کليو ورسيدله.

څوک څوک لا دا خبره کوي، چي دا به د لالو غريب ازار وي، چي خداى ئې لور ور ليونى کړه.

هلته کله چي بنګ د صدفي پدې شان ناجوړى باندي خبر سو، پر سر ئې اور بل سو، توده تبه پر راغله، داسي سره اېشيدى؛ مګر بنګ ډېر هوښيار هلک و.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د ځانه سره ئې فکر کاوه، چي زما تر وسه تيره خبره ده، هيڅ ډول ممکنه نه ده، چي که ځان هم مړ کم د سردار لور ما ته څوک نه راکوي. خپل ځان ته ئې خپله قناعت ورکړی و؛ نو ئې نه غوښتل پلار يا بل څوک پر ځان شکمن کی.

سليم اکا چي د بنګ لوړه تبه وليدله، وارخطا سو؛ کولی ته وويل:

ـ ته ولاړ سه، معلم مرجان، بډی کاکا او يتيم اکا ته ووايه، چي پلار مي ويل، يو ځل راسی.

کولی ولاړی، دريو واړه ئې خبر کړل؛ دوی هم راغلل. سليم کاکو دوی ته وويل:

ـ دا بنګ داسي معلوميږی، چي لوی تبي نيولی وي. زه به بنګ تر ښاره ورسوم، ښه دئ، عطا محمد او اولادونه به ئې هم ووينم، بيا هغسي ژمی راځي، لاري ختي کيږي، تګ نه سي کيدای. تر څو چي موږ بيرته را ګرځو، دا خپل سامان او کالي اول پر خدای بيا پر تاسي سپارم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوالو د سليم کاکو سره خوښه کړل، معلم ورته وويل:

- سليم اکا، داسي نه سي، چي د ښار ژوند دې خوښ سي، بيا کلي ته را نه سې. په کلي کي زموږ ټولو په تا باندي زړونه تکيه دئ.

سليم اکا پر را درسته کړه:

- نه، ان شا الله راځم.

سبا په خړه، سليم اکا خپلو دوو زامنو بنګ او کولی ته وويل:

- يو، يو تلتک به واخلو، پر لاري ساړه دي.

درو سرو خپل تلتکان په شا کړل؛ د کلي څخه د بازار پر لور روان سول. شپه ئي د ولسوالۍ مرکز ته ور سوله. په يو سماوار کي ئي شپه تيره کړه؛ سهار د ښار موټر ته ولوېدل. ايله چي مازېګر ښار ته ورسيدل. د خپل مشر زوی عطا محمد کور ته ورغلل. زوی، مېږور او لمسيان ئي خوشحال سول. د بنګ هم د مشر ورور او وريرونو په ليدو څه پام غلط سو.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم اکا خپل مشر زوی عطا محمد ته د نبګ د ګوتو د خوړکیدو او بیا لوړی تبي خبره وکړه. عطا محمد د بنګ د لاس ګوتی وکتلی، پر بنګ ئي څه ټوکئ موکي وکړې. وئې ویل:

- سهار به ئي زه روغتون ته بوځم، هلته به ئي ګوتی سمی ور پرېولي او بیا به ئي ور وتړي، د درد ګولی به ورکړي، جوړ به‌ي.

بیا ئي پلار ته وویل:

- که د بنګ ګوتي نه وائې خوړ سوي، ته خو نه راتلې، په کال کي لا یو ځل نه راغلی. زه خو دلته یو وزری یم؛ سهار کار ته ځم، ماښام تیاره کور ته راځم. دا لمسیانو به دي هره ورځ یادولي. ما دوکان نه سوای پرېښولای، چي دوی مي دروستلي وائې؛ څه، اوس هم ښه دئ، چي په خیر راغلاست؛ نور به دلي ګډه ګوزاره کوو. بنګ او کولی به دلته په ښار کي مکتب ته واچو، زه او ته به په دوکان کي اخته یو. د شپې به ټول پر یوه کاسه سره راټول یو؛ یوه وچه او لنده به سره خورو.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سليم اکا زوی ته وويل:

- زويه، په کلي کي مي ډېر کلونه ژوند کړی دئ، ځو ښه خواږه د مجلس خلګ سته. بل د کلي دا ورشو يو څه خلاصه ده، دلته خو پدې تنګو او بويناکو کوڅو کي به مي زاره وچوي. زه والله چي تا ته لا حيران يم، زويه، چي تا څنګه دلې ځان ورته ټينګ کړی دئ.

سليم اکا زياته کړه:

- زويه، اوس چي مي دا خپل لمسيان وليدل، نامي خدا غټوکي سوي دي، ټوله ورځ مي د غيږي نه ايسته کيږي. د دې په ايسته، که کلي ته ولاړم، هم سم زړه به مي ستاسو سره وي. مخکي به مي تنها ته او ستا ښځه يادېدل، دا ځل به مي تر تاسي زيات دا لمسيان تر سترګو دوري دوري کيږي. نه پوهيږم څه وکم، ما ته دا ښاری ژوند خوند نه راکوي.

عطا محمد وويل:

- بابا، ته وا ما ته به دا ځای (ښار) ډېر خوند راکوی؟ وائي، "مجبوره ته مه وايه چي غښتلي يی". د ژوندانه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبوريت دئ. خوار خلگ هر ځای خوار دي. خو دلته دا يو شی سته چي په ښار کي يو څه کار پيدا کيږي، د کشرانو د پاره مکتب سته، يو روغتون سته؛ دغه شيان دي چي سړی اړباسي په دغه تنګو او د بويونو ډکو کوڅو کي ژوند وکي. دلته به مي دغه ورونه څه سم سبق ووائي. ګوندي خدای وي، يو منصب په سرکار کي په لاس ورسي، پر ما خو ژوند دغسي تير سو.

سليم اکا د خپل زوی عطا محمد پخي خبري واورېدې؛ وپوهيدئ چي دغه ښاری ژوند عطا محمد تر پخوا هوښيار کړی دئ. نو ئې د خپل زوی خبره ومنله؛ ورته وئې ويل:

- ښه دئ زويه، چي ته وائې در سره پاته به سم.

سهار عطا محمد خپل ورور بنګ حکومتی روغتون ته ور وستی. يوه نرس ئې د لاس زخم ور ومينځی، څه پوډر ئې پر وشندل او بيرته ئې ور وتاړه، را رخصت ئې کی. کله چي عطا محمد بنګ د کور پر خوا راوستی، پر لاره ئې په ليلامی کي يو پطلون بنګ او بل کولی ته



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانيول. ماپښين ئې نژدې مکتب ته ور وستل، او هلته ئې شامل کړل. نور نو بنګ او کولی مکتب ته روان سول. ښار د کلي په شان نه دئ چي يوازي به څه هلکان مکتب ته تلل؛ دلته په ښار کي پر هلکانو سر بيره نجوني او ښځي هم مکتب ته ځي. په ښارکي د بنګ د مکتب په لاره کي سهار او غرمه ډېري مکتبی ښايسته نجوني وي. ده فکر کاوه، چي يوازي د سردار لور صدفه ښاپسته او ښه کالي اغوندي. بيا هم يو مخ ئې زړه د خپل کلي او صدفي څخه نه صبر کيدی.

يو دوی هفتی وروسته، سليم اکا عطا محمد ته وويل:

- ما ته به دی اجازه راکړي وای، چي يو ځل تر کلي تللی وائې. ژمی را روان دی، هغه خپل دوه درې پاته زاړه تلتکه، يوه کمبله او هغه خپل سامان به مي راوړی وای. که بارانونه شروع سول، بيا نو تګ نه کيږی، او دا بنګ به مي هم د ځان سره بيولای وای، چي د سامان په راوړلو کي ئې مرسته راسره کړی وای.

عطا محمد وخپل پلار ته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بابا، بنګ او کولی مي تازه په مکتب کي شامل کړي دي، دستي ئي د مکتبه را اېستل ښه نه دي. ستا تلل وکلي ته یوازي ښه کار نه دئ، ځکه تر کلي پوري د پښو ډېره لاره ده. هوا سړه ده، او بل د کلي ښځه به څنګه د کور کالي او سامان تر موټره راوړي؟ ښه دا دئ چي دا ژمی دلي سره تیرکو. په دوبي د خیره سره چي مکتبونه رخصت سي، بنګ او کولی به هم د ښار، مکتب او کار سره بلد سوي وي. بیا به زه دوکان دوی ته پرېږدم. ما او تا به یو ځای د کالو او سامان په راوړلو پسي ولاړ سو.

*** *** ***

په کلي کي د ډاکټر تر تللو وروسته، سردار صاحب ماښام خپل شاتر تاجو ته وویل:

ـ سهار وختي به د کوره ښځه یوه نالیچکه درسره واخلي، یابو راوباسه. کله چي دي ځل پر واچوی، د هغه پر سر به نالي واچوې، ښه ټینګه ئي وتړه. صدفه او



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور به ئې بازار ته نژدې د شیر اغا تر کوره ورسوې. ته هم هلته د شیر اغا په سراچه کي شپه تیره که. هوښ کوه چي د هغې خوا ناوخت را رهي نه سي، چي په لاره کي دربانديي شپه نه سي. بله ورځ، وختي حرکت را وکه، چي په رڼا تر کلي ځان را ورسوې.

تاجو د سردار صاحب څخه پوښتنه وکړل:

- بې بی او صدفه هلته پرېږدم؟

سردار وختدل هو هلته ئې پرېږده.

- هو، دوی هلته څو شپې تیروي.

تاجو نو اوس ځان د سردار د کورنۍ محرم سړی ګڼي؛ سردار ته ئې وویل:

- صاحبه، چي ته هم راسره تللي وای، ځونه به ښه وای. یو خو دا لاره ډېره اوږده، سپیره او بټی بیابان دئ، هیڅ پناه ځای نسته. نه ویل کیږي یو ضرورت پیدا سي. بل، دوی ښځینه دي، هلته بازار دئ، بیا ډاکټر ته ځي، صدفه ناجوړه ده، شئ مئ به ئې په کار سي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم چې شیر اغا خپل سړی دئ، خو هغه بیوزله د دې نه دئ، چې د دوی سره وځغلي. بې بی او صدفه به چا ته وایی، چې مرسته را سره وکه.

سردار تاجو ته وویل:

- لیونیه، پر لاره ته ورسره ئې ،هلته پیسې ورسره دي، هر څوک مرسته ور سره کوي.

تاجو سر وښوراوه، یعني چې سردار مي په مطلب نه پوهیږي، نو ئې وویل:

- که چیرې نه پسې راځې، نو بیا زه دوی یوازې نه پرېږدم، هر څونه، وخت چې ئې تیراوه، زه ورسره هلته پاته کیږم.

سردار ته د تاجو دغه ښه نیت لرل، ښه خوند ورکی . هغه تاجو ته هم د سلو روپو یو سور نوټ ورکی، او زیاته ئې کړه:

- سمه ده، هلته ورسره اوسه.

سهار وختي چې تاجو اس سره برابر کی، بې بی او صدفي ته ورغئ، خبر ئې ور کړی، چې اس تیار دئ. د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صـدفي مـور يـوه غوټـه د کـاليو او څـه شـيانو تـاجو تـه ورکړل، چې ته دغه در واخله، موږ در وځو.

تر لږ ځنډ وروسته، د سردار صاحب درې واړه ښځې او اولادونـه د صـدفي او د هغـې د مور مخـه ښـې تـه را ووتـل. بـې بـی او صـدفي د ټولـو ښځـه د خـدای پـه امـاني واخيستل. سردار خپلې ښځې او لور ته وويل:

ـ دلته لږ د جهانداری کارونه دي، دغه به يو ډول د چا پـه غـاړه کـي ور واچـوم، زه هم ان شـا الله يـوازي دوې ورځې وروسته پسي درځم. تـاجو زمـوږ خپـل سړی دئ، هغـه در سـره دی. شـير اغـا دوی تـه مـې سـلامونه کـوی، ځې، نور مو په مخه ښه سه، چې لاره اوږده ده، دربانـدې ناوخته کيږي.

په هر ډول چي و، تاجو بـې بـی او لـور ئـې صـدفه پر اس سپرې کړې او حرکت ئې وکـئ، په لاره کي څو ځلـه ښځې او خپلـه تـاجو د رفع حاجت د پـاره تم سول. نـژدې مازديگر ته د شيراغا تر کوره ځانونه را ورسول.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـځي کورتــه ننــوتلې. د شـیراغا د کــور ښـځو چــي بې بـی او صـدفه ولیدل، حیرانـي سوې، یو یو ئـې جوړ کی چي تاسي او دا ځـای، خدای مو راولـه. ښځو ئـې د سرو څخـه بـوغرې (چـادری) واخیسـتي، د ناسـتي د پـاره ئـې لـوی دالان تـه بـوتلې. د صـدفي مـور، چـي دوی هـم بـې بـی بللـه، پخـه ښـځه وه. د شیر اغـا د ښـځو پـدې شـان کړو خفه سول. خیر، کښینسل؛ دستي ئـې څـه ونـه ویـل. صدفه د خپلي مور په مزاج پوهه سوه. کرار ئـې د مـوره وپوښتل:

- مور، ولي داسي بل ډول سوې؟ لږ سمه سـه، د رنـګ دي هرڅوک پوهیږي چي په قهر ئې.

بـی بـې خپلـي لورتـه سر ور نږدې کـی، ورتـه وئـې ویل:

- زویه، ولي ورته په قهر نه سم؛ پس لـه ډېرو کلونـو، نن د دوی کور ته راغلم؛ دوی دبانـدی کښـینولم. دوی پـدر لعنتی هر وخت ما ته په هغه سترګه نـه ګوری، لکـه زمـا بنو ته چي ګوري. ځکه زه د بله کوره پـه دوی واده سـوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يم؛ پدې ئې دباندې کښېنولم. د يوې همسايه او پردې په سترګه ئې را ته وکتل. خوني ئې خيرنيړى چي ما او تا ئې خوني ته بيولي واى .ما دي ماښام پلار ته وويل: چي په بازار کي څو شپې به زه او لور مي د خپل خوريي ننګو کره تيري کړو. خير دئ، چي خوريى مي غريب دئ. هغه زموږ په ورتلو خوشحاله کيږي.

د صدفي مور زياته کړه:

خوريى (د خورزوى)، د هغه ښځه او اولادونه زموږ په عزت پوهيږي. دا ستا خپلوان شير اغا وي که هر بل يو، زموږ قدر نه لري. زويه، و دى ليدل چي هغه زما خبره سوه. خير دئ ، اوس راغلي يو، يو دوى شپې به تيري کړو، تر هغو به دي پلار هم راسي.

*** *** ***

تاجو چي ښځي د سراى په د روازه کي کښته کړې، نو ئې اس تر جلو ونيوئ، د شيراغا دوى د غويى وسراى ته ئې ور وستئ. اس ئې هلته پر يوه اخور



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتړئ. د وښو خوني ته ورغی، څه شپيشتی ئې په بغل کي را واخيستې او اس ته ئې په اخور کي واچولې.

د شير اغا د غويو مزدور راغی، وئې ليدل، چي تاجو د خپل اس اخور د شنو شپيشتو ډک کړی دئ؛ خوا ئې بده سوه. ورغی سمي نيمي ئې بيرته ځيني راټولی کړې؛ بد بد ئې تاجو ته وکتل.

تاجو ته دې کار خوند ورنه کی، راغی، د شيراغا سراچې ته، هيڅ د يوې پيالې چايو ست هم چا ورته و نه کی. دغسي ستړی هلته د سراچې په يو څنډه کي يو ساعت کښينستی او بيا ولاړی.

تاجو د شيراغا د سراچې څخه را ووتی هلته لنډ بازار ته ورغی، پر يوه سماوار ئې يوه چاينکه خوږی چای د دوو وچو ډوډيو سره ځانته را وغوښتل؛ هغه ئې ځای پر ځای نوش جان کړې. تاجو ډېر ستړی و؛ هلته پرهغه ځای خوب يوړئ او بيده سو. شپه پر راغله سماوارچی ورته وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مسافره وروره زه سماوار بندوم، که څوک په کلي کي پيژني، هلته ورسه او که څوک نه پيژني، نو راځه زموږ په ماجت (مسجد) کي به شپه تيره کي؛ مسجد دشپې تود دئ؛ دلته دي د شپې يخ وژني.

تاجو سماوارچی ته وویل:

- نه، وروره؛ دشپې د تير يوځای لرم، کور دي ودان، چي راوپښ دي کړم.

تاجو بيا د شير اغا سراچې ته راغئ. کله چي تاجوپه سراچه کي ناستو خلکو او شير اغا ته سلام واچوی،بيچاره ورغی د شيراغا لاسونه ئې ور مچ کړل. بيا هلته ارام کښينستئ؛ نور هيچا وتاجو ته ستړي مه سی ونه ويل. لږ وروسته ډوډۍ را وړل سوه، وخوړل سوه، لمونځونه چا وکړل، چا ونه کړل، او بيا ټول پرېوتل بيده سول.

په سبا سهار څه ناوخته تاجو د صدفي مور وليدله. هغې ته ئې وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بې بی، دلته خو والله که ماته هیڅ چا د سړی په سترګه کتلي وي؛ چای او ډوډۍ مي پرون په بازار کي وخوړل، اوس د اس د خوړو دپاره هیڅ واښه په خونه کي نسته. که ستا کار نه وي، زه به ولاړ سم د اس دپاره به څه واښه را نیسم؛ دلته خو بازار دئ، هرڅه په پیسو دي.

تاجو بیا زیاته کړه:

- تیر ماښام مي د شیر اغا دغویو په سرای کي د دوی د وښو څخه څه واښه اس ته وا چول، نفر ئي راغی، بیرته ئي واښه د اس د مخه را ټول کړل. حیوان دی، وږی دئ؛ که ستا اجازه وي، زه څه واښه ورته را وړم، اس مړوم. نور زه دلته نه پاته کیږم؛ کلي ته ځم، سردار صاحب به سبا د خیره راسیي.

د صدفي مور وتاجو ته وویل:

- یه، تاجو؛ ته یوازي نه سي تلای، ورسه اس دي موږ که؛ بیا راسه، زه او صدفه هم در سره ځو.

تاجو وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا څه وائې بې بی؟ زما دي خوله ماته سي، چي دا خبره مي وکړه. صدفه ناجوړه ده، چي ډاکټر ئې ونه ګوري، دوا ور نه کي او خپله ډاکټر د تلو اجازه و نه کي، ته څنګ ځي؛ زه نه ځم، دلې در سره یم.

د صدفي مور وویل:

- نه، تاجو؛ کلي ته نه ځو، د شیراغا د کوره ځو؛ زما د خورئې کور ته.

تاجو د صدفي مور ته وویل:

- سردار صاحب به څه وایی؟

د صد في مور وویل:

- هغه ما ته پرېږده؛ ته ورسه، یو ځل دي اس موړ که، ژر راسه.

تاجو اس مځکو ته بوتی، هلته ئې څه شپیشتي په خپلو پیسو ورته را نیولې؛ اس ئې ښه موړ کی، اوبه ئې کی؛ بیا د اس سره د شیراغا د کور دروازی ته راغئ. احوال ئې د صدفي مور ته واستا وه، چي تاجو راغلئ دئ. د صدفي مور د ښځو د منځه را ولاړه سوه، رخصت



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستی، د شیراغا د کور ښځې ټوله حیرانی او وارخطا سوې. د صدفي مور ته ئې خورا ډېر وویل، بس د دې یوې شپې دپاره راغلې وي؟ ته خو به چې کله مخکې راغلې، لس پنځلس شپې به دې تیرولې؛ دا اوس څه پیښه ده؟ څنګه په یوه شپه ځې، لکه چې زموږ څخه خفه سوې؟

د صدفي مور دوی ته حال ونه وایه، یوازې ئې وویل:

- تاسي مي ولیدلاست، تاجو کارونه لري. دا چې دی ولاړ سي، او بیا راځي، دا لوی تکلیف دئ بیا د خیره سره په بې غمي راځم، ښه ډېري شپې به د رسره وکم.

د شیر اغا ښځو ورته وویل:

- بیا خو دي خدای راوله، هرکله راسي اوس تیاره راغلې ئې، څو شپې پاته سه خوري؛ تر اوسه خو دي شیراغا لا نه دی لیدلئ، دا چې ته ولاړه سي، هغه به موږ ته څه وائي، چې څنګه در څخه ولاړه؟ ستا دي د ښادی کار سي، په دا یوه شپه را تلو.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر صورت، د صدفي مور د شير اغا د ښځو څخه رخصت واخيست، دا او لور ئې بيا پر اس سپرې سوې، تاجو اس تر جلو ونيوئ او د شيراغا د کور څخه راووتل. د صدفي د مور د خوري (ننګو) کور ليري نه و، يو ګړى پس، د هغه کور ته ور ورسيدل.

ننګو د دوی په ليدو ډېر خوشحاله سو. په يوه خونه کي ئې تاجو او بله خونه کي ئې ښځې کښينولې؛ چاى ئې ورکړې، غرمې ته ئې ډوډۍ ورکړه. اس ئې د کور څنګه ته د شنو شپيشتو په مامته کي وتړئ.

د صدفي مور، صدفي او هم تاجو درو سرو ښه ارامه شپه د ننګو په کور کي تيره کړه. د ننګو او ښځي ئې هيڅ باور نه را تلئ، چي خاله (د صدفي مور) دي د دوی کور ته راسي. ځکه چي هغه لوی کور ته ور واده سوه. لويان خو د غريبو سره په تلو راتلو شرميدل.

ننګو او ماينه ئې ډول ډول فکر کوي، بيا هم د خپلي خاله، د خاله د لور حتا د شاتر تاجو عزت کوي. د ننګو د خاله لور صدفي سره خبري شروع کړې، ژر ننګو


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوهیدئ، چې د خاله لور ئې خفه ده. د خپلې خاله څخه ئې وپوښتل:

- دا صدفه خو ناجوړه نه ده؟

خاله ئې ننګو ته وویل:

- هو، زویه؛ صدفه لږ ناجوړه ده. ته به راسره ولاړ سې؟ ډاکټر ته به ئې ورولو.

ننګو وویل:

- ولې نه؟ ډاکټر صاحب خو زما اشنای دئ؛ هغه ډېر ښه سړی دئ. هلته د ورتلو ضرورت نسته؛ زه به ورسم، ورته وبه وایم، چې ماښام کور ته راسي. د ډاکټر صاحب کور زما د کور د څنګه دئ، دلې به ډوډۍ هم را سره وخوري، صدفه به هم وګوري.

خاله ئې وویل:

- خیر یوسې زویه، خدای دې خیر درکي.

خاله په ضمن کې و تاجو ته و ګوري، چې داسې ښه خوریی لرم.

ننګو ولاړی، ډاکټر ته ئې وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډاکټر صاحب، خاله او د خاله لور مې پس له ډېرو کلونو د کلي څخه راغلي دي. لور ئې ناجوړه ده؛ ماښام چې د کاره خلاص سې، ډوډئ به زموږ کره سره وخورو؛ بیا به مې د خاله لور هم وګورې.

ماښام، ډاکټر راغلی؛ ډوډئ وخوړل سوه. ننګو د چایو خوړلو پر وخت ډاکټر ته وویل:

- ډاکټر صاحب، یو ځل به صدفه وګورې، بیا به چای په ارامه سره وخورو. ډاکټر چې د صدفي نوم واورېدی، ور یاده سول، چې دا هغه د سردار لور ده. ننګو ته ئې وویل:

- ننګو، زه خبر نه وم، چې صدفه ستا د خاله لور ده.

ننګو فکر یو وړئ، چې د ډاکټر د صدفي نوم څنګه زده و؟ د ډاکټره ئې پوښتنه وکړه:

- ته هغه پیژنې؟

ډاکټر وویل:

- هو، ننګو؛ دري ورځې مخکې زه سردار صاحب کلي ته ورغوښتئ وم. ما صدفه ولیده. دا چې صدفه ستا



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خاله لور ده، دا خو بيخي ښه کار وسو. اوس به ته هم زما ملګرئ سي ما خو د صدفي مور او د هغې پلار ته وويل: چي خپلي لور ته د هغې د ناجوړئ دوا ورکي.

ډاکټر بيا زياته کړه:

- دوا ئې د دوی سره ده. که ما او تا په دواړو وکولای سو، چي هم د صدفي او هم ئې د مور او پلار ژوند وساتو، دا به مو ښه کار کړی وي.

ننګو حيران سو، چي ډاکټر صاحب څه وائې؟ د صدفي مور خبره سوه، چي ډاکټر صاحب راغلی دئ، د ميلمنو خوني ته ورغله. د ډاکټر صاحب سره ئې پوښتنه وکړه. ډاکټر د ننګو مخ ته دا ځل د صدفي مور ته روکه (سپينه) خبره وکړه:

- خوري، ستا د لور په ناجوړي هلته هم پوه سوم، تا ته مي يو څه وويل. د صدفي ناجوړي تر دې هم زياتيږي؛ بيا ئې جوړېدل ډېره مشکل، حتا ناممکنه کيږي؛ سر له اوسه ئې چاره وکئ. چاره ئې ته او ستا



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



میره کولای سئ. زه او نور ډاکټران هیڅ نه سو کولای؛ که د لور ژوند غواړئ، د دې په خوښه ئې واده کی.

د صدفي مور چې د ډاکټر خبري ئې مخکې هم اورېدلي وي، سر ئې نه و په خلاص سوی. دا ځل ئې وویل:

- یو، یو؛ دا څه وائې، ډاکټر صاحب؟ خدای دي مرګ را کي، دا څه خبري اورم، زه به دغه پیغور څنګه وړم او څنګه به ئې خپل سړی ته یادوم، چې لورمي میړه غواړي. زموږ په غم لړلي کورنی کي چې نجلی ۳۰ کلنه سوې نه وي، ترهغو ئې نه ودوي او نه تر دا اوسه څوک واده سوې دي. دا خو تر اوسه شلو کلو ته نه ده رسیدلې. تر دې مشراني نجوني لرو هغوی ناستي دي. او بیا چې ودوي ئې هم، پردو ته خو خپله ښځه نه ورکوي، وای خدایه، اوس څه وکم؟

ډاکټر د صدفي مور ته وویل:

- خوری، تا خوځه مکتب لوستی دئ، په خبره دي سر خلاصیږي؛ ته ورسه، خپله د صدفي سره خبري وکه،



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیچا تـه تر مور نـژدې بل دوست نسته. تـه د خپلـي لـور څخه پوښتنه وکه، د لور باور پر ځان پیدا که چي دا خپل درد در سره شریک کي.

- وروره، زه پوهیږم، ما هم مکتب ویلی و، پلار د څو خشمږو روپو پـه خـاطر د دوو بنـو پـر سـر و سـردار تـه ورکړم. یوازي دوه کاله زما تر ودولو وروسته، سر دار څلرم واده وکړ؛ یعني څلور بني په کور کي یو. خدای دي زما د سر دښمن زمور. د حاله وساتي.

د صـدفي مـور د خـوني ووتلـه او صـدفي تـه ورغلـه. هغې صدفي ته وویل:

- زویه، ډاکټر راغلی دئ. ما خو ویل، تـا بـه وګـوري، دوا به درکي، خدای به دي روغه کیـي لیکن ډاکټر وائـې: ستا لور پـه دوا او ډاکټر نـه جوړیږي. هغـه وائـې چـي ستا لور پـه ورکولـو او واده کولـو جـوړیږی. ایـا دا ډاکټر ربنتیا وائي زویه؟

صدفی مور ته په جرات وویل:

- مور جانـي، هغه ډاکټر دئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدفی ته مور وویل:

- زویه، ولي دي دا خبره ما ته نه کول؟

صدفي وويل:

- موري، ما خو ډاکټر ته هم نه دي ويلي. موري، رښتيا در ته وايم: هيڅ مي واده او ميره په فکر کي هم نه و، په هغه ورځ چي بنګ زموږ کور ته راغلی و، او تا را ته وويل، ورسه؛ دروازه ور وښيه. دروازه مي ور وښول، بنګ خپل کار کاوه؛ پورته ئې نه کتل. ما د ده ځوانی، کار او غريبی ته کتل. په فکر کي ورته ډوبه تللي وم. يو ځل بنګ غريب متوجه سو، چي زه ده ته ګورم. هغه و، چي هغه خپل د لاس ګوتی ووهلې کله چي ئې تر ګوتو وينی جاري سوې، بيا ئې ما ته په عاجزانه توګه سترګی را واړولې؛ د ده کتو زه ليونی کړم.

صدفي له لږ سکوت وروسته بيا وويل:

- موري، پر ما د بنګ اخيري کتلو دونه تاثير وکئ، چي نور په ځان نه پوهيږم، تر اوسه مي د بنګ سترګي او ويني په فکر کي را ګرځي. دا چي بنګ به زما په باب



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه فکر کړئ وي، پدې هم نه پوهیږم. اوس نو چې ته، پلار او نور دوستان څه فکر کوئ، دا ستاسي خوښه ده، او څه را سره کوي، بیا هم ستاسي خوښه ده. خدای ښه پوهیږي، زما په زړه کې بدي نسته. ستاسي او د خپلې کورنۍ عزت را باندي ګران دئ، دا مي په واک نه ده.

صدفه بیا یو څه غلې سوه او وروسته یې په غلي اواز وویل:

- زه تاسي ته نه وایم چي ما بنګ ته ورکې او نه ما د بنګ سره خبري کړي دي. زه تر مرګ ستاسي نوم ساتم، تر څو چي مړه کیږم، در سره ناسته به یم؛ اما په خپل زړه مي زور نه رسیږي.

د صدفي مور چي د لور د ډک زړه خبري واورېدې، بیرته راغله، ډاکټر ته ئې وویل:

- ډاکټر صاحب؛ ګوره، دا خوریی ننګو مي هم ناست دئ، خدای به کوي او ته به کوي، زما سره مرسته وکه، دا لور مي ډېره را باندي ګرانه ده؛ بیا هر امر چي را باندي کوي منم یی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر وويل:

- خوري، زه نوره مرسته نه سم کولای، دا ستاسي کورنۍ مساله ده. زه نه پکښي ځاييږم، زما کومک دغه و، چي ناحق دواوي مي درباندي خرڅي نه کړې، پيسي مي درڅه وا نه خيستي، ته مي د لور د ناجوړۍ په سبب پوهه کړې.

د صدفي مور وويل:

- کور دي ودان ډاکټر صاحب، دا مرسته هم را سره وکه، سبا شپه د صدفي پلار را رسيږي؛ دا خبري به هغه ته هم وکې.

ډاکټر وويل:

- زه خو به ورته ووايم، فکر نه کوم، چي زما خبري دي پر هغه اغيزه ولري. ستا په روی به ورته ووايم. خو بيرېږم، د کلونو کلونو اشنای مي دئ، د دې خبري په ور يادولو راڅخه خفه نه سي.

- يه، وروره؛ زه پوهيږم، د يوازني سړي څخه چي هغه نه خفه کيږي، هغه ته ئې. هغه ما ته ئې څو ځل ستا



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفتونه کړي دي. ته پوهيږې چي ميره کله ښځي ته د بل نارينه صفتونه کوي.

ډاکټر پر را درسته کړل:

- لکه ښځي چي د ميړه په مخکي د بلی ښځي صفت نه کوی.

*** *** ***

بله ورځ چي سردار پر اس سپور بازار ته راغلی، نو سيده ورغی، د شيراغا د کور په دروازه کي دخپله اسه را کښته سو. د شير اغا د کور کوچنيان پر را ټول سول؛ يو او نيم وځغستل کور ته، شير اغا ئې خبر کی، چي سردار صاحب راغی. شير اغا ږغ وکئ:

- هلکو، ژر ورسئ، د سردارصاحب څخه اس ونسئ، او دی کور ته را ولئ، زه هم در وځم.

شير اغا انډي پر انډي سو، لکړه ئې را واخيستله، د کلا د دروازی پر خوا را روان سو. د ليري ئې سترگی پر سر دار صاحب ومښتې او ورته وئې ويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- راځه، راځه؛ ولې دې پښه نیولې ده، دستر څوک خو نسته او نه دا پردی کوردئ.

روغبړونه دي چې کیږي، د شیر اغا د کور ښځې راغلې، د سردار صاحب لاسونه ټولو مچ کړل. د شیر اغا د کور د ټولو ښځو ښې الوتي دي او خپله شیر اغا هم په فکر کي سو. یو دا چې سردارصاحب هیڅ کله هم بې له مخکنۍ خبرتیا د دوی کره نه راتلۍ. بل دا چې دوې ورځې مخکي ئې ښځه او لور داسي بې خبره راغلي او دغسي په تلوار بیرته د دوی د کوره ولاړې.

دستي چای راغلې، د ډوډۍ وخت سو، د لاسو اوبه را وړل سوې، سردار په فکر کي سو، چې ښځه او لور ئې ولي نه معلومیږي، پوښتنه هم نه کوي؛ خو فکر ئې بند سو. بیا ئې فکر کوي چې ډاکټر ته به تللي وي، را وبه رسیږي. اما دا چې شیر اغا او د هغه د کور ښځې هیڅ د هغوی نوم نه یادوي، ډوډۍ ئې هم د هغو را تلو ته و نه ځنډوله، نو اشتباهي سو، چې حتمي څه پیښه ده.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې د سردار تشويش ډېرېږی، بڼه ئې هم تغيير خوري، خبري هم يو ډول بل ډول ځينې سي. هلته د شير اغا او ښځو هم فکرونه ګډوډېږی.

څو شير اغا وسردار ته وریاده کړه:

- بي بي او صدفه په خير کور ته در ورسيدل؟ هغوی راغلل او يوه شپه ئې تيره کړه بيرته داسي په عجله ولاړل؛ زه هيڅ پوهه نه سوم.

د سردار نور هم فکر خراب سو، و شير اغا ته ئې داسي سم جواب ور نه کړی.

*** *** ***

د خپل خوريي دکوره ښځه د صدفي مور تاجو واستاوه، چې د شير اغا کور ته ورسي، وګوري، چې سردار را رسيدلی دئ که نه. که را رسيدلی وي، خبر ئې کي چې مور. د ننګو په کور کي يوو.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـاجو چـي د شـير اغـا كـور تـه را نـژدې سـو، اول د چوبنـد خـوا تـه ورغلـى، چـي وګـورى كـه سـردار راغلـى وي، نو حتمـي بـه ئـې اس پـه چوبند كـي تړلـى وي. تـاجو چي د سردار صـاحب اس وليدئ، نـو راغـى، د سراى پـه د روازه كي ئې نفر تـه وويـل: چـي سـردار صـاحب خبـر كي، تاجو راغلى دئ، وائې:

د سر دار صاحب سره مي كار دئ.

د تاجو په راتګ شيراغا او د هغه د كورنۍ ټولي ښځي حيراني سوې. اوس ئې نوعقيده پخه سوه، چي حتمي څـه پيښه سوې ده. خپله سردار داسي وانګيرل چي ښـځي ئـې لكـه چـي نـه غوښـتل، خپـل د لـور پـه نـاجوړى دوى خبـر كړي، نو د دې كوره تللي ده.

شير اغا خپله زړه نه كاوه، چي د سردار صاحب څخه پوښتنه وكي، چي څنګه ئـې دوې ورځـي مخكـي ښـځه او لـور راغلل. څنګه بيا تـه دا سـي پـه عاجلـه پسـي راغلـې، چوپ ناست دئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شير اغا مشره ښځه د ده (سردار صاحب) سکه د اکا لور ده. هغې دا جرات وکړ، د سردار صاحب څخه ئې وپوښتل:

- سردار اغا، خدای دي ئې خير کي، څه خو به پيښه نه وي، چي هغه ورځ صدفه او مور ئې راغلې او داسي ژړ ولاړې، او نن ته پسي راغلي؛ فکر دي هم سم نه رامعلوميږي،اوس بيا تاجو درپسي راغئ. مور او شيراغا هم خبر کړئ، خو دا دي هم ورور دئ. مور او تاسي خو يو کور يو. زمور داسي مو ګروم سو.

- نه شا ببو، داسي څه خبره نسته؛ بيا ژمی راتلی، صدفه او مور ئې راغلل، څه سودا به ئې په کار وه، او زما هم د سرکار سره لږ کار و، بيا په ژمي نه سوای راتلای؛ راغلم، دلاري را وګرځيدم ما ويل، ښه دئ لالا،تاسي اوټول به هم ووينم.

- ځه، شکر چي څه نسته.

سردار تاجو ځان ته را وغوښتئ؛ تاجو راغی، سردار ته ئې وويل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- موږ د صدفي د مور د خوريی ننګو په کور کې یو؛ صدفي ته مو ډاکټر صاحب د ننګو کور ته راوغوښتی او صدفه ئي وليدله. د صدفي مور ويل، که ته خپله هم یو وار د ډاکټر سره ووينې، ښه به وي.

تاجو زياته کړه:

- د ډاکټرسره ستاسي تر ليدو وروسته به د خيره سره خپل کور ته ځو. ځکه ډاکټر دا هم و ويل، صدفه کور ته بوځئ؛ نوره دوا ورته په کار نه ده.

سر دار تاجو ته وويل:

- ښه، مازېګر درځم، ډاکټر به وګورم، اوس ستړي يم.

تاجو رخصت سو،مازېګر چې سردار د ډاکټر وليدو ته ورغلی، ډاکټر هغه خبري چې د صدفي مورته ئي کړي وي، سردار ته هم وکړې. سردار ډېر وغورېدی، په قهر سو، تر خوله یي چټيات ووتل. بيا يي وويل:

- زه به ور سره ګورم، دې (صدفي) څنګه دا خبره کړې ده.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر ورته وويل:

- سردار صاحب، هغي دا خبره نه ده کړې؛ زه يو ډاکټر يم، زه دا خبره درته کوم.

سردار وويل:

- که مي د ډېر وخت اشناى نه واى، تا هم والله که د ژوند څکه راڅخه کړې واى.

بيا ئي په قهر تاجو ته وويل:

- دوى در رهي که.

تاجو وويل:

- صاحب، اوس شپه ده، سهار وختي به حرکت وکوو.

په هر ډول چي و، بله ورځ کور ته ټول ولاړل. سردار هم لنډ په دوى پسي ور ورسيدئ.لاهغسي غوريږي. لور ئي چي د ده په نسبت هوښياره او ارامه نجلۍ وه، اوس نو پوهه هم سوه، چي مور ئي پر خوا ده. په کراره ئي خپل پلار ته وويل:

- پلاره، زه ناجوړه يم. ما دا خبره چي واده غواړم،هيڅا ته نه ده کړې. دا چي ډاکټر د خپلو تجربو د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې څه وايي، زما ګناه څه ده؟ زه ستاسي څخه هيڅ نه غـواړم؛ يـوازي دونـه وکـې چـي خپلـي نـاجوړې تـه پرېږدئ.پلار که ډېر راباندي په قهرئې په خونه کي مې قفل که، چي هيڅ راونه وځم. دا چي ستا نوم په ما بدېږی، ما مړه که چي نوم دي ښه سي.

د صدفي تر دې خبرو وروسته د صدفي پلار او مور څه نرم سول بيا ئې نو د څه وخت دپاره کوښښ کاوه، چي کور ته ښځينه ميلمنی راولی، ښه ډوډۍ ګاني پخې کړي. يا به د صدفي مور صدفه د خپلوانو او نورو شناخته ګانو کورونو ته بيوله، که ئې په دې کړوسره د لور فکر څه سم سي.

د صدفي مور او پلار په ګډه هر څه کوښښونه چي وکړل، ګټه ئې نه کوله. لور ئې ورځ تر بلی کمزورې کيدله، ډوډۍ به ئې نه خوړله، د چا سره ئې مجلس نه کاوه؛ هلته به ليري د ښځو څخه داسي په چورت کي ډوبه ناسته او يا پرته وه.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر وخت تېر نه سو، چي صدفي ته ټوخی هم پیدا سو.ټوله ورځ به ئې ټوخل او کله توده او کله به ئې سړه تبه کیدله. پلار ئې بیا ډاکټر ورته راوغوښتی. دا ځل چي ډاکټر راغلی، د صدفي پلار ته ئې وویل:

- لور دي په لوی لاس سل (توبرکلوز) کړه. ما خو درته وویل، چي دوا ګټه نه ورته کوي؛نورئې د قبر او هدیرې غم وخوره.

په دې ډول، ډاکټر یوازي خپل نظر ورته ووایه او بیرته ولاړ.

سردار چي د ډاکټر خبره واورېدله، حیرانی واخیستی، چي اوس څه وکړ؟ د ښځي سره ئې خبري وکړی. ښځي ئې ورته وویل:

- ما خو درته وویل، چي داسي ناروغي بل علاج نه لري. زما خبره دي نه منله، د خپلي سرداری او سرداري کورنۍ په نشه مست وي. اوس یي نو خدای ته پرېږده.

سردار خپلي ښځي ته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا يو کار بـه لا وکم؛ هغـه دا چـي خبـر سـوم، سليم د خپلو زامنو سره يو ځای ښار ته تللي دئ. د هغي  ورځي څخه ورک دئ. دا مانا چي دی هم په دي خبره خبر سوی دئ، چي د کلي  تللی دئ. زه به ښار ته په بنګ پسی ولاړ سم؛ مجبور يم چا ته څه پيسي ورکم، چي بنګ مړ کي کله چي د بنګ پـه مرګ صـدفه خبـره سـي، زړه بـه ئـي ځينـي پرې او صبر سي. وروسته به ئې  وخپل وراره تـه ورکم او ژر به ئې  ور واده کړم. ستا سره مي سلا کوله.

ښځی ئې  ورته وويل:

- سړيه! دسليم اکا د زوی بنګ  بيچاره پـه دې کـي څـه ګنـاه ده، چـي وژنـی ئـې؟ دغـه دلاس ګـوتي خـوږ سـوې، ناجوړه سو پـلار بيوزلـه ئـي ښـارته بوتـی، او کـه پـه بنګ پوهه سوې وي،هغه دئ کلـي  ئـي  پرېښـوئ.ته کـه د لـور ژوند غواړی، زما خو خوښه ده، چي بنګ پيدا که، صـدفه ورکړه؛ لور به دي جوړه سـي د بنـګ د قتـل د ګنـاه بـه هم خلاص سي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـردار خپلـي ښـځي تـه و خښـميدئ، بيـا يـي پـه قهـر وويل:

- دا يـوازي زمـا خبـره نـه ده؛ دلتـه د ټـولي سـرداري کورنۍ دعزت خبره ده، تا ته خوځکه زموږ د کورنۍ نوم څـه اهميت نـه لري.چي پـه ختـه زمـوږ نـه ئي،تـه دپـردې ټبره را واده سوې ئې.زه څنګه يوه خوار، غريب هلک ته لـور ورکـړم، چـي بيـا بـه زمـا تـر مـرګ وروسـته حـق غواړي. د سرداري کورنۍ پـه جايداد بـه شـريکيږي. لـور رابانـدې ګرانـه ده، خو نـه دونـه چـي پـه مځکو او ميـراث کي مي پردي را ګډ سي.

بيا يي زياته کړه:

- تـه وا، مـوږ چـي دا جايدادونـه پـه مفتـه سـاتلي دي. دغريب مرګ څـه دئ اوغم ئـي څـه؟؟؟ يـو څـو پيسـي بـه مي مصرف سي، بلا په پيسو، ولاړي دي سي.

*** *** ***



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار پر خپله خبره ټينګ و درېدئ. بلـه ورځ د کلـي څخـه ښـار تـه ولاړئ. اوس نـو سـردار ښـار تـه د سـليم د زوی بنګ په وژلـو پسـي د کلـي راغلـی دئ. پـه ښـار کـي ئې د خپلو باوری خپلوانو او پخوانيو اړيکو په مرسته ژر د پيسو په زور، دوه سړی وژونکی را پيدا کړل.

د سړو سره ئې د بنګ د وژلو بيه هم خلاصه کړه او نيمايی قيمت ئې وژونکو ته هم ورکی. تر هغه وروسته، د سليم اکـا د زوی عطـا محمد د دکـان پـه پيدا کولـو پسـې سو. دوی ورځې لا تيري نه وي، چي د عطـا محمد دکـان ئــې هـم پيـدا کــی. د سـليم اکـا مشـر زوی عطـا محمـد د نجاری دکان په بازار کي و.

سـردار بلــه ورځ هغـه د بنـګ د وژلـو دپـاره سـړی وژونکـی د ځانـه سـره رهـي کـړل؛ ځکـه د دوی تـر منځ قرارداد داسي و، چي سردار به نيمـی پيسـې مخکـي ورتـه سپاري او پاته د بنګ تر وژلو وروسته ورکول کيږی. بل شرط دا و، چي سردار به بنګ دوی تـه ورښـئی چي ويـي پيژنـي.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چې درې سره د عطا محمد دکان ته نژدې سول، سردار هغوی ته وویل:

- تاسې لږ لږ ودرېږی؛ زه دکان ته ورځم. تاسې راته ګورئ، زه بنګ درښیم. نور تاسې  پوه سه او کار مو، چې څنګه ئې وژنی.

سردار دکان ته ورغی، ګوري چې سلیم اکا هلته په دکان کې یوازې  کار کوي. سردار د عطا محمد د دکان په خوله کې ودرېدئ؛ سلام یې ور واچوئ. سلیم اکا سردار پر ږغ وپیژندئ؛ خپل د کار د ځایه ورته را ولاړ سو، د سردار ئې  ډېرعزت وکئ او د ناستې بلنه ئې ورکړه.

سردار چې مقصد ئې  د بنګ لیدل او خلګو ته وربنول و، او اوس په دکان کې هغه نسته، نو د سلیم اکا غوښتنه ئې  ومنله او کښېنستی.

سلیم اکا ژر چای ورته راوغوښتلې. په اول کې سلیم اکا فکر کوی، سردار صاحب به نو حتمي دلته په دې راغلی وي، چې دروازه یا کم (کوم) بل شی به ئې  په


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار وي. هغه بیوزله ژر ژر د کلیوالو او خپلو ملګرو په باب پوښتنې ځینې کولې. مګر، سردار داسې نا ارامه و.

سلیم اکا اشتباهي سو. بیا هم څه نه وائې، هغه لکه خوب چې وینې. د سردار راتلل، بیا څنګه د ده سره کښینستی او چای خوري. دا بیخي عجایب او نابلده خبره وه. هر څه ئې هیر سول. په دې وخت کې عطا محمد هم دکان ته راغی.

د عطا محمد چې سترګې پر سردار ومښتې، فکر یووړی، چې سردار څنګه زموږ غریبانو دکان ته راغلی دئ؟؟؟ په هرصورت، سلام ئې واچوئ. د سردار سره ئې روغبړ وکې، هلته ګوښه په خپل کار بوخت سو. غوږ ئې نیولی دئ، چې سردار به ئې پلار ته څه وائې؟

سردار د سلیم اکا څخه وپوښتل:

- ډېر وخت دي دلته په ښار کې تیر کی. ما ته داسې ښکاری چې کلي ته دي د راتلو نیت نسته. که زما خبره منې، ستا دپاره خو به په ښار کې ژوند ښه وي؛ مګر، د هلکانو دپاره ښار ښه ځای نه دئ. دلته په ښار کې هلکان



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر سپين سترګي کيږي. اول بد کار ئي دا دئ چي د مور او پلار په خبره نه وي.

وروسته ئي وويل:

- بنګ او کولی چيري دي، نه معلوميږي، درځخه تللي خو به نه وي؟

سليم اکا وويل:

- ښه سو، چي را په ياد دي کړل؛ زماهم په بنګ تشويش و، ستا سره په خبرو اخته سوم، هغه مي هير سو.

سليم اکا ور پسي زياته کړه:

- د بنګ پوښتنه دي وکړه، ته وده؛ سهارعطا محمد د بنګ سره تللي و.

هغه ته ئي ور ږغ کړل؛ عطا محمد ورته را نږدې سو:

- زويه، د بنګ کار څنګه سو؟

عطا محمد وويل:

- بابا، د شکر ځای دئ، بنګ په خيرسره ولاړئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي عطا محمد وويل، بنګ په خير ولاړی، ناڅاپه د سردار د لاسه د چايو پياله ولوېدله او بي اختياره يې تر خوله راووتل، چيري؟

عطا محمد پر را درسته کړل:

- بنګ سرکار کابل ته بوتی، چي هلته سبق ووايی.

سردار خو د اوله سره څخه هم داسي امانت ناست و؛ کله چي ئې د بنګ د تلو او بيا دا چي هغه سرکار بيولی دئ، واورېدل؛ ژر د ځايه ولاړ سو، او بې له خدای په اماني څخه روان سو. سليم اکا او عطا محمد لکه څنګ چي د سردار په راتلو سره په فکر کي و، اوس په بې پر وائې ولاړيدلو شکمن کړل.

زوی او پلار څو څو ځله دا خبره سره کوله: څنګه راغی او څنګه ولاړی؟ د را تلومطلب ئې څه و، او د ولاړيدو سبب ئې څه و؟ دواړه نه پوهيدل.

سردار چي د عطا محمد د دکانه څخه څه ليري سو، ورسره هغو سړو ته چي ده پيسي ورکړي وي او غوښتل ئې چي هغوی به بنګ ورته وژني؛ اوس چي بنګ نسته،



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار د دوی څخه د خپلو پیسو بیرته د ورکولو مطالبه لرله، او سړو نه دا چې هغه پیسې نه ورکولې، د پاته پیسو غوښتنه کوله.

سړي هم د سردار په اصلي مطلب نه دي خبر. هغوی سردار ته وویل:

ښه، چې بنګ نسته، پلار به ئې در ته ووژنو، یا به ئې دا بل زوی درته مړ کړو، پر تا ئې بیا څه فرق دئ؟ مطلب زموږ پاته پیسې به راکوې.

د سردار ټینګار زیات سو؛ خبره تهدید او بدو ویلو ته سره ورسیدله. سردار هغوی ته وویل:

- د حکومت په زور خپلې پیسې در څخه اخلم، بندیان کولای مو سم.

ربښتیا هم د سردار خبره حکومت اورېدله. د بنګ د قتل دپاره کرایه کړو جنایتکارانو فکر وکئ، چې سردار حتمې دوی ته مشکلات جوړوي او پیسې هم را څخه اخلي. نودوی دا ښه لاره وګڼله،پر موږ ئې څه فرق دئ راځه چې خپله سردار مړکو. هغوی همداسې وکړل.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار ئې پر سر په هغو ګولیو وویشتئ، چې سردار دوی ته د بنګ د وژلو دپاره ورکړي وې.

سمدستي په ټول ښار کي اوازه خپره سوه، چې د لوی کلي سردار نن په ښار کي دنامعلوم سړو لخوا وژل سوی دئ. ټولو حکومتي سړیو، یوی خوا او بلی خوا ته سره ځغستل. مازیګر چي کولی د مکتبه دکان ته راغی، پلار ته ئې دا خبره وکړه، چې نن هغه زموږ د کلي سردار په ښار کي چا وژلی دئ.

سلیم اکا او عطا محمد دواړه حیران سول، یو بل ته ئي وکتل. سلیم اکا و کولی ته وویل:

- زویه، هلته مي څه غوښي راوړي دي، هغه واخله، کور ته ځه؛ موږ هم پسي درځو.

کله چي کولی د دکانه ووتی، سلیم اکا عطا محمد ته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زويه، پر خوله لاس نيسه، هيڅا ته دي تر خوله ونه وځي، چي سردار زموږ دکان ته راغلی و، او يا موږ وليدئ.

*** *** ***

سبا ته حکومت د سردار د وژل کيدو په تور ډېر بې گناه خلک ونيول او په خورا درنو مراسمو ئې د سردار مړی تر کلي ورساوه.

کله چي د سردار جنازه کلي ته ورل کيده، سليم اکاعطا محمد ته وويل:

- زويه، زه به د سردار د مړي سره کلي ته ولاړ سم؛ يوې خوا ته به مي په جنازه کي برخه اخيستې وي، بلی خوا ته به هغه کليوال ووينم، ښه يي لا دا چي د هغي خوا به خپل کالي او سامان د يو چا په موټر کي واچوم او را به ئي وړم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عطا محمد هم دا خبره خوښه سوه. سليم اکا په جنازه پسې د خلګو سره يوه موټر ته پورته سو. جنازه کلي ته ورسيدل، سردار ئې خاورته وسپاره.

کليوالو د سليم اکا سره ډېر په مينه روغبړونه کول.

معلم مرجان سليم اکا خپل کور ته بوتئ د سليم اکا تلوار و، چي د ښاره د راغلو خلګو سره بيرته د هغوی په موټرونو کي ځان او خپل لږ کالي او سامان ورسوي. خو کليوالو سليم اکا پرې نه ښود، چي په هغه ورځ دي بيرته ولاړسي.

هلته د سردار په کور کي صدفه او د صدفي مور خبري سوې، چي سليم اکا هم هدېری ته راغلی دئ. دواړی دونه خوشحاله سوی، چي د سردار مرګ ئې هير سو. تاجو ته ئې وويل:

- سيلم اکا پيدا که، د نورو خلګو پټ ورتهووايه، چي د صدفي د مور په کار يی.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاجو راغی، سلیم اکا د معلم مرجان په کور کي و. خپله خبره ئي سلیم اکا ته په کراره وکړه. سلیم اکا په چورت کي سو؛ د ځانه سره ئي وویل:

- یا خدایه،ته فضل وکي!

سلیم اکا نه پوهیږي، چي د سردار ښځه به ده ته د ویلو څه لري. هغه تاجو ته وویل:

- ښه، اوس خو شپه ده، سهار به ئي سلام ته ورسم، فاتحه به هم ورکړم.

سلیم اکا ټوله شپه خوب و نه کی. ډول ډول فکرونه ورته پیدا کیدل. سهار یي معلم صاحب مرجان ته وویل:

- زه به یو ځل د سردارصاحب کور ته ورسم؛ ښه دي دا ښځو ته به ئي فاتحه ورکړم؛ ډېر کلونه مو سره تیر کړي دي. بیا به نو زه د خیره رخصت واخلم، او ځم به.

معلم صاحب سلیم اکا ته وویل:

نن شپه لا تیره که، ډېر خلک د ښاره څخه سبا فاتحي ته راځي؛ سبا سهار به دي د هغو سره په موټر کي واستوم. سامان به دي هم درسره ورسوي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سليم اکا وويل:

- ياره معلم صاحب، تا دي خداى ژوندى لري، هر وخت دي زما خدمت کړى دئ؛ زما سره خو څه نسته، په هر لمانځه کي دعاوى درته کوم؛ سمه خبره ده، زه به پاته سم.

***   ***   ***

سبا ته کله چي سليم اکا د سردار کور ته ور ننوتى، د سردار ټول کهول پر را تاو سو. سليم اکا يوه دعا وکړه، او وئي ويل:

- سردار صاحب ښه سړى و، خداى دي ئي وبخښي؛ تاسي دى خداى د نورو غمونو څخه په امان لري.

د صدفي مور د سليم اکا څخه پوښتنه وکړه:

- سليم اکا ښار ته ګډه کيږى؟

سليم اکا جواب ورکى:

- هو، بي بى. هلته هلکان عطا محمد مکتب ته واچول، ښه خو سرکار د نور زيات سبق ويلو دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل ته بوتی، ما او کولی ته دلته یوازې ژوند سخت و، هلته د عطا محمد سره اوسیږم.

د صدفي مور وپوښتي:

- بنګ جوړ و؟

سلیم اکا وویل:

- هو، شکر دئ جوړ و. هغه ګوتي چي ئې خوږ سوي وې، څو ورځي داسي ورسره زهیر و؛ مګر، د خدای فضل و، ښه سو، چي حکومت کابل ته واستاوه؛ ان شا الله هلته به نور هم ښه سي ،دريْ څلور کاله وروسته به په حکومت کي یوه ښه وظیفه پیدا کي.

د صدفي مور د سلیم اکا څخه د عطا محمد د دکان پته واخیستله، او سلیم اکا ته یي وویل:

- زه څو ورځي وروسته ښار ته درځم، بیا څه خبري درسره لرم.

د سلیم اکا نژدې و، چي تر خوله ووځی، چي سردار صاحب هم د مرګ په ورځ دکان ته یوځل راغلی و. هغه د صدفي مورته وویل:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خدای دي هرکله راوله.

نور سلیم اکا د سردار د کورنۍ څخه رخصت واخیستی.

بله ورځ سلیم اکا د معلم صاحب، بډي اکا او یتیم محمد اکبر په مرسته خپل پاته کالي او لږ سامان د ښاره راغلیو سړیو په موټر کي سره واچول. هغه د ټولو کلیوالو څخه رخصت را واخستئ او د خپل کور پر خوا را روان سو. مگر، بیا هم ډېر نا ارامه و. ټوله لاره ئې په سوچونو او چرتونو تیره کړه. یوه ورځ د عطا محمد د دکان مخ ته یوموټر ودرېدئ.

سلیم اکا ځیني راکښته سو. عطا محمد او کولی ورته راغلل. سامان ئې د موټره کښته کی. هغوی خوشحاله سول، چي پاته کالي او سامان ئې پلار را ورسول.

سلیم اکا د خپل مشر زوی سره دا خبره شریکه کړه، چي د خدای بخښلي سردار ښځي را ته وویل:

- زه ښار ته درځم، هلته څه خبري درسره کوم. زویه، خدای دی ئې خیر کی، چي څه به راته وائي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عطا محمد پلار ته وويل:

- فکر کوم چي د سردار د وژل کېدو په باب به کم چا څه ورته ويلي وي، يا به سردار چي زموږ دکان ته راغلی و، چا ليدلی وي؛ دغی ښخي ته به چا ويلي وئ.

سليم اکا او عطا محمد هره ورځ جلا جلا فکرونه کول.

په دې منځ کي ښه ډېر وختونه تېر سول. دا دئ يوه ورځ ډاګی د عطا محمد دکان ته يو خط راوړی. کولی چي خط وليدی، پر پلار او ورور ئې زېری وکئ، چي شکر دی د لالا( بنګ) مي خط راغئ.

سليم اکا او عطا محمد کښېنستل؛ کولی د بنګ خط خلاص کړ، سربېره پر خط بنګ خپل يو عکس هم ورته راستولی و. اول د بنګ عکس ټولو وکوت، سليم اکا وويل:

- ماشا الله دا خودا دئ ښاپسته ضابط ځيني جوړ سوی دئ. ځکه عکس په نظامی يونيفورم کي اخيستل سوی و. وروسته کولی د خط په لوستلو پيل وکئ.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګ په ښه او واضح خط سره تر ټولو مخکي خپل پلار ته ليکلی و:

- پلار جانه، لاسونه دي در مچوم؛ ستا سيوری دي زما د سره څخه پاک خدای نه ليري کوي ....

بيا ئي په ترتيب: عطا محمد، ورېنداری، کولی او ورېرو هريوته د محبته ډکی جملي ليکلي وي. په خاصه ئي د کولی څخه غوښتي و، چي ډېرپر خپلو سبقو زور واچوي.

د بنګ په روغتيا، خط او هوښيارو خبرو ټول خوشحاله سول؛ بيا ئي عکس هر يو جلا جلا وکتی، خو سليم اکا تر ټولو زيات. هغه عطا محمد ته ويل:

- ولچی (والله چي) په دي اول کال کي دا مکتب او مسافری مي زوی را هوښيار کړی دئ. زړه مي را ژوندی سو، خدای دي ئي د بدي ورځي راوساتي. څونه پخي خبري ئي کښلي وي. دا عکس او خط ئي نو نور ما ته را کی، زه ئي ساتم، ستاسي څخه ورک نه سي. سليم اکا د بنګ عکس او خط په خپل جيب کي وساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*** *** ***

دا دی یوه ورځ دکان ته دوی ښځې په چادریو کې ورننوتې. سلیم اکا او عطا محمد ته ئې سلام واچوی. یوې ښځې خپل مخ لڅ کی. سلیم اکا ولیدل، چې د صدفي مورده. ښه روغبړ ئې ورسره وکئ. ښځې ورته وویل:

- کور مو چیري دئ؟ شپه در سره تیروو!

سلیم اکا ورسره د دکانه راووتی. ښځې ئې خپل کور ته بوتلې. د سلیم اکا مړور(اینګور) د ښځو هر کلې وکئ. عطا محمد او کولی هم کور ته ورپه سې راغلل. د شپې غریبانه ډوډۍ ئې سره وخوړل. وروسته، د سردار ښځې او د صدفي مور خپل د ورتللو سبب سلیم اکا او عطا محمد ته داسې بیان کی:

- زه پدې راغلې چې دا نن ټوله کیسه تاسې ته وکړم، چې څنګه صدفه په بنګ پسې ناجوړه سوه.سردار ښار ته په څه پسې راغلی و؟



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوخدای څه ور پيښه کړل............کله چي د صدفي د مور خبري خلاصي سوې. سليم اکا او عطا محمد څه چي د هغې خپله لور صدفه هم داسي په چورتو کي ډوبه ولاړل. ځکه صدفه هم د خپل پلار پدې نيت نه وه خبره، چي هغه د بنګ د وژلو پلان لاره.

د صدفي مور بيا وويل:

- د دې ټولوخبرو څخه مي مطلب دا دئ، چي غواړم خپله لور ستا زوی بنګ ته ورکړم.

سليم اکا او عطا محمد هکی اريان سول. چي دوی څه ووايي،تر څه فکر کولو وروسته ورته سليم اکا په کراره ورته وويل:

- خوری، ستا ئي کور ودان؛ خو ته دا زموږ بي کوری او غريبی ته و ګوره؛ تاسي خو شکر الحمدالله د مځکو، باغو او پيسو خاوندان ياست. دا چي ته وائي صدفه بې له بنګ ژوند نه سي کولای، نو ما ته هم لږ وخت راکه؛ د بنګ د رخصتي ورځي را نږدې دي. هغه به په خير په رخصتي کور ته راسي، يوه پوښتنه بنه ده



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بـه هم وپوښتو.دغه دئ تـازه ئـې خط راغلـی دئ او عکس ئي هم راستولی دئ.

د صـدفي مـور د سلیم اکـا څخـه د بنـګ خط واخیستـه، وئې لوستی، بیا ئې د بنک عکس وکوت. ژر ئې صـدفي تـه ور ږغ کـړل؛ د بنـګ عکـس او خـط ئـې هغـې تـه ورکړل. صدفي هم د بنګ خط ولوستی او عکس خوئې د ځـان سـره واخیسـتی.صـدفه پـه زړه کـي خوشـحاله سـوه، ځکه بنګ نور هم ښایسته سوی و.

صدفی او د صدفي مور په هغه شپه خطونـه ولیکل او د بنګ په ادرس ئي هغه ته ور واستول.

سلیم اکـا د صـدفي د مـور سـره وعده وکړه، کلـه چـي بنګ پـه رخصتي د خیره سره کور تـه راسـي، د هغه پـه خوښه به دغه کار کوو.

سهار چـي د صـدفي مور او صـدفه د سلیم اکـا د کوره پـه خوشـحالی ووتلـي، تـر وتلـو مخکـي ئـې کـولی تـه څـه پیسي ورکړې، چـي د مکتـب دپـاره شیان پـه واخلـه. هغـې



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سليم اکا مړور او د عطا محمد ټولو اولادو ته يو څه پيسې اېښی وې. دصدفي مور د تللو په وخت کي وويل:

- موږ د خيره سره ژر راځو.

صدفه د بنګ په خط او د هغه د عکس په ليدو ډېره خوشحاله وه. هغي د بنګ عکس هر ځل کوت.

د صدفي مور څو شپې د خپلو نورو دوستانو په کورونو کي تيري کړې، او د سردار هغه کور چي په ښار کي و، او څوک په کرايه پکښي اوسيدل، د هغه د ورخالي کيدو خبره ئې هم وکړل. بيا نو مور او لور دواړه کلي ته ولاړل.

کله چي دوی کلي ته ورسيدل، اول د سردار د کورنۍ ښځي او بيا کليوالو چي صدفه وليدله، ټول حيران سول، چي صدفه په ښار کي څنګه ښه جوړه سوې ده. هر چا به د صدفي د موره پوښتل، چي کم ډاکټر ته دي ور وستله؟ کم ښه پير ته دي وروستله؟ چي دا سی ښه سم ئې جوړه کړه.

د صدفي مور حال نه وايه. هغي به دا يوه خبره کوله:



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په ښار کي ئې د دوستانو په ليدو سره فکر سم سو، شکر جوړه سوه.

*** *** ***

دلته د سردار په کور کي د سردار نازولي په سر پک زوی مشر سو، چي نه په کورنی ژوند پوهه و، او نه د کليوالو سره په تير او بير پوهيدئ.

د صدفي او مور ئې هم په دغه دبنو ډک کور کي گوذاره ورځ تر بلي سختيدله، نو ئې د بن زی او بنو ځخه د خپل حق د جلاوالي خبره را پورته کړه. دبني زی ئې خپله پلرگني ټوله را وغوښتل. د خپلي ميری او ميری زی خور غوښتنه ئې د دوی په منځ کي واچول.

د سردار ورونو د سردار پک زوی ته مشوره ورکړه، چي د صدفي مور خا مخا حق غواړي او درځخه جلا کيږي، دا غلطي دي پلار کړې ده، چي له پردو (بل قوم) ځخه ئې ځان ته ښځه وکړه. اوس مور ته را پيښه ده؛



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـوم د نامـه نـه پـرې کيږي، حق بـه ئـې ورکړو. خـو پـه جايداد، مځکو او باغونو او اوبو کې ئې نـه سو را سره شريکولای، چې دا او يـا د دې خپلـوان بـه زموږ د مځکو په منځ کې تناب کش کړي.

د هري ورځې تر زوکليدو، او هميشني غم څخه ښـه دا ده چې لاس ئې د غاړې وباسو. د هري خوا چې ئـې کوو، په نغدو به ئې غاړه وبا سو. موږ پـوهيږو، بـې لـه هغه هم دا زموږ سره نه کښيني، ښار ته ځي، او که خپلي پلرګنۍ ته ځان نږدې کوي. بس همدا مو فيصله ده. د شير اغا خبره ټولو ومنلـه. د صـدفي او مـور د حق حسـاب ئـې وکړ.

کلـه چـې ئـې د دوی دوو د مځکو او بـاغونو قيمت پـه خپل زړه وټاکۀ، بيا هم ډېري پيسې کيدلې. د سـردار پـک زوی وويل:

- اول خو زه دا دونه پيسې نه لرم؛ دوهم دونه پيسې نه ورکوم.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدفی او مور ئې په خبرو او مجلس کې برخه نه لرله.

بیا شیر اغا وویل:

- خیر دی، نیم قیمت به ئې ورکړو.

وروسته د سردار زوی د شیراغا خبره ومنله، او پر زیاته یې کړه، چې نیمی پیسې اوس او نیمی نوري پر کال چې حاصل واخلم.

پک ،غوښتل چي یوه بله لانجه جوړه کي هغه وویل:

- د صدفي مور ته به خپل حق ورکړو، اما صدفه نه پرېږدم، چي حق واخلی. هغه خو زموږ وینه ده. هغه به دلې دشیر اغا زوی ته ورکوو. دشیر اغاخو داخبره د اوله سره خوښه وه.وئې ویل دا خو ډېره ښه خبره ده ښه دئ چي زما په ژوندونی په خپل لاس خپله وریره را واده کم.

د صدفي میری زی ورور وویل:

- شیراغا! ته ښه وایی، خو زه فکر نه کوم، چي صدفه دي د موره را جلا سی. هغه هم خپلي مور ته



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوې ده. که زما خبره منې، هيڅ خپل د خولې خوند مه بده وه، مه ئې ور يادوه. که دي وريا ده کړه او وئې نه منله، خلک را خبر سول، بيا به ئې نو يا ودوو يا به ئې وژنو.

د ټولي کورنۍ ئې پر دی سلا سول، چې ميرى او خور ته د حق په نوم څه ورکړي. صدفي او مور ئې هم قناعت وکړ. هغو د خپل حق د نيمو پيسو د اخيستلو پر وخت د ښار د کور غوښتلو خبره وکړه.

د ښار پر سرای باندي ئې بن زی څه ټينګار وکئ؛ خو شير اغا فيصله وکړه، چې کور به درکړو، خو د پيسو برخه دی څه کموم. د صدفي مور د شير اغا خبره ومنله.

*** *** ***

صدفه او مور ئې ښار ته راغلي. څو شپې ئې د خپلي پلرګنی سره تيري کړې، چې کور ئې ورته خالي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو. پدې شپو کې بنګ هم د کابله په رخصتي کورته راغلی.

سلیم اکا بنګ ته د صدفي د ورغوښتلو خبره وریاده کړه.

بنګ ته خو هر څه روښانه و. ځکه صدفي او د هغې مور ځو خطونه وراستولي وو. بیا ئې هم پلار ته وویل:

- هرڅول چې بابا جانه ستا او د لالا (عطا محمد) خوښه وي.

سلیم اکا د خپل زوی بنګ پدې مودبانه جواب زیات خوشحاله سو.

*** *** ***

سبا، په ډاډه زړه باندي سلیم اکا، عطا محمد او څو سړی سره را ټول او د صدفي دوی کور ته ورغلل. د صدفي مور هم د خپلو دوستانو رضایت حاصل کړئ و. هغه ئې را غوښتی وو. خو د صدفي میره زی ورور او نور سرداران خوښ نه وو. ځکه د صدفي د شیرېنی د



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړی په مراسمو کې ئې برخه وانه خیستل دوي دا ځان اوخپلي کورنی ته یو توهین وباله،چي ځنګه دیوه سرداري کورنی نجلۍ دیوه غریب او(اُپره) سره واده کوي..

په هر ډول چي و، د صدفي د مور له خوا دوستانو، وسلیم کاکو او ورسره راغلو خلګو ته د صدفي شیرینی ورکړه.

د صدفي مور او صدفه پوهیدل، چي بنګ او پلار ئې خپل کور نه لري. نو له پخوا څخه ئي فیصله دا وه، چي په ښار کي به د خپل غټ کور یوه برخه د صدفي په نوم کوي، چي بنګ، پلار او ورونه ئې پکښي ژوند وکړي.

د صدفي د شیرینی د ورکړی سره سم، د صدفي مور د سلیم کاکو څخه غوښتنه وکړه، چي د خیره سره تیاري ونیسی، دغه زمونږ کور ته به را کډه سی. ښه دئ لور او زوم به مي په څنګ کي اوسیږي. زه بل داسي تیرونی دوست بي له دغه لور څخه نه لرم، او ته به هم د خپل زوی او مړور څخه لیري به نه ئې.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم اکا په خبرو کي داسي پښه ونیوله، فکر ئې وکړی، چي د صدفي مور غواړي، یوازي زه او بنګ د دوی کور ته را کډه سو. هغه وویل:

- خوري، زه عطا محمد، اولادونه او کولی زوی مي یوازي نه سم پرېښولای.

د صدفي مور بخښنه وغوښتله، او بیا ئې خپل خبره پوره کړه:

-زما مطلب داسي نه و، چي یوازي ته او بنګ به دلته اوسیږی، بلکي تاسي ټول به دلته یو ځای را سره اوسیږئ. زما او صدفي دواړو هیله دا ده چي صدفه د خپل خُسر او لیورو سره یو ځای وي، ځکه ښځه په خپله خُسرګنئ کي ښه وي. ان شا الله چي تاسي را کډه سئ، ژر به د بنګ او صدفي د واده سربښته وکړو. غریبي دې ځان وخوری. سلیم اکا د صدفي مور ته وویل:

- خوري، خبري به لځی کوو. ستاسي ئې کور اباد، چي خپله لور مو زما زوی ته مفته بې له ولوره راکړه. د واده کولو دپاره څه وخت را کړه، چي زه او عطا محمد



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـو څـو پيسـې سـره برابـري کـړو. واده خـو څـه لګښـت غواړی.

د صـدفې مـور سـليم کـاکو تـه اطمنـان ورکـړئ، چـې صـدفه غواړي، د خپل واده ټول لګښت پـه خپلـه وکړي؛ هر څه ئې را نيولی دي؛ ته بيغمه اوسه.

سليم اکـا او عطـا محمد ډېر خوشـحاله سول؛ رخصـت ئې واخيستی او خپل کور ته راغلل.دظلمه پـه امـان ژونـد ولری.

پای



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه ضمنی خبرتیا:

# انجمن د وستي افغانستان

## محبت ؛ گاهنامه"

## "mahabbat Anoneperiodical newsletter

## published by ADS

## (Afghan Dosty Society) UK




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شماره یکم سال هجدهم جولاي ۱۰۱۵م






www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**"محبت,ګاهنامه" دهغي نوم وتي افغاني مجلې نوم دئ چي د ليکوال،سياستوال ښاغلي محمدهمايون "تاج"په سر پرستۍ نژدې شل کاله په انګليستان کي په پښتو او درى ژبو باندي نشرات لري. يوه غيري وابسط،مجله ده، افغاني پاخه ليکوال، اديبان، شاعران، کيسه ليکونکي او دهر پند ماهيرين هلته خپل مضامين د نشر لپاره ورکوي.د هغي مجلي په (۶۰ او ۶۱)صفحو کي تردي سرليک لاندي "ديوه نوي کتاب معرفي اوخبرتيا " د ښاغلي "انځورګر" صاحب په قلم ليکنه نشر سوې ده.**



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






**همـــــــدا ډول د ښـــــــاغلي "انځورګر"صاحب لیکنه "**

**دیونـــوي کتـــاب معرفـــي او خبرتیـــا" دکندهارغښتلي یا نامیان. پـه جرمنـي کـي د (کــاخ ســخن)kakhe sokhan ارګـــانِ**



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نشراتی کانونِ فرهنگی افغانانِ مقیم ایالت بایون. یا"دباین دولایت دافغانانودکولتوري اوفرهنگـي مرکز"لخـوا پـه خپـل نشـراتي ارگـان ( مجلې): درشماره (۳۳/۳۴)،سال دوازدهــم تابســتان وخــزان ۱۳۹۴ خورشــیدی،(نوامبر ۲۰۱۵)م پـــه ۲۹/۳۰صفحه کي نشر کړې ده.**

زه د ښاغلي انځورگرصاحب د محبت د مجلې د محترم مسول همایون "تاج" اوهمکارانو اوپه جرمني کي د"کـاخ سخن" د مسول مدیر، وویراستار: دوستدار او دټولني دټولوغړوڅخه یو جهان مننه کوم.اود انځور گر صاحب لیکنه د لته ستاسي د لوستو دپاره کټ مټ رانقل کوم.

کوم چي زما پر کتاب د " **کندهار غښتلي**" باندي یې لیکلی ده.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ديوه نوې کتاب معرفي او خبر تيا!

انځورګر: 60 صفحه.

دکندهار غښتلي"ناميان "پدې وروستيوکي يو نوی کتاب «دکندهار غښتلي "ناميان" » په نامه. په بڼکلي صحافت د چاپه راوتلی دئ. د کتاب ليکوال ښاغلي عبدالقيوم دئ. دغه اثرچي په "۱۲۱" مخونو کي کښل سوی د ئ. د ليکوال د کلتوري زيارونو،ټولنيزو د ردونو،احساساتو او هيلو يو نوی ابتکاري او د اهميت وړ څيړنه ګڼل کيدای شي. په د ې ليکنه کي ډېري خبري شته. خو تر هر څه وړاندي. د دغه څيړني ټول محتويات او مطالب،د سيمي د ناميانو، ټينګانو، ميړنيو،غښتلو پيژندګلوی ته وقف دی. ليکوال د دغو غښتلو. با استعداده او انرژي لرونکي ځوان قشر، چي د استبدا د او ظلم په وړاندي د مقاومت کولو په ګناه او يا دا چي پر دوی باندي د کوم تپل شوي جرم په مقابل کي په پټه خوله په کلکه د رېدلي دي او ظالم او توطيه کونکي ئې د ماتي سره مخامخ کړي دي،نو دوی ئې بيا و زندانونو ته تيل



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلي دي. او هلته بيا د د سيسو او توطيو قربانيان شوي دي، پرده پورته کوي.

همدارنګه. ليکوال بيا د دغو ټينګانو ټولنيز، اخلاقي خويونه او د ټينګوالي د علتونو ځانګړتياوي د بيلابيلو شخصيتونو په وجود کي په ژوندی توګه بيانوي. مينه وال کوالي شي پورتنی خبري د کتاب په متن کي ولولي. ليکوال د کتاب د سيريزي په لومړي مخ کي ليکي: ځيني ليکوال. ليکني د تفسير لپاره کوي اوځوک ئې بيا د تغير لپاره ليکي. خو زه ئې د تغير او تفسير د واړو لپاره ليکم". د تفسيرڅخه مي مطلب دا دئ چي تر وسه د مسلي ښه وضاحت وسي. خلګ آګاه او خبر کړم. د تغير څخه مي مطلب د هغه منفي ذهنيت سمون دی چي د کندهار د غښتلو "پاي لوچو" په باب سرکاري سړو،پردو او پردوپرستو د کلونو کلونو را په ايسته د دوی د منفي تبليغ په وجه،زموږ د يو شمير وطندارانو، په خاصه د ښاري روشنفکرو په فکرونوکي ئې منفي ځاي نيولي د ی"

دغه ډيرنه، په لومړی سر کي ځکه د پام لرني وړده،چي ليکوال، له يوې خوا شخصاً په حوادثو او پيښو کي حضور لري اوله بلي خوا. ليکوال په کلک هوډ سره د اولس په موضع کي ولاړ دی. د ليکوال دغه ټولنيز د ريځ د کتاب اهميت او کيفيت ته ئې نوي په زړه پوري او د منلو وړ ګرځولی دئ.

په دې اساس که ليکوال له يوې خوا خلګ په پيښو او حوادثو خبروي او له بلي خوا وائی: "دا پرځان باندي د غښتلو حق بولم چي زه د دوی پيژندګلوې د خپل شناخت



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پيمانه وخلکو ته په ربښتني توګه وکړم او هم مسؤليت لرم هغه څه وليکم چي ليدلي مي دي. " بايد څرګنده شي چي د ښاغلي عبدالقيوم د دغه حاضر کتاب څخه وړاندي نورو ليکوالو اوپوهانو هم کار کړی دئ او اشارئي ليکلي دي او پخپله ليکونکي هم د يو شمير نورو ليکوالو نومونه په خپل دغه اثر کي ذکر کړي دي.

همدارنګه ښاغلي نوزادي هم په تقريظ کي د يو شمير پوهانو اوليکوالانو نومونه ئي يادکړي دي. خو اصلي خبره په دې کي ده چي يادشوي پوهان اوليکوالان چي په د ي اړوند ئې هرڅه ليکلي دي. د بيلا بيلو منا بعو،نقل قولونو،خاطراتو، رواياتو او په کتابونوکي ئې مندلي دي. خو پدي اړوند ښاغلي عبدالقيوم ځکه مستحق دی چي د ی پخپله شخصاً د ذکر سوو شخصيتونوسره يوځاي،په وارو وارو سره د زندان په سلولونو کي، په کلي والي ژوند کي،په نورو ولاړو او ناستو کي په بيخ او ريښه کي حضور او شناخت لري او خبري ئې د سند پر بنا ربښتني، معتبره او د منلو دي.

ښاغلي عبدالقيوم د کتاب په شلم مخ کي ودغي موضوع ته د اسي ايشاره کوي: " د تيرو پنځو سو کلونو په جريان کي،هغه د خپل وخت غښتلي چي ما ليدلي وه او ما ورسره ناسته لرل او بيا مي تر اوسه هغه څه چي زموږ د وستانو د غښتلو "پاي لوچو"په هکله ليکلي دي او لوستي مي دي،د غښتلو د کړونو،عاداتو او صفاتو سره مځکه تر آسمانه تفاوت لري.

د ټولو تيرو تاريخ ليکونکو او ليکوالو د معلوماتو منبع يا ماخذ يو دی چي نورو نقل کړی دئ. " د کتاب



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل اهمیت په دې کې دی چې لیکوال،ښاغلي عبدالقیوم د یو ټولنیز شخصیت په حیث د ټولني په منځ او موضع کې ولاړ دی. د ده په باور د ولسونو د تاریخ د څرخ حرکت د طبقاتي مبارزې پر بنا ټاکل کیږي. نه د نورو لاپو. شاپو او کاغذ بازیو پربنا !لیکوال وایی: که ولسونه مو نا لوستي نه وای او په خپل رسالت پوهه وای او خپل سیاسي،اقتصادي او ټولنیز تشکیلات ئې لرلای بیا نو حاکمیتونو د دوی پر برخلیک باندي لوبې نشوای کولای.

دکتاب بل د یادولو وړ اهمیت په دې کې دی چې لیکوال په دې اړوند ډېر ټولنیز مسائل مطرح کوي او هدف ئې دا دئ چې لوستونکي ته د مسؤلیت احساس ور کړي اولاربښونه کوي چې خپل د ژوند وچارو او تاریخ ته له سره نوې کتنه وکړي. لیکوال وائي: دا ځکه زموږ تاریخ یا زموږ د ولس تیر ژوند هغو کسانو لیکلی دی چې د وی د حاکمیتونو او جبارانو د فشار او استبدا د په وجه کولای نشو چې حقائق او تاریخي پیښې بې طرفانه وڅېړي او منفي خواوې ئې د جزئیاتو او علتونوسره روښانه کړي.

دمثال په ډول. لیکوال د کتاب په ۱۱ مخ کې لیکي: په خفگان سره د اسي یادونه کوي چې ډېره زیاته برخه د تاریخ مو همداسي جوړسو ...په پاي کې د خبرو لنډیز او نتیجه دا ده. چې دغه کتاب د هغو محقیقینو او څېړونکو لپاره چې غواړي په خاصه د دغه قشر "نامیانو" میرني، ټینگان یا غښتلي وپیژني او د دوی په د ردونو،محرومیتونو،په علتونو پوه شي او په دې اړوند په سیمه کې د کورني ژوند څخه نیولي بیا تر



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکتب،بازار،محبس،ماموریت،باغونو.،سماوارونو او د کوڅو بندارونو او لوبځایونو او کلتوري ژوند باندي،څیړنه وکړي یوغني او د لومړي لاس د ماخذ په توګه پوره ګټه تري اخیستلای شي.

پاته دي نه وي چي لیکوال د کتاب په وروستی مخ کي خپل غوښتن لیک د اسي وړاندي کوي " :یو غوښتنه ! راځی د خپلو غښتلو نوم ژوندی وساتو.د د وستانو او لوستونکو څخه هیله لرم چي د د غو څو جملو تر لوستلو وروسته. د دې لیکني د غنیتوب او بشپړ توب د پاره خپل انتقادات او معلومات راسره شریک کړی. ځکه د کندهار غښتلي زموږ او ستاسي غښتلي دي. ستاسي په مرسته به په د وهم ځل چاپ کي کمبودی پوره او ستاسي معلومات ستاسي په نوم پکښي زیات کړو .که چیري د پخوانیو یا اوسنیو غښتلو کیسي،خاطري او عکسونه ولري راته را ایمل کړي انشا الله په امانت د ارى به ئې چاپ کړم. ډېر د وستان به تر ما زیات او د قیق شناخت ولري. د غښتلو سره به خپلوۍ او د وستۍ لري. که هر د وست خپل معلومات را سره شریک کول غواړي. ایمل : Aqayum7@gmail.com



www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**